# د دوهم تواریخ کتاب

## سلیمان او د حکمت غوښتنه

(لومړی پاچاهان ۳: ۱ – ۱۵)

١ ١ د داود زوی سلیمان د خپلې پاچاهۍ واکمني ټینګه کړه،
ځکه چې خپل څښتن خدای یې ورسره مل ؤ او د هغه څخه یې ډېر
قوي پاچا جوړ کړ.

٢-٥ په هغه وخت کې د عبادت ځای لا په جبعون کې ؤ،
یعنې سپېڅلې خېمه چې د څښتن خدمتګار موسی په دښته کې جوړه
کړې وه. د خېمې په مخکې د قربانۍ برنجي ځای ؤ چې د اوري
زوی او د حور لمسي یعنې بصلییل جوړ کړی ؤ.

یوه ورځ سلیمان د اسراییلو قوم، د لښکرو افسرانو او قوماندانانو،
قاضیانو او د قوم او د کورنیو مشرانو ته وویل چې د عبادت هغه
ځای ته لاړ شي چې په جبعون کې ؤ. بیا سلیمان او نور خلک
څښتن ته د عبادت دپاره هلته لاړل. د عبادت ځای په جبعون کې ؤ،
که څه هم داود پاچا له پخوا نه د قریه یعاریم څخه د لوظ صندوق
هغې خېمې ته وړی ؤ چې د صندوق دپاره یې په اورشلیم کې
ودرولې وه. ٦ سلیمان د قربانۍ په برنجي ځای کې د خېمې په
مخکې زر خاروي د سوځېدونکو نذرانو په توګه وړاندې کړل.

٧ په هغه شپه خدای سلیمان ته ورښکاره شو او پوښتنه یې وکړه:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«سلیمانه! څه غواړې چې تاته یې درکړم؟»

۸ سلیمان په ځواب کې وویل: «تا تل زما د پلار داود سره ډېره
مینه ښودلې ده او اوس دې زه د هغه ځخه وروسته د پاچا په توګه
غوره کړم. ۹ ای ښښتنه خدایه، هغه وعده تر سره کړه چې زما د
پلار سره دې کړې ده. تا زه په یو داسې قوم باندې پاچا کړی یم چې
د زیاتوالي له امله د سیند د شګو په شان نه شمېرل کیږي. ۱۰ نو
ماته حکمت او علم راکړه چې په هغوی باندې د پاچاهي کولو دپاره
ورته اړتیا لرم. که نه، نو زه به څنګه وکولای شم چې ستا په دې
لوی قوم باندې پاچاهي وکړم؟»

۱۱ خدای په ځواب کې وویل: «سلیمانه، تا کولای شول چې زما
څخه شتمني او مال او دولت وغواړې، شهرت وغواړې، یا د خپلو
دښمنانو تباهي وغواړې یا د خپل ځان دپاره اوږد عمر وغواړې. خو
د دې په ځای دې د حکمت او علم غوښتنه وکړه، ترڅو په سمه
توګه زما په قوم باندې پاچاهي وکړې چې ته مې ورته غوره کړی
یې. ۱۲ نو زه به تاته حکمت او علم درکړم. همدارنګه به زه تاته
ډېره شتمني او ډېر عزت هم درکړم چې ستا څخه مخکې یا وروسته
هیڅ کوم پاچا نه درلودل او نه به یې ولري.» ۱۳ وروسته سلیمان د
جبعون د عبادت ځای نه چې د ښښتن سپېڅلي خېمه په کې ولاړه
وه، اورشلیم ته راستون شو او هلته یې په اسراییلو باندې پاچاهي
وکړه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د سلیمان شتمني

(لومړی پاچاهان ۱۰: ۲۶ – ۲۹)

۱۴ سلیمان خپلې جنګي قواوې چې د څوارلس سوه جنګي ګاډیو
او دولس زره اسونو نه جوړې شوې وې راغونډې کړې. یوه برخه
یې په اورشلیم او نورې یې په نورو ځانګړو ښارونو کې ساتلې.

۱۵ د هغه د پاچاهۍ په وخت کې سپین او سره زر په اورشلیم کې
د تیږو په شان عادي شیان وو او د سبر د ونو لرګي لکه د یهودا د
غرونو په لوېدیځو لمنو کې د انځرو د ونو په شان پرېمانه وو.

۱۶ د سلیمان سوداګرانو اسونه د مصر او ترکیې څخه راوستل.
شاهي سوداګرانو به هغه د ترکیې څخه اخیستل. ۱۷ هغوی به د
مصر څخه یوه جنګي ګاډۍ په شپږ سوه مثقاله سپینو زرو او یو اس
به یې په یوسلو پنځوس مثقاله سپینو زرو اخیستل. همدارنګه ځینې
به یې د حیتیانو او سوریایانو په پاچاهانو بېرته خرڅول.

## د څښتن د کور د جوړولو تیاری

(لومړی پاچاهان ۵: ۱ – ۱۸)

۲ ۱ سلیمان پرېکړه وکړه چې د څښتن په نوم د عبادت دپاره
یو کور او د خپل ځان دپاره یوه ماڼۍ جوړه کړي. ۲ هغه اویا زره
تنه د وداني د موادو د وړلو په کار او اتیا زره تنه یې د غونډیو څخه
د تیږو د پرېکولو په کار بوخت کړل. هغه درې زره شپږ سوه سرې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې دپاره غوره کړل چې د دغو کارګرانو د کار څارنه وکړي.

٣ سليمان د صور پاچا حيرام ته دا لاندې پيغام ورولېږه: «پخوا
کله چې زما پلار داود خپله ماڼۍ ودانوله، تاسو ورته د سبر د ونې
لرګي رسول. اوس يې ماته هم راولېږئ. ٤ ګورئ، زه د خپل
څښتن خدای په نوم يو کور ودانوم. زه يې وقفوم چې هلته
خوشبويي وسوځېږي او تل سپېڅلې ډوډۍ هغه ته وړاندې شي.
سوځېدونکې نذرانې به هر سهار او ماښام، د هر سبت په ورځ، د
نوې مياشتې په اخترونو او د نورو سپېڅلو ورځو په لړ کې زمونږ
څښتن خدای ته د هغه د عزت دپاره وړاندې شي. دا کارونه به تل
کيږي لکه څنګه چې څښتن اسراييلو ته امر کړی دی.

٥ هغه کور چې زه يې ودانوم هغه به ډېر لوی وي، ځکه چې
زمونږ خدای د نورو ټولو خدايانو څخه لوی دی. ٦ خو څوک
کولای شي چې خدای ته يو کور جوړ کړي؟ حتی دا اوچت او لوی
اسمانونه هم د هغه د اوسېدلو دپاره کوچني دي! زه چې څه کولای
شم هغه دا دي چې يو ځای جوړ کړم چې هغه ته په کې قرباني
وسوځول شي.

٧ اوس ماته يو داسې سړی راولېږه چې په نقش ويستلو کې او
همدارنګه د سرو او سپينو زرو، د برنجو او د اوسپنې په کار او د
بانجاني، سرو او اسماني رنګو ټوکرو په اوبدلو کې ماهر وي. هغه به
د يهودا او اورشليم د هغو کسبګرو سره يوځای کار کوي چې زما
پلار داود غوره کړي وو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ تاسو ماته يو څه د سبر، سروې او د نښتر د ونو لرګي راولېږئ.
زه پوهېږم چې تاسو داسې کارګران لرئ چې د لبنان د لرګيو په پرې
کولو کې ماهر دي. زما کارګران به هلته ستاسو د کسانو سره مرسته
کوي، ۹ ځکه چې د يو داسې لوی، پرتمين او د جلال نه ډک کور
د ودانولو دپاره به زه ډېرو لرګيو ته اړتيا ولرم. ۱۰ زه به ستا د
لرګيو پرې کوونکو ته دوه زره ټنه غنم ورکړم، په همدې اندازه
اوربشې به هم ورکړم، څلور لکه ليتره شراب او په همدې اندازه د
زيتونو تېل به ورکړم.»

۱۱ حيرام پاچا سليمان ته په ځواب کې يو ليک ورولېږه. هغه
داسې وليکل: «له دې امله چې څښتن د خپل قوم سره مينه کوي،
تاسو يې د هغوی د پاچا په توګه غوره کړي يئ. ۱۲ ثنا او صفت
دې وي د اسراييلو څښتن خدای ته چې د ځمکې او د اسمان خالق
دی! هغه داود پاچا ته يو داسې زوی ورکړی دی چې د حکمت
خاوند دی او د علم او د پوهې څخه ډک دی او اوس دا پلان لري
چې د څښتن دپاره کور او د خپل ځان دپاره ماڼۍ جوړه کړي.

۱۳ دا دی زه تاسو ته حورام آبي درلېږم. هغه يو ماهر او تجربه
لرونکی کسبګر دی. ۱۴ د هغه مور د دان د قبيلې څخه ده او پلار
يې د صور څخه دی. هغه په دې پوهېږي چې څنګه د سرو او سپينو
زرو، برنجو، اوسپنو، تيږو او لرګيو څخه شيان جوړ کړي. هغه د
بانجاني او اسماني او د سرو ټوکرو او کتان سره کار کولای شي. هغه
د هر ډول نقش کار کولای شي او د هر ډول نقشونو ورانديز چې
ورته وشي هغه يې جوړولی شي. پرېږدئ چې هغه ستاسو د ماهرو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کارګرانو او د هغو کارګرانو سره کار وکړي چې ستاسو د پلار يعنې
داود پاچا دپاره يې کار کاوه.

۱۵ نو مونږ ته هغه غنم، اوربشې، د زيتونو تېل او شراب راولېږئ
چې تاسو يې وعده کړې وه. ۱۶ مونږ به د لبنان په غرونو کې
ستاسو د اړتيا وړ ونې ووهو، هغه به د يو بل سره وتړو او په درياب
کې به يې لاهو کړو چې تر يافا پورې ورسيږي. د هغه ځای نه يې
تاسو کولای شئ چې اورشليم ته يوسئ.»

## د خدای د کور جوړېدل شروع کيږي

۱۷ سليمان ټول هغه پردي خلک وشمېرل چې په اسراييلو کې
اوسېدل لکه څنګه چې د هغه پلار داود شمېرلي وو او د هغوی ټول
شمېر يو لک او دري پنځوس زره او شپږ سوه تنه وو. ۱۸ هغه اويا
زره تنه د ودانۍ د موادو د وړلو په کار او اتيا زره تنه يې د غونډيو
څخه د تيږو د پرېکولو په کار بوخت کړل. هغه درې زره او شپږ سوه
تنه نور د دې دپاره غوره کړل چې د کارګرانو د کار څارنه او په
خلکو باندې کار وکړي.

## سليمان او د ښبنتن د کور جوړول

(لومړی پاچاهان ۶: ۱ – ۳۸)

۱-۲ سليمان د ښبنتن د کور جوړول د خپلې پاچاهۍ د
څلورم کال په دوهمه مياشت د اورشليم د موريا په غره باندې پيل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړل. داود همدا ځای د عبادت ځای په توګه ټاکلی ؤ. هغه ځای یو وخت د یبوسي ارونه درمند ځای ؤ، یعني هغه ځای چې ښتن د هغه پلار، داود ته ورښکاره شو.

٣ هغه بنیاد چې سلیمان د خدای د کور دپاره کېښود اووه ویشت متره اوږد او نهه متره پلن ؤ. ٤ د کور مخې ته یوه برنډه وه چې سور یې نهه متره او لوړوالی یې څلورپنځوس متره ؤ. د برنډې منځني دېوالونه په سوچه سرو زرو پوښل شوي وو.

٥ سلیمان د کور د اصلي سالون منځني دېوالونه اول د سروې په لرګیو او بیا یې په ښه سرو زرو وپوښل او د خرما د ونو په نقشونو او په داسې نقشونو باندې یې سینګار کړل چې د زنځیرونو په شان ښکارېدل. ٦ هغه د کور په سینګارولو کې د قیمتي تیږو څخه کار واخیست. همدارنګه یې د سرو زرو څخه چې د فروایم څخه راوړل شوي وو، ٧ د چت د تیرونو، د دروازو او د هغو د چوکاټونو او د دېوالونو په پوښولو کې کار واخیست. سلیمان د اسماني مخلوقاتو نقشونه هم په دېوالونو کې وویستل.

٨ دېر سپېڅلی ځای نهه متره اوږد او نهه متره پلن ؤ او دا د کور پوره پلنوالی ؤ. د دې ځای د دېوالونو په پوښولو کې د شلو ټنو څخه زیات ښه سره زر ولګېدل. ٩ د هر مېخ په جوړولو کې د نیم کیلوګرام نه زیات سره زر ولګېدل او د پاسنیو کوټو دېوالونه هم په سرو زرو وپوښل شول.

١٠ سلیمان د اسماني مخلوقاتو دوه مجسمې جوړې کړې د دې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره چې په ډېر سپېڅلي ځای کې یې کېږدي. بیا یې هغه په سرو زرو باندې وپوښلې. ۱۱-۱۳ هغه هلته ښنګ په ښنګ ولاړې وې او مخونه یې د عمومي سالون خواته وو. هرې یوې یې دوه دوه وزرونه درلودل، هر وزر یې دوه متره او شل سانتي اوږد ؤ او دا دومره خپاره شوي وو چې د کوټې په منځ کې په یو بل باندې لګېدل او د کوټې دېوالونو ته رسېدل او د نهو مترو په پلنوالي سره غزېدلي وو.

۱۴ یوه پرده د ښه کتان څخه جوړه شوې وه چې په اسماني، بانجاني او سرو ورېیو اوبدل شوې وه او د اسماني مخلوقاتو د نقشونو ګلدوزي په کې شوې وه.

## دوه برنجي ستنې

(لومړی پاچاهان ۷: ۱۵ – ۲۲)

۱۵ د کور د دروازې د خولې دپاره دوه ستنې جوړې شوې. هره یوه یې شپاړس متره لوړه وه او په سرونو باندې یې تاجونه وو چې دوه متره او شل سانتي لوړ وو. ۱۶ د هغو ستنو سرونه د جالۍ په شان د زنځیرونو په نقشونو او په سلو برنجي انارو باندې سینګار شوي وو. ۱۷ سلیمان یوه ستنه د کور د دروازې جنوب خواته ودروله او د یاکین په نوم یې یاده کړه. بله یې د دروازې شمال خواته ودروله او هغه یې د بوعز په نوم یاده کړه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خدای د کور دپاره سامان

(لومړی پاچاهان ۷: ۲۳ – ۵۱)

۴ ۱ سلیمان د برنجو څخه د قربانۍ ځای جوړ کړ چې اندازه
یې نهه متره مربع او لوړوالی یې څلورنیم متره ؤ. ۲ هغه د برنجو
څخه یوه ګرده ټانکۍ هم جوړه کړه چې ژوروالی یې دوه متره او شل
سانتي، قطر یې څلورنیم متره او ګردچاپېر یې دیارلس نیم متره ؤ.
۳ د ټانکۍ د غاړې ګردچاپېره په دوو قطارونو کې لاندې او
باندې ښکلي کړای شوې وه. دا ښکلا د غويانو په شکل وه او د
ټانکۍ د نورو برخو سره یوځای قالب شوي وو.

۴ ټانکۍ د دولسو برنجي غويانو په شا باندې ولاړه وه چې درې
یې شمال ته، درې یې جنوب ته، درې یې ختیځ ته او درې یې
لوېدیځ ته مخامخ وو. ټانکۍ د هغو دپاسه وه او د هغو سرونه بیرون
خواته وو. ۵ د هغه پنډوالی پنځه اویا ملي متره ؤ او څنډه یې د
جام د څنډې په شان وه، لکه د سوسن د غوړېدلي ګل په شان. په
دې ټانکۍ کې د شپېته زرو لیترو نه زیاتې اوبه ځایېدلې.

۶ هغه لس تشتونه هم جوړ کړل چې پنځه دانې یې د کور جنوب
خواته کېښودل شي او پنځه شمال خواته. د هغو څخه به د داسې
حیواناتو د بدن د برخو په کنګالولو کې کار اخیستل کېده چې د
سوځېدونکو نذرانو دپاره وو. په ټانکۍ کې اوبه د کاهنانو دپاره وې
چې د ځان د وینځلو دپاره ورڅخه کار واخلي.

۷ د پلان سره سم لس د سرو زرو څراغدانونه هم جوړ شول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سليمان دا ځراغدانونه د خدای د کور په منځ کې کېښودل. هغه د
اصلي سالون دواړو خواوو ته پنځه، پنځه داني ځراغدانونه کېښودل.
٨ هغه لس مېزونه هم جوړ کړل او په اصلي سالون کې يې
کېښودل، يعنې دواړو خواوو ته يې پنځه، پنځه مېزونه کېښودل. بيا
هغه د سرو زرو شخه سل داني د وينې د شيندلو کاسې هم جوړې
کړې.

٩ سليمان د دوه حوېليو د جوړولو حکم ورکړ: يوه کوچنۍ
حوېلۍ چې يوازې کاهنان ورڅخه کار واخلي او يوه لويه حوېلۍ. د
دې حوېليو دروازې په برنجو پوښل شوې وې. ١٠ ټانکۍ د کور
جنوب ختيځ کنج ته نژدې ځای په ځای کړای شوه.

١١ حورام همدارنګه تشتونه، بېلچې او د وينو د شيندلو کاسې
جوړې کړې.

نو حورام هغه کارونه پای ته ورسول چې د سليمان پاچا دپاره يې د
خدای د کور په خاطر په خپله غاړه اخيستي وو:

١٢ دوه ستنې
د ستنو په سر باندې د کاسو په شان دوه تاجونه
د جاليو دوه سېټونه، د ستنو په سر باندې د کاسو په شان
دوه تاجونه د سينګارولو دپاره
١٣ د دوو سېټونو جاليو دپاره څلور سوه برنجي انار. (د
هرې جالۍ دپاره د برنجي انارو دوه قطارونه چې د ستنو په
سر باندې د کاسو په شان تاجونه د ښکلا دپاره وو.)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ هغه ګاډی د هغو د تشتونو سره هم جوړې کړې
۱۵ ټانکی او د هغې لاندې دولس برنجي غويان
۱۶ د سرو ايرو دپاره لوښي او همدارنګه بېلچې او د غوښې قاشق پنجې

د ښښتن د کور ټول سامان چې حورام د سليمان پاچا دپاره جوړ کړی ؤ، د صيقل شويو برنجو څخه ؤ.

۱۷ دا شيان پاچا د اردن په دره کې د سوکوت او صريده ترمنځ د خاورې په قالبونو کې جوړ کړي وو.
۱۸ دومره ډېر شيان جوړ شول چې هېچا د هغو برنجو ټول وزن معلوم نه کړ چې ورڅخه کار اخيستل کېده.

۱۹ همدارنګه سليمان د خدای د کور دپاره ټول سامان جوړ کړ: د قربانۍ ځای د سرو زرو څخه او مېزونه چې هغه سپېڅلې ډوډۍ به ورباندې اېښودل کېدله چې خدای ته به نذرانه کېدله.
۲۰ د سوچه سرو زرو څراغدانونه او څراغونه چې د پلان سره سم به د ډېر سپېڅلي ځای په مخکې بلېدل؛
۲۱ د ګلانو نقشونه، څراغونه او انبورونه – ټول د سوچه سرو زرو؛
۲۲ د سوچه سرو زرو د پلتې پاکوونکي، د وينو د شيندلو کاسې، د خوشبويۍ پشقابونه او د اور لوښي. د خدای د کور ډېر سپېڅلي ځای او د اصلي سالون دروازې هم د سرو زرو څخه تياري شوې.

۵ ۱ کله چې سليمان پاچا د ښښتن د کور ټول کارونه پای ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورسول، بیا سلیمان هغه شیان یعنې سپین او سره زر او نور سامان
چې د هغه پلار داود ښبنتن ته وقف کړی ؤ، هغه یې د خدای د کور
په خزانو کې کېښود.

## د خدای کور ته د لوظ صندوق راوړل

(لومړی پاچاهان ۸: ۱ – ۱۳)

۲ وروسته بیا سلیمان د اسراییلو سپین ږیري، د قبیلو ټول مشران
او د اسراییلو د طایفو رئیسان اورشلیم ته راوغوښتل چې د ښبنتن د
لوظ صندوق د صهیون یعنې د داود د ښار څخه د خدای کور ته
یوسي. ۳ هغوی ټول په اوومه میاشت د جونګړو په اختر کې د
پاچا په حضور کې راغونډ شول. ۴ کله چې د اسراییلو ټول
سپین ږیري راغونډ شول، لاویانو د لوظ صندوق پورته کړ ۵ او
هغه یې د خدای کور ته یوړ. کاهنانو او لاویانو هم د ښبنتن
سپېڅلې خېمه او د هغې ټول سپېڅلی سامان د خدای کور ته راوړ.
۶ سلیمان پاچا او د اسراییلو ټول قوم د لوظ د صندوق مخې ته
راغونډ شول او دومره ډېر پسونه او غویان یې قرباني کړل چې نه
شمېرل کېدل.

۷ کاهنانو د ښبنتن د لوظ صندوق خپل ځای ته چې د خدای په
کور کې ؤ، یعنې دننه ډېر سپېڅلي ځای ته راوړ او هغه یې د اسماني
مخلوقاتو د وزرونو لاندې کېښود. ۸ اسماني مخلوقاتو خپل
وزرونه په هغه ځای باندې چې هلته د لوظ صندوق ؤ، خپاره کړل.
هغوی په صندوق او د هغه په وړونکو میلو باندې سیوری واچاوه.
۹ میلې دومره اوږدې وې چې د هغوی سرونه د خدای د کور د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اصلي سالون څخه چې ډېر سپېڅلي ځای ته مخامخ ؤ لیدل کېدلې، خو د کوم بل ځای څخه نه لیدل کېدلې. هغه میلې تر نن ورځې پورې په هغه ځای کې دي. ۱۰ د لوظ په صندوق کې بل هېڅ شی نه ؤ، پرته د تیږو د هغو دوو لوحو څخه چې موسی د سینا په غره کې په هغه کې ایښې وې، چېرته چې څښتن د اسراییلو د خلکو د مصر څخه د وتلو وروسته د هغوی سره لوظ وکړ.

۱۱-۱۳ د هرې ډلې کاهنانو خپل ځانونه پاک کړي وو. ټولو لاوي ساز غږوونکو یعنې اساف، هیمان، یدوتون او د هغوی زامنو او خپلوانو د ښه کتان کالي اغوستي وو. هغوی د قربانۍ د ځای ختیځ خواته ولاړ وو او تالونه، چنګونه او ربابونه یې غږول. د دغو ساز غږوونکو سره یوسلو شل کاهنان وو او سرني یې غږول.

سندرغاړو په پوره ډول د سرنیو، تالونو او ربابونو سره څښتن ته د ستاینې داسې سندرې ویلې:

څکه څښتن دی نېک

ده ابدي د هغه مینه

د کاهنانو د تګ سره سم د څښتن کور ناڅاپه د ورېځو څخه ډک شو. ۱۴ کاهنانو د ورېځې له امله ونه شو کولای چې خپل خدمت تر سره کړي، ځکه چې د څښتن کور د هغه د جلال نه ډک شوی ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## قوم ته د سلیمان وینا

(لومړی پاچاهان ۸: ۱۲ – ۲۱)

۶ ۱ بیا سلیمان دعا وکړه: «څښتنه، تا ویلي دي چې زه به په
توره تیاره کې اوسېږم. ۲ ستا دپاره مې یو پرتمین کور جوړ کړی
دی، داسې ځای چې د تل دپاره په کې واوسېږې.»

۳ هغه وخت چې د اسراییلو خلک په هغه ځای کې ولاړ وو،
پاچا خپل مخ د هغوی خواته راواړاوه او د خدای څخه یې هغوی ته
برکت وغوښت. ۴ بیا هغه وویل: «ثنا دې وي د اسراییلو څښتن
خدای ته! کومه وعده چې هغه زما د پلار داود سره کړې وه، هغه یې
سرته ورسوله. څښتن هغه ته ویلي وو: ۵ ‹له هغه وخت راهیسې
چې ما خپل قوم د مصر څخه راوویست، ما د اسراییلو په کومې
قبیلې کې هېڅ یو ښار غوره نه کړ چې په هغه کې دې زما دپاره کور
جوړ شي او زما عبادت دې په کې وشي. نه مې څوک د دې دپاره
غوره کړی دی چې زما د قوم یعني د اسراییلو مشري وکړي. ۶
خو اوس مې اورشلیم د داسې ځای په توګه غوره کړی دی چې زما
عبادت په کې وشي او ما داود غوره کړی دی چې زما په قوم باندې
پاچاهي وکړي.›»

۷ بیا سلیمان وویل: «دا زما د پلار هیله وه چې د اسراییلو د
څښتن خدای د عبادت دپاره یو کور جوړ کړي. ۸ خو څښتن
هغه ته وویل: ‹ستا هیله په ځای وه چې غوښتل دې زما د عبادت
دپاره یو کور جوړ کړې، ۹ خو ته به هغه جوړ نه کړې، بلکې ستا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل زوی به زما کور جوړ کړي.›

۱۰ نو هغه وعده چې څښتن کړې وه، هغه يې سرته ورسوله. زه د
خپل پلار داود په ځای پاچا شوم او اوس د اسراييلو په تخت باندې
ناست يم او د اسراييلو د څښتن خدای د عبادت دپاره مې کور جوړ
کړی دی. ۱۱ ما د خدای په کور کې د لوظ صندوق ايښی دی. په
هغه کې د څښتن د لوظ د تيږو لوحې دي، يعنې هغه لوظ چې د
اسراييلو د قوم سره يې کړی ؤ.»

## د سليمان دعا

(لومړی پاچاهان ۸: ۲۲ – ۵۳)

۱۲ بيا سليمان د څښتن د قربانۍ د ځای مخې ته د اسراييلو د
غونډې په مخکې ودرېده او خپل لاسونه يې د دعا په خاطر پورته
کړل. ۱۳ سليمان يو برنجي منبر جوړ کړی ؤ او د حوېلۍ په منځ
کې يې ايښی ؤ. هغه دوه متره او شل سانتي مربع ؤ او لوړوالی يې يو
متر او دېرش سانتي ؤ. هغه دې منبر ته ورپورته شو او په داسې
ځای کې په ګونډو شو چې د اسراييلو ټولې غونډې ليدلی شو، خپل
لاسونه يې د اسمان خواته پورته کړل ۱۴ او دعا يې وکړه: «ای د
اسراييلو څښتن خدايه، په اسمان او ځمکه کې ستا په شان خدای
نشته! ته د خپلو خلکو سره په خپل لوظ باندې ټينګ ولاړ يې او
هغوی ته چې د زړه له کومې ستا اطاعت کوي، خپله تلپاتې مينه
ښکاره کوې. ۱۵ هغه وعده چې تا زما د پلار يعنې خپل خدمتګار
داود سره کړې وه، هغه دې نن تر سره کړه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ نو اوس ای د اسراییلو ښبښتن خدایه! زه دعا کوم چې ته هغه
بله وعده هم سرته ورسوې چې زما د پلار سره دې کړې وه او ویلي
دې وو: که ستا اولاده ستا په شان په غور سره زما شریعت او
حکمونه په ځای کړي، نو تل به د هغوی څخه یو یې د اسراییلو پاچا
وي. ۱۷ نو اوس، ای د اسراییلو ښبښتن خدایه! د هر شي وعده
چې تا د خپل خدمتګار داود سره کړې وه، هغه دې رښتیا شي.

۱۸ خو ای خدایه، ایا ته په رښتیا سره کولای شې چې د خلکو په
منځ کې په ځمکه ژوند وکړې؟ حتی ټول اسمانونه دومره لوی نه دي
چې ته په کې ځای شې، نو څنګه به وکولای شې چې په دې کور
کې چې ما ستا دپاره جوړ کړی دی، واوسېږې؟ ۱۹ بیاهم ای زما
ښبښتن خدایه، د خپل خدمتګار دعا او هغه زارئ چې ستا د رحم
دپاره یې کوي، قبولې کړه. هغه فریاد او دعا واوره چې ستا خدمتګار
یې ستا په حضور کې کوي. ۲۰ په دې کور باندې شپه او ورځ
خپل نظر وساته. تا وعده کړې ده چې دا هغه ځای دی چې ستا
عبادت به په کې وشي. نو هرکله چې زه خپل مخ دې کور ته اړوم او
دعا کوم، هغه دعا قبوله کړه! ۲۱ د خپل خدمتګار او د خپل قوم
اسراییلو زارئ چې د دې کور خواته یې کوي، واوره. د خپل
استوګنځي یعنې د اسمان څخه یې واوره او مونږ وبخښه.

۲۲ کله چې یو سړی د بل سړي په وړاندې په ګناه کولو باندې
تورن شوی وي او هغه د خدای د کور د قربانئ ځای ته راوستل شي
او دا قسم وخوري چې هغه بې ګناه دی، ۲۳ ای ښبښتنه، په اسمان
کې یې واوره او د هغوی ترمنځ قضاوت وکړه. ګناهکار ته داسې سزا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړه چې د هغې وړ وي او هغه څوک چې بې ګناه وي، نو هغه ازاد
کړه.

۲۴ کله چې ستا قوم اسراییل د هغې ګناه له امله چې ستا په
وړاندې یې کړې وي د دښمن له خوا ماتې وخوري او کله چې
هغوی بېرته ستا خواته راوګرځي او په دې کور کې تاته دعا او د
بخښنې دپاره زارۍ وکړي، ۲۵ په هغه وخت کې په اسمان کې هغه
دعا او زارۍ قبولې کړه. د خپل قوم اسراییلو ګناه وبخښه او هغوی
بېرته هغې ځمکې ته راوله چې هغوی او د هغوی نیکونو ته دې
ورکړې وه.

۲۶ فرض کړه د خپل قوم د ګناه له امله چې ستا په وړاندې یې
کړې وي باران ودروې. کله چې هغوی د دې کور په لور دعا وکړي
او ستا د نوم ثنا او صفت وکړي او د خپلې ګناه نه توبه وباسي، ځکه
چې تا هغوی ته سزا ورکړې ده، ۲۷ نو بیا د هغوی دعا په اسمان
کې واوره او د خپل قوم اسراییلو یعنې د خپلو خدمتګارانو ګناهونه
وبخښه. هغوی ته د ژوند سمه لاره وروښایه او په هغه ځمکه باندې
چې تا خپل قوم ته د ملکیت په توګه ورکړې ده، باران ووروه.

۲۸ کله چې په هېواد باندې قحطي، وبا، د غلو دانو په فصل
سوځېدونکی باد یا مرض یا د ملخانو حمله راشي یا د هغوی
دښمنان د هغوی ښارونه کلابند کړي، هره بلا یا مرض چې راشي،
۲۹ د هغوی دعاګانې او زارۍ واوره. که چېرې ستا د قوم اسراییلو
څخه یو څوک د غم او مصیبت په وخت کې خپل لاسونه د دې کور
خواته ته پورته کړي، ۳۰ د هغه دعا واوره. خپل د اوسېدلو په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځای یعنې په اسمان کې هغه ته غوږ ونیسه او هغه وبخښه. یوازې ته
د انسان د زړه څخه خبر يې. د هر سړي سره داسې رويه وکړه څنګه
چې د هغې وړ وي، ٣١ ترڅو ستا خلک ټول ژوند په هغې ځمکې
کې چې تا زمونږ نیکونو ته ورکړې وه، ستا عزت او اطاعت وکړي.

٣٢ کله چې یو پردی سړی د کوم لیرې هېواد څخه چې ستا لوی
نوم او شهرت يې اورېدلی وي او ستا د قدرت او لويو کارونو څخه
خبر شوی وي، راشي او د دې کور خواته دعا وکړي، ٣٣ نو د
اسمان څخه چې ستا د اوسېدلو ځای دی د هغه دعا قبوله کړه او
هرڅه چې هغه سړی درڅخه غواړي ورته ورېې کړه. په دې ډول به
د ټولې نړۍ قومونه ستا د خپل قوم اسراييلو په شان تا وپېژني، ستا
څخه ووېرېږي او په دې باندې به پوه شي چې دغه کور چې ما جوړ
کړی دی، ستا په نوم يادېږي.

٣٤ کله چې ته خپل قوم لېږې چې د خپلو دښمنانو سره د جګړې
دپاره لاړ شي او هغوی که هر چېرې وي، بيا د هغه ښار خواته چې
تا غوره کړی دی او د دې کور په طرف چې ما ستا د عبادت دپاره
جوړ کړی تاته دعا وکړي، ٣٥ د هغوی زارۍ او دعاګانې واوره. د
اسمان څخه د هغوی دعاګانې قبولې کړه او هغوی ته بری ورکړه.

٣٦ کله چې ستا قوم ستا په وړاندې ګناه وکړي – او داسې څوک
نشته چې ګناه ونه کړي – او ته په هغوی په قهر شې، پرېږدې چې
دښمنان هغوی ته ماتې ورکړي او هغوی يو بل هېواد ته که هغه نژدې
وي يا لېرې د اسيرانو په توګه بوځي، ٣٧ نو د خپلو خلکو زارۍ
او دعاګانې واوره. که هغوی د اسيرتوب په هېواد کې توبه وباسي،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاته زارۍ وکړي او دا اقرار وکړي چې هغوی څومره ګناهکار او بد
عمله دي، نو ای څښتنه! د هغوی زارۍ او دعاګانې قبولې کړه. ٣٨
که چېرې هغوی په هغه هېواد کې په رښتیا او اخلاص سره توبه
وباسي او د هغه هېواد چې تا زموږ نیکونو ته ورکړی دی، هغه ښار
چې تا غوره کړی دی او د دې کور خواته چې ستا دپاره مې جوړ
کړی دی، خپل مخونه واړوي او تاته دعا وکړي، ٣٩ نو هغه وخت
د هغوی زارۍ او دعاګانې واوره. په اسمان کې چې ستا د اوسېدلو
ځای دی، هغه قبولې کړه. د هغوی سره مرسته وکړه او د خپل قوم
ټول ګناهونه وبخښه.

٤٠ اوس ای زما خدایه، موږ ته وګوره او په دې ځای کې زموږ
دعاګانو ته غوږ ونیسه او قبولې یې کړه. ٤١ ای څښتن خدایه،
اوس راپورته شه او د لوظ د صندوق سره چې ستا د قدرت نښه ده،
خپل کور ته راشه او هلته تر ابده پورې اوسه. زه دعا کوم کله چې د
خلکو د ژغورلو دپاره کاهنان ستا د قدرت اعلان وکړي، څوک چې
تاته وفاداره دي د هغه کار دپاره به خوشحالي وکړي چې تا د هغوی
دپاره کړی دی. ٤٢ ای څښتن خدایه، تل هغه مینه په یاد ساته
چې تا د خپل خدمتګار داود سره کوله او د خپل غوره شوي پاچا
څخه مخ مه اړوه.»

## سلیمان او د خدای د کور وقف کېدل

(لومړی پاچاهان ٨: ٦٢ – ٦٦)

٧ ١ څنګه چې سلیمان د دعا کولو څخه وزګار شو، نو د اسمان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څخه اور نازل شو او سوځېدونکي نذرانه او نورې قرباني يې
وسوځولې. بيا د څښتن د جلال څخه کور ډک شو ٢ او کاهنانو
له دې امله نه شو کولای چې دننه لاړ شي.

٣ کله چې د اسراييلو قوم اور په راښکته کېدو او د څښتن جلال
يې د کور دپاسه وليد، هغوی په ځمکه باندې چې په تيږو باندې
فرش شوې وه، سجده وکړه او د څښتن عبادت او د هغه شکر يې ادا
کړ. هغوی دا دعا وکړه:

څښتن نېک دی

ده ابدي د هغه مينه

٤ وروسته بيا پاچا او ټولو خلکو د څښتن حضور ته قرباني
وړاندې کړې. ٥ سليمان پاچا دوه ويشت زره غويان او يوسلو
شل زره پسونه او وزې قرباني کړې. نو په دې ډول پاچا او ټولو
خلکو د خدای کور وقف کړ. ٦ کاهنان په خپلو ټاکل شويو
ځايونو کې ودرېدل. همدارنګه لاويانو د موسيقۍ د هغو آلو په غږولو
سره چې داود جوړې کړې وې، د څښتن ستاينه يې کوله او سندرې
يې ويلې: «د هغه مينه تلپاتې ده،» لکه څنګه چې داود هغوی د دې
وظيفې دپاره ټاکلي وو. هغوی ته مخامخ کاهنانو په داسې حال کې
چې د اسراييلو ټول خلک ولاړ وو، سرني غږول.

٧ سليمان د حويلۍ منځنۍ برخه يعنې د څښتن کور ته مخامخ
ځای سپېڅلی وګرځاوه، هغه ځکه دا کار وکړ چې د برنجو د قربانۍ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځای چې هغه جوړ کړی ؤ د دې ټولو نذرانو د ځايېدلو دپاره ډېر
کوچنی ؤ. نو په سپېڅلي ځای کې يې سوځېدونکې نذرانې، د غلو
دانو نذرانې او د څارويو وازګې د سلامتۍ د نذرانو دپاره وړاندې
کړې.

٨ سليمان او د اسراييلو قوم اووه ورځې اختر ولمانځه. په هغه
کې په شمال کې د حمات د کنډو څخه نيولې په جنوب کې د مصر
تر پولې ډېر خلک راغلي وو. ٩ هغوی ټولې څوارلس ورځې
لمانځلې وې، اووه ورځې د قربانۍ ځای د وقف کېدو دپاره او اووه
نورې ورځې د اختر دپاره. بيا په پنځلسمه ورځ ټول خلک د
وروستنۍ غونډې دپاره سره راټول شول. ١٠ د اوومې مياشتې په
درويشتمه ورځ سليمان خلک رخصت کړل. هغوی د هغو ښو کارونو
له امله چې څښتن د داود، سليمان او د خپل قوم اسراييلو دپاره يې
کړي وو، په خوښۍ او خوشحاله زړونو خپلو کورونو ته لاړل.

## سليمان ته د څښتن بيا ښکاره کېدل

(لومړی پاچاهان ٩: ١ – ٩)

١١ کله چې سليمان د څښتن کور او د شاهي ماڼۍ کار پای ته
ورساوه او په برياليتوب سره يې د هغو دپاره خپلې ټولې نقشې عملي
کړې، ١٢ څښتن په شپه کې هغه ته ورښکاره شو. هغه سليمان ته
وويل: «ما ستا دعا قبوله کړه او دا کور مې د داسې ځای په توګه
غوره کړ چې ماته په کې قربانۍ وړاندې شي.

١٣ کله چې زه باران ودروم يا ملخان ولېږم چې فصلونه وخوري

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یا په خپل قوم باندې وبا نازله کړم، ۱۴ که چېرې زما قوم چې زما
په نامه نومول شوی دی، ماته د عاجزۍ سر ټیټ کړي، دعا وکړي،
ماته رجوع وکړي او ګناه کول بس کړي، بیا به زه د هغوی دعا په
اسمان کې قبوله کړم. زه به هغوی وبخښم او یوځل بیا به د هغوی
ځمکه حاصلخېزه کړم. ۱۵ زه به سترګې په لار یم او د دې دپاره
به تیار یم چې هغه ټولې دعاګانې قبولې کړم چې دلته کېږي، ۱۶
ځکه چې ما دا کور غوره کړی دی او د داسې ځای په توګه مې
سپېڅلی کړی دی چې تل ترتله زما عبادت په کې وشي. زه به په
هغه باندې خپل نظر ساتم او تل به د هغه ساتنه کوم.

۱۷ که چېرې ته د خپل پلار داود په شان په وفادارۍ سره زما
خدمت وکړې او زما د قوانینو څخه اطاعت وکړې او هر هغه څه چې
ما درته د هغه حکم کړی دی سرته ورسوې، ۱۸ زه به هغه لوظ
پوره کړم چې ستا د پلار داود سره مې کړی ؤ او ویلي مې وو چې د
هغه اولاده به تل ترتله په اسراییلو باندې پاچاهي وکړي.

۱۹ خو که چېرې تاسو یا د اسراییلو د قوم څخه یو څوک زما د
هغو قوانینو او حکمونو څخه سرغړونه وکړي چې تاسو ته مې
درکړي دي او د نورو خدایانو خدمت او عبادت وکړئ، ۲۰ نو زه
به تاسو د هغې ځمکې څخه وباسم چې تاسو ته مې درکړې ده.
همدارنګه به دا کور چې ما سپېڅلی کړی دی چې زما عبادت به په
کې کېږي، پرېږدم او په هرځای کې به خلک په هغه باندې ملنډې
ووهي او د هغه سپکاوی به وکړي. ۲۱ اوس د دې کور ډېر
درناوی کېږي. خو کله چې داسې وشي، هرڅوک چې د هغې په خوا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې تېرېږي هغه به حیران شي او پوښتنه به کوي: څښتن ولې دې
هېواد او دې کور سره داسې عمل کړی دی؟ ۲۲ خلک به په
ځواب کې وايي: دا ځکه چې هغوی خپل د نیکونو څښتن خدای
چې هغوی یې د مصر څخه راویستلي وو، پرې ایښی دی. هغوی نور
خدایان غوره کړي دي او د هغوی خدمت او عبادت کوي. له دې
امله څښتن په هغوی باندې دا مصیبت راوستلی دی.»

## د سلیمان نور کارونه

(لومړی پاچاهان ۹: ۱۰ – ۲۸)

۸ ۱ سلیمان په شلو کالو کې د څښتن کور او خپله ماڼۍ جوړه
کړه. ۲ سلیمان هغه ښارګوټي هم بېرته ودان کړل چې حیرام پاچا
هغه ته ورکړي وو او اسراییلیان یې هلته ولېږل چې په کې واوسېږي.

۳ سلیمان په حمات صوبه باندې برید وکړ او هغه ځای یې ونیوه.
۴ هغه د تدمور ښار چې په دښته کې ؤ، قوي کړ او په حمات کې
یې هغه ټول ښارونه هم ودان کړل چې د ذخیرو د ساتلو مرکزونه وو.
۵ سلیمان دا لاندېني ښارونه هم بېرته ودان کړل: پورتنی او
ښکتنی بیت حورون (هغه دواړه قوي ښارونه وو چې داسې دروازې
یې درلودلې چې اړمونه یې درلودل.) ۶ سلیمان بعلت او هغه
ښارونه ودان کړل چې هغه ذخیرې په کې ساتلې او هغه ښارونه یې
هم ودان کړل چې د هغه د اسونو او جنګي ګاډیو دپاره وو. همدارنګه
هغه هرڅه چې غوښتل په اورشلیم، لبنان او په هغې ټولې سیمې کې
چې هغه ورباندې پاچاهي کوله، ودان کړل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷-۸ سلیمان د بېګار دپاره د کنعان د خلکو ټوله اولاده

مزدوران ونیول، یعنې هغه خلک چې د اسراییلو قوم د هغوی د هېواد د نیولو په وخت کې له منځه یو نه وړل. په دې کې حیتیان، اموریان، فرزیان، حویان او یبوسیان شامل وو چې د هغوی اولاده تر اوسه پورې غلامان دي. ۹ خو سلیمان د اسراییلیانو څخه یو هم د بېګار دپاره ونه نیوه، بلکې هغوی د هغه عسکر، قوماندانان او د هغه د جنګي ګاډیو قوماندانان او ګاډي وانان وو.

۱۰ همدارنګه هغوی د سلیمان پاچا د ودانۍ د جوړولو لوړ رتبه مامورین وو. دوه سوه او پنځوسو کسانو به د هغو خلکو څارنه کوله چې کار به یې کاوه.

۱۱ سلیمان خپله ښځه چې د فرعون لور وه، د داود د ښار څخه خپلې نوې ماڼۍ ته چې د هغې دپاره یې جوړه کړې وه، بوتله. ځکه هغه وویل: «زما ښځه نه شي کولای د داود، یعنې د اسراییلو د پاچا په ماڼۍ کې ژوند وکړي، ځکه په هرځای کې چې د لوظ صندوق ایښودل شوی وي، هغه ځای سپېڅلی دی.»

۱۲ سلیمان د قربانۍ په هغه ځای کې چې هغه د خدای د کور برنډې ته مخامخ جوړ کړی ؤ، ښښتن ته سوځېدونکې نذرانې قربانې کړې. ۱۳ هغه د موسی شرطونه پوره کړل چې د سبت په ورځ، د نوې میاشتې په اختر او په درېو اخترونو کې چې هر کال راځي یعنې د فطیرې ډوډۍ اختر، د لو اختر او د جونګړو په اختر کې ښښتن ته سوځېدونکې نذرانې وړاندې کېدلې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ بیا سلیمان د خدای په کور کې کاهنانو او لاویانو ته خپلې
وظیفې وروسپارلې او هغه اصول یې سرته ورسول چې خپل پلار
یعنې داود ورکړي وو. لاویانو د ستاینې او د عبادت مشرۍ په غاړه
اخیستې وه او د کاهنانو سره به یې د هغوی په وظیفو کې مرسته
کوله. هغه د هرې دروازې دپاره ډله ییز ساتونکي هم وټاکل، ځکه
چې دا د خدای د خدمتګار داود حکم ؤ. ۱۵ کاهنانو او لاویانو
هغه لارښوونې چې داود پاچا هغوی ته د خزانو او نورو موضوعګانو
په اړه ورکړې وې، په غور او تفصیل سره تر سره کړې.

۱۶ په دې ډول د سلیمان ټول کارونه پوره شول. د څښتن د کور د
بنیاد ایښودلو څخه نیولې د هغه د پوره کېدو پورې ټول کارونه په
بریالیتوب سره سرته ورسېدل.

۱۷ وروسته سلیمان عصیون جابر او د ایلت ښارګوټو ته لاړ چې د
ادوم د دریاب په غاړه پراته وو. ۱۸ حیرام د خپلو سړیو د امر
لاندې او د تجربه لرونکو کشتیوانانو سره هغه ته کشتۍ ګانې
ورولېږلې. هغوی د سلیمان د کسانو سره په کشتۍ ګانو کې اوفیر ته
سفر وکړ او د پنځلسو ټنو څخه زیات سره زر یې راوړل او هغه یې
سلیمان پاچا ته وسپارل.

## د سلیمان او د شیبا د ملکې لیدنه او کتنه

(لومړی پاچاهان ۱۰: ۱ – ۱۳)

۹ ۱ کله چې د شیبا ملکې د سلیمان د شهرت په اړه واورېدل،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو هغه اورشلیم ته راغله چې په سختو پوښتنو سره هغه وازمايي.
هغه د یو لوی کاروان او اوښانو سره چې عطر، ډېر سره زر او قیمتي
تیږې وربانديې بار وې، راورسېدله. هغه سلیمان ته راغله او د هغو
ټولو شیانو په هکله چې د هغې په ذهن کې وو، د هغه سره يې خبرې
وکړې. ٢ سلیمان د هغې ټولو پوښتنو ته ځواب ورکړ، داسې یوه
پوښتنه نه وه چې هغه يې بې ځوابه پرېښې وي.

٣ کله چې د شیبا ملکې د سلیمان حکمت او هغه ماڼۍ چې هغه
جوړه کړې وه، ٤ هغه خواړه چې په دسترخوان باندې وو، د هغه
د درباریانو د کښېناستلو ترتیب، د خدمتګارانو ښه تنظیم او د هغوی
کالي، د هغه ساقیان او د هغوی کالي او هغه سوځېدونکې نذرانې چې
هغه د څښتن په کور کې وړاندې کولې ولیدلې، نو حقه حیرانه شوه.
٥ هغې پاچا ته وویل: «هغه څه چې ما په خپل هېواد کې ستاسو
د کارونو او حکمت په اړه اورېدلي وو هغه رښتیا دي! ٦ خو ما
تر هغې پورې په دې باندې باور نه کاوه، ترڅو چې راغلم او دا
هرڅه مې په خپلو سترګو ولیدل. خو حتی ما د دې په نیمايي هم نه
وو اورېدلي، څه چې ما اورېدلي وو ستاسو حکمت د هغو څخه هم
زیات دی. ٧ ستاسو خلک به څومره خوشحاله وي! او ستاسو
درباریان به څومره خوښ وي چې تل ستاسو په حضور کې ولاړ
وي او ستاسو حکمت ویني!

٨ ثنا دې وي ستاسو څښتن خدای ته چې ستاسو څخه ډېر
خوشحاله دی او تاسو يې په خپل تخت د پاچا په توګه کښېنولې یئ
چې د هغه په نوم پاچاهي وکړئ. ځکه ستاسو خدای، د اسراییلو د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قوم سره مينه لري او هغه غوښتل چې اسراییلیان د تل دپاره ټینګ
پاتې شي، نو خدای تاسو په هغوی باندې پاچا کړي یئ چې عدالت
او انصاف وکړئ.»

۹ د شیبا ملکې سلیمان پاچا ته د څلورو ټنو څخه زیات سره
زر، زیاته اندازه عطر او قیمتي تیږې ورکړې. هغه عطر چې شیبا
ملکې سلیمان پاچا ته ورکړل پخوا هېڅکله نه وو لیدل شوي.

۱۰ (د حیرام او د سلیمان کسانو د اوفیر څخه پرته له سرو زرو د
نښتر لرګي او قیمتي تیږې هم راوړلې. ۱۱ پاچا د دې لرګیو څخه د
څښتن د کور او د شاهي ماڼۍ دپاره زینې او د ساز غږوونکو دپاره
ربابونه او چنګونه جوړ کړل. د یهودا په خاوره کې داسې شیان
مخکې نه وو لیدل شوي.) ۱۲ د شیبا ملکې چې هرڅه غوښتل
سلیمان پاچا ورته ورکړل، هغه ورته د هغو شیانو په پرتله چې هغې
سلیمان ته راوړي وو ډېر شیان ورکړل. وروسته بیا ملکه د خپلو
خدمتګارانو سره خپل هېواد یعني شیبا ته ستنه شوه.

## د سلیمان پاچا شتمني

(لومړی پاچاهان ۱۰: ۱۴ – ۲۹)

۱۳ سلیمان پاچا هر کال نږدې درویشت ټنه سره زر لاسته راوړل.
۱۴ په دې کې هغه مالیات چې د سوداګرو له خوا ورکول کېدل،
شامل نه وو. همدارنګه د عربو ټولو پاچاهانو او د اسراییلو
حکمرانانو سپین او سره زر سلیمان ته راوړل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ سليمان پاچا د ټکول شويو سرو زرو څخه دوه سوه داني لوی
سپرونه جوړ کړل، په هر سپر کې نژدې اووه کيلوګرامه سره زر کارول
شوي وو. ۱۶ همدارنګه هغه د ټکول شويو سرو زرو څخه درې
سوه داني کوچني سپرونه جوړ کړل چې په هر سپر کې د درېو
کيلوګرامو څخه زيات سره زر وو. پاچا هغه د ماڼۍ په هغه سالون کې
کېښودل چې د لبنان د ځنګل په نوم يادېده.

۱۷ پاچا د فيل د غاښونو څخه يو لوی تخت هم جوړ کړ او هغه
ته يې د سوچه سرو زرو پوښ ورکړ. ۱۸ تخت ته د ورختلو دپاره
شپږ زينې وې او د پښو ايښودلو دپاره د سرو زرو يوه چوکۍ د تخت
سره نښتې وه. د تخت دواړو خواو ته بازوګان وو او د هر يو په خوا
کې د زمري مجسمه وه. ۱۹ په شپږو زينو باندې د دولسو زمريانو
مجسمې وې، د هرې زينې هرې خواته يوه يوه مجسمه وه. په بلې
هېڅ پاچاهۍ کې داسې تخت نه ؤ جوړ شوی.

۲۰ د سليمان پاچا هغه جامونه چې د څښلو دپاره وو، ټول د سرو
زرو څخه جوړ شوي وو. د هغه د ماڼۍ هغه سالون چې د لبنان د
ځنګل په نوم يادېده، ټول سامان يې د سوچه سرو زرو څخه وو. د
سليمان په وخت کې سپين زر بې ارزښته ګڼل کېدل.

۲۱ هغه کشتۍ ګانې درلودلې چې د حيرام د کشتيوانانو سره به
ترشيش ته تللې. د هغه کشتۍ ګانې به په هرو درېو کالو کې يوځل
راستنېدلې او سره زر، سپين زر، د فيل غاښونه، بيزوګانې او د
طاووس مرغان به يې راوړل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ سلیمان پاچا د نړۍ د نورو ټولو پاچاهانو څخه ډېر شتمن او د
حکمت خاوند ؤ. ۲۳-۲۴ کال په کال به نور پاچاهان د هغه
حضور ته راتلل چې د هغه حکمت وویني چې خدای ورته ورکړی
ؤ. د هغوی څخه به هر یو تن د سپینو او د سرو زرو سوغاتونه،
چپنې، وسلې او عطر راوړل او اسونه او قچرې یې راوستلې.

۲۵ سلیمان د خپلو اسونو او جنګي ګاډیو د ساتلو دپاره څلور زره
غوجلې درلودلې او همدا شان هغه ټول دولس زره اسونه درلودل چې
ځینې یې په اورشلیم او نورې یې په نورو ښارونو کې ساتلې.

۲۶ هغه په ټولو پاچاهانو باندې په شمال کې د فرات د سیند نه
نیولې په جنوب کې د فلسطین تر خاورې او د هغه ځای نه د مصر
تر پولې حکمراني کوله.

۲۷ د هغه د پاچاهۍ په وخت کې سپین زر په اورشلیم کې د تیږو
په شان یو عادي شی ؤ او د سبر د ونو لرګي لکه د یهودا د غرونو په
لوېدیځو لمنو کې د انځرو د ونو په شان پرېمانه وو. ۲۸ د مصر او
د نورو ټولو هېوادونو څخه یې اسونه د سلیمان دپاره راوستل.

## د سلیمان مړینه

(لومړی پاچاهان ۱۱: ۴۱ – ۴۳)

۲۹ د سلیمان د پاچاهۍ نورې ټولې پېښې د شروع نه تر پایه
پورې د ناتان نبي د تاریخ په کتاب، د اخیا شیلوني په پېشګویۍ او د
عیدو نبي په رویاګانو کې چې عیدو د نباط د زوی یروبعام په هکله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي، ليکلي وي. ۳۰ سليمان څلوېښت کاله په اورشليم کې په ټولو
اسراييلو باندې پاچاهي وکړه. ۳۱ نو وروسته هغه مړ شو او د خپل
پلار داود په ښار کې ښخ شو. د سليمان په ځای د هغه زوی رحبعام
پاچا شو.

## د شمالي قبيلو ياغيتوب

(لومړی پاچاهان ۱۲: ۱ – ۲۰)

۱۰ ۱ رحبعام شکيم ته لاړ، ځکه چې ټول اسراييليان هلته
راغونډ شوي وو چې هغه پاچا کړي.

۲ کله چې د نباط زوی يروبعام چې د سليمان له لاسه مصر ته
تښتېدلی ؤ، دا خبر واورېد، نو هغه د مصر څخه راستون شو. ۳
بيا هغوی يروبعام راوغوښت او هغه او د اسراييلو ټول خلک رحبعام
ته ورغلل او هغه ته يې وويل: ۴ «ستاسو پلار سليمان زمونږ سره
ډېر سخت چلند کاوه او درونډ بار يې په مونږ باندې ايښی ؤ. که
چېرې تاسو دا بار زمونږ د اوږو نه سپک او زمونږ دپاره ژوند اسانه
کړئ، نو مونږ به ستاسو خدمت کوو.»

۵ رحبعام په ځواب کې وويل: «په درېو ورځو کې بېرته راشئ
چې ځواب درکړم.» نو خلک لاړل.

۶ وروسته بيا رحبعام د هغو سپين ږيرو سره مشوره وکړه چې د
هغه د پلار سليمان په ژوندانه کې يې د هغه خدمت کاوه. هغه پوښتنه
وکړه: «تاسو څنګه مشوره راکوئ چې دې خلکو ته څه ځواب

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووایم؟» ۷ هغوی ځواب ورکړ: «که چېرې تاسو د دې خلکو
سره نېکي وکړئ او هغوی ته داسې ځواب ورکړئ چې خوشحاله
شي، نو هغوی به تل ستاسو خدمتګاران وي.»

۸ خو رحبعام د هغو سپین ږیرو مشوره ونه منله او د هغو ځوانانو
سره يې مشوره وکړه چې د هغه سره لوی شوي وو او د هغه خدمت
يې کاوه. ۹ د هغوی څخه يې پوښتنه وکړه: «ستاسو مشوره څه
ده؟ دې خلکو ته څه ځواب ووایم چې ماته وايي: هغه بار چې
ستاسو پلار زمونږ په اوږو ایښی دی زمونږ څخه سپک کړه؟»

۱۰ هغو ځوانانو په ځواب کې وویل: «هغو خلکو ته داسې ځواب
ورکړئ: ‹زما کوچنۍ ګوته زما د پلار د ملا څخه پنډه ده. ۱۱ زما
پلار په تاسو باندې درووند بار ایښی ؤ، زه به هغه نور هم درووند کړم.
زما پلار تاسو په قمچینو باندې وهلئ، زه به تاسو په اغزي لرونکو
قمچینو باندې ووهم.›»

۱۲ لکه څنګه چې رحبعام پاچا ویلي وو، درې ورځې وروسته
یروبعام او ټول خلک هغه ته بېرته راغلل. ۱۳ پاچا د سپین ږیرو د
مشورې پروا ونه ساتله او خلکو ته يې ډېر سخت ځواب ورکړ. ۱۴
هغه د هغو ځوانانو مشوره ومنله او ويې ویل: «زما پلار په تاسو
باندې درووند بار ایښی ؤ، زه به هغه نور هم درووند کړم. زما پلار تاسو
په قمچینو وهلئ، زه به تاسې په اغزي لرونکو قمچینو باندې ووهم.»

۱۵ نو په دې ډول پاچا د خلکو غوښتنه ونه منله، ځکه چې په دې
کې د خدای رضا وه، ترڅو هغه خبره سرته ورسیږي چې څښتن د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اخيا نبي په وسيله چې د شيلوه ښخه ؤ د نباط زوی يروبعام ته کړې
وه. ١۶ کله چې ټولو اسراييليانو وليدل چې پاچا د هغوی خبره ونه
منله، هغوی چيغې ووهلې: «مونږ بايد د داود د کورنۍ سره وفادار
پاتې نه شو. زمونږ دپاره د داود په کورنۍ کې څه نشته. ای د
اسراييلو خلکو، ځئ چې خپلو کورونو ته لاړ شو! پرېږدئ چې
رحبعام په خپلو خلکو باندې پاچاهي وکړي.» نو ټول اسراييليان
خپلو کورونو ته لاړل. ١٧ رحبعام يوازې په هغو خلکو باندې
پاچاهي کوله چې د يهودا په ښارګوټو کې اوسېدل.

١٨ بيا رحبعام پاچا د بېګار د کارونو مسوول ادورام اسراييليانو ته
ولېږه، خو د اسراييلو خلکو هغه سنګسار کړ او ويې واژه. خو رحبعام
په بيړه په خپلې جنګي ګاډۍ کې سپور شو او اورشليم ته وتښتېد.
١٩ نو د اسراييلو شمالي قبيلو د هغې ورځې نه وروسته د داود د
شاهي کورنۍ په وړاندې بغاوت پيل کړ.

## رحبعام ته د شمعيه نبي خبرداری

(لومړی پاچاهان ١٢: ٢١ – ٢۴)

١١ ١ کله چې رحبعام اورشليم ته ورسېده، هغه د يهودا او
بنيامين د قبيلو ښخه يوسلو اتيا زره غوره شوي عسکر راغونډ کړل.
هغه پرېکړه وکړه چې په اسراييلو باندې حمله وکړي او د اسراييلو
شمالي قبيلې يوځل بيا تر خپل واک لاندې راولي.

٢ خو ښښتن شمعيه نبي ته وويل: ٣ «د يهودا پاچا يعنې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سلیمان زوی رحبعام او د یهودا او بنیامین د قبیلو اسراییلیانو ته
ووایه: ۴ ‹د اسراییلو په خلکو باندې چې ستاسو ورونه دي حمله
ونه کړئ، ټول خپلو کورونو ته لاړ شئ. هغه څه چې پېښ شوي دي
هغه زما رضا ده.›» نو هغوی د څښتن د حکم څخه اطاعت وکړ او د
یروبعام په خلاف جګړې ته لاړ نه شول.

## رحبعام او د ښارونو قوي کېدل

۵ رحبعام په اورشلیم کې پاتې شو او په یهودا کې یې څو ښارونه
په نظامي کلاګانو بدل کړل، ترڅو د خپلې سیمې په دفاع کولو کې
ورڅخه کار واخلي. په هغو کې دا ښارونه شامل وو: ۶ بیت لحم،
عیتام، تقوع، ۷ بیت صور، سوکوه، عدولام، ۸ جت، مریشه،
زیف، ۹ ادورایم، لاکیش، عزیقه، ۱۰ زرعه، ایالون او حبرون. دا
د یهودا او د بنیامین قوي ښارونه دي. ۱۱ هغه هر یو ښار ته د
لښکرو یو یو قوماندان ورکړ او په ښارونو کې یې خواړه، د زیتونو
تېل او د انګورو شراب ذخیره کړل. ۱۲ دغه ښارونه یې په سپرونو
او نېزو باندې سمبال کړل او په دې ډول یې هغه قوي کړل او د یهودا
او بنیامین قبیلې یې د خپل واک لاندې وساتلې.

## یهودا ته د کاهنانو او لاویانو راتګ

۱۳ کاهنانو او لاویانو د اسراییلو هغه ټول ځایونه چې په کې
اوسېدل، پرېښودل، ترڅو د رحبعام څخه ملاتړ وکړي. ۱۴ څرنګه
چې یروبعام او د هغه زامنو، لاویان د څښتن د کاهنانو په توګه د
خپلو وظیفو څخه لیرې کړل، لاویانو په اسراییلو کې خپل جایداد او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځړځایونه پرېښودل او اورشلیم او د یهودا نورو ځایونو ته یې کډه
وکړه. ۱۵ یروبعام خپل کاهنان غوره کړل چې د اسراییلو په
سیمه ییزو عبادتځایونو کې، یعنې هغو ځایونو کې چې د سخوندرانو
او د وزو بتان هم وو، خدمت وکړي. ۱۶ د اسراییلو د ټولو قبیلو
څخه هغه خلک چې په اخلاص سره یې غوښتل د اسراییلو د څښتن
خدای عبادت وکړي، لاویانو پسې اورشلیم ته لاړل، ترڅو وکولای
شي چې د خپلو نیکونو څښتن خدای ته قربانۍ وړاندې کړي. ۱۷
په دې کار باندې هغوی د یهودا پاچاهي قوي کړه او هغوی درې کاله
د رحبعام د سلیمان د زوی څخه ملاتړ وکړ، ځکه چې په دې دوران
کې هغوی د داود او د سلیمان لاره غوره کړه.

## د رحبعام کورنۍ

۱۸ رحبعام د داود د زوی یعنې یریموت د لور محلت سره واده
وکړ چې مور یې د الیاب لور او د یسي لمسۍ یعنې ابیحایل وه. ۱۹
د رحبعام او د محلت درې زامن پیدا شول چې دا یې نومونه وو:
یعوش، شمریا او زهم. ۲۰ بیا رحبعام د ابشالوم د لور معکې سره
واده وکړ. ابیا، عتای، زیزا او شلومیت د هغوی اولادونه وو.

۲۱ رحبعام اتلس ښځې او شپېته وینځې درلودلې او د اته ویشتو
زامنو او د شپېتو لورګانو پلار ؤ. رحبعام ته د خپلو ټولو ښځو او
وینځو څخه معکه ډېره ګرانه وه، ۲۲ نو هغه ابیا د معکه زوی د
خپلو زامنو مشر وټاکه، ترڅو د هغه څخه وروسته پاچا شي. ۲۳
رحبعام په عاقلانه ډول خپلو زامنو ته مسوولیتونه وروسپارل او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يهودا او د بنيامين په قوي ښارونو کې يې هغوی ځای په ځای کړل. هغوی ته يې پرېمانه خوراکي شيان ورکړل او ډېرې ښځې يې ورته وکړې.

## په يهودا باندې د مصريانو يرغل

(لومړی پاچاهان ۱۴: ۲۵ – ۲۸)

**۱۲** ۱ څنګه چې رحبعام د خپلې پاچاهۍ واک تر لاسه کړ او
قوي شو، هغه او د هغه ټول قوم د څښتن د شريعت لاره پرېښودله.
۲ نو د رحبعام د پاچاهۍ په پنځم کال څښتن هغوی ته د
بې وفايي په خاطر سزا ورکړه. هغه د مصر پاچا شيشق ته اجازه
ورکړه چې په اورشليم باندې حمله وکړي. ۳ شيشق د خپلو يو
زرو او دوه سوو جنګي ګاډيو او شپېتو زرو اس سوارانو او د ليبيايي،
شکيم او ايتوپيايي د بې شمېرو عسکرو په مرسته حمله وکړه. ۴
هغه په يهودا کې قوي ښارونه ونيول او تر اورشليمه پورې يې
پرمختګ وکړ.

۵ شمعيه نبي رحبعام پاچا او د يهودا هغو مشرانو ته ورغی چې د
شيشق څخه د تېښتې له امله په اورشليم کې راغونډ شوي وو. شمعيه
هغوی ته وويل: «ستاسو دپاره څښتن دا پيغام لري: ‹تاسو زه
پرېښودم، نو زه هم اوس تاسو شيشق ته پرېږدم.›»

۶ پاچا او مشرانو خپله ګناه ومنله او ويې ويل: «څښتن عادل
دی.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ کله چې څښتن دا ولیدل، شمعیه ته یې وویل: «له دې امله چې
هغوی اوس خپله ګناه ومنله، زه به هغوی ټول تباه نه کړم. نو کله
چې شیشق حمله وکړي، زه به یو شمېر کسان وژغورم. زما غضب به
د شیشق په وسیله په اورشلیم باندې نازل نه شي. ٨ خو هغوی به
د شیشق رعیت شي، ترڅو وپوهېږي چې زما د خدمت کولو او د
نړۍ د حاکمانو د خدمت کولو ترمنځ څومره فرق دی.»

٩ شیشق پاچا په اورشلیم باندې برید وکړ او هغه د څښتن د کور
او د شاهي ماڼۍ ټولې خزانې د ځان سره یوړلې. برسېره پر دې هغه
سپرونه چې سلیمان د سرو زرو څخه جوړ کړي وو، هم یووړل. ١٠
نو رحبعام د هغو په ځای برنجي سپرونه جوړ کړل او هغه یې د هغو
ساتونکو قوماندانانو ته وسپارل چې د شاهي ماڼۍ په دروازه کې یې
پهره کوله. ١١ هرکله به چې پاچا د څښتن کور ته ورتللو، نو د
ساتونکو ګارډ به سپرونه وړل او وروسته به یې بېرته د پهره دارانو
کوټې ته راوړل.

١٢ څرنګه چې رحبعام خپله ګناه ومنله، نو د څښتن د غضب نه
یې خلاصون پیدا کړ او په پوره توګه له منځه لاړ نه شو او په یهودا
کې څه ناڅه نېک کارونه کېدل.

## د رحبعام د پاچاهۍ د پېښو لنډیز

(لومړی پاچاهان ۱۴: ۲۱، ۱۴: ۲۹ – ۳۱)

١٣ رحبعام پاچا په اورشلیم کې خپل ځان ټینګ کړ او پاچاهي یې
وکړه. هغه د یو څلوېښت کلنۍ په عمر پاچا شو او په اورشلیم کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې اوولس کاله پاچاهي وکړه. اورشليم هغه ښار ؤ چې څښتن هغه د
اسراييلو د ټولو قبيلو څخه د خپل عبادت دپاره غوره کړی ؤ. د
رحبعام د مور نوم نعمه وه چې د عمون د هېواد څخه وه. ۱۴ هغه
بد کارونه کول، ځکه چې هغه کوښښ نه کاوه د څښتن رضا معلومه
کړي.

۱۵ رحبعام چې د خپلې پاچاهۍ په وخت نور هرڅه وکړل د هغه
د کورنۍ د نسب نامې په شمول د دوو نبيانو يعنې د شمعيه او د عيدو
په تاريخ کې ليکل شوي دي. په دې ټوله موده کې د رحبعام او
يروبعام ترمنځ جګړه وه. ۱۶ رحبعام مړ شو او د داود د ښار په
شاهي هديره کې ښخ شو. د رحبعام زوی ابيا د هغه په ځای پاچا
شو.

## د يهودا پاچا ابيا

(لومړی پاچاهان ۱۵: ۱ – ۸)

# ۱۳

۱ د يروبعام د پاچاهۍ په اتلسم کال، ابيا د يهودا پاچا شو
۲ او هغه درې کاله په اورشليم کې پاچاهي وکړه. د هغه مور
ميکايا نومېدله چې د اوري ييل لور وه. اوري ييل د جبعې د ښار
څخه ؤ.

د ابيا او يروبعام ترمنځ جګړه پيل شوه، ۳ د ابيا په لښکرو کې
څلور سوه زره غوره شوي زړور جنګيالي وو او يروبعام همداسې د
اته سوه زره زړورو جنګياليو په درلودلو سره د هغه مقابله وکړه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ ابیا د صمارایم د غره سرته چې د افرایم په غرنۍ سیمه کې ؤ،
پورته شو او ویې ویل: «یروبعامه او ټولو اسراییلیانو واورئ! ۵
ایا تاسو نه پوهېږئ چې د اسراییلو څښتن خدای د داود او د هغه د
اولادې سره د تل دپاره په اسراییلو باندې د پاچاهۍ کولو نه
ماتېدونکی لوظ کړی دی؟ ۶ خو ای د نباط زویه یروبعامه، ته د
داود د زوی سلیمان درباري وې او تا د خپل بادار په وړاندې بغاوت
وکړ. ۷ وروسته یوه ډله بدمعاشان ستا شاوخوا راغونډ شول او د
سلیمان زوی رحبعام تاسو مجبور کړ چې خبره مو ومني. هغه یو
نوی ځوان او ډېر بې تجربه ؤ، نو ځکه یې ونه شو کولای چې ستاسو
سره مقاومت وکړي.

۸ اوس تاسو فکر کوئ چې د هغې پاچاهۍ په ضد جنګېدلی شئ
چې څښتن د داود اولادې ته ورکړې ده. تاسو یو لوی لښکر لرئ او
هم هغه د سرو زرو سخوندران چې یروبعام جوړ کړل چې ستاسو
خدایان شي. ۹ تاسو لاویان او د څښتن کاهنان یعنې د هارون
اولاده وشړله. د هغوی په ځای تاسو د نورو قومونو په شان کاهنان
وټاکل. هرڅوک چې د یو غویي یا د اووه پسونو سره راشي، کولای
شي چې خپل ځان ستاسو د تش په نامه خدایانو د یو کاهن په توګه
سپېڅلی کړي.

۱۰ خو څښتن زموږ خدای دی. موږ د هغه څخه مخ نه دی
اړولی! کاهنان چې د هارون اولاده ده د څښتن خدمت کوي او
لاویان د هغوی سره مرسته کوي. ۱۱ هغوی هر سهار او ماښام
څښتن ته سوځېدونکې نذرانې وړاندې کوي او خوشبويي ورته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوځوي. هغوی سپېڅلې ډوډۍ په یو داسې مېز باندې ږدي چې پاک
شوی وي او هر ماښام د سرو زرو په څراغدان باندې څراغونه بلوي.
مونږ د خپل څښتن خدای د امرونو پیروي کوو، خو تاسو ورڅخه
مخ اړولی دی! ١٢ په خپله خدای زمونږ مشر او لارښود دی او د
هغه کاهنان د سرنیو سره دلته دي، هغوی تیار دي چې سرنې
وغږوي، ترڅو مونږ ستاسو په خلاف جګړې ته راوغواړي. ای د
اسراییلو خلکو! د څښتن یعنې د خپلو نیکونو د خدای په خلاف مه
جنګېږئ! تاسو دا جګړه نه شئ ګټلی!»

١٣ خو په داسې حال کې چې ابیا خبرې کولې، یروبعام خپل ځینې
عسکر پټ ولېږل چې د شا له خوا د یهودا په لښکرو باندې برید
وکړي او پاتې کسان د مخې له خوا ورباندې راغلل. ١٤ د یهودا
لښکرو ولیدل چې د مخې او د شا له خوا په هغوی باندې برید روان
دی. نو هغوی څښتن ته د مرستې په خاطر زارۍ وکړلې او کاهنانو
سرنې وغږول. ١٥ د یهودا لښکرو په لوړ اواز چیغه ووهله او کله
چې هغوی چیغه ووهله، نو بیا ابیا او د هغه لښکرو برید وکړ او
خدای یروبعام او د اسراییلو لښکرو ته ماتې ورکړه. ١٦ اسراییلیان
وتښتېدل او خدای هغوی د یهودا د لښکرو په لاس تسلیم کړل. ١٧
ابیا او د هغه لښکر هغوی ته درانه زیانونه ورواړول او د اسراییلو
پنځه سوه زره تر ټولو غوره شوي عسکر ووژل شول. ١٨ په هغه
وخت کې اسراییلیانو ماتې وخوړله او د یهودا لښکرې بریالۍ شوې،
ځکه چې هغوی د خپلو نیکونو په څښتن خدای باندې توکل وکړ.

١٩ ابیا د یروبعام لښکرې تعقیب کړې او د اسراییلو ښارګوټي یې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یروبعام څخه ونیول، یعنې بیت ییل، یشانه او عفرون د هغو د شاوخوا
کلیو سره. ٢٠ د ابیا د پاتې پاچاهۍ په دوران کې یروبعام هېڅکله
خپل قوت بېرته تر لاسه نه کړ. څښتن یروبعام وواهه او هغه مړ شو،
٢١ خو ابیا نور هم قوي شو. هغه څوارلس ښځې، دوه ویشت زامن
او شپاړس لوڼې درلودلې. ٢٢ د ابیا د پاچاهۍ نورې پېښې چې په
هغو کې د هغه خبرې او کارونه شامل دي د عیدو نبي په تاریخ کې
لیکل شوي دي.

## د یهودا پاچا اسا

١۴ ١ ابیا مړ شو او د داود د ښار په شاهي هدیره کې ښخ شو.
د هغه زوی اسا د هغه په ځای پاچا شو. د هغه په وخت کې په یهودا
کې لس کاله سوله وه.

٢ اسا هغه کارونه کول چې د څښتن خدای په نظر کې ښه او سم
وو. ٣ هغه د پردیو خدایانو د قربانۍ او بتانو ته د عبادت ځایونه
وران کړل. هغه د تیږو ستنې ټوټې ټوټې کړې او د اشیره بتان یې
راوغورځول. ۴ هغه د یهودا په خلکو باندې امر وکړ چې د
څښتن یعنې د خپلو نیکونو د خدای عبادت وکړي او د هغه قوانینو
او حکمونو ته غاړه کېږدي. ۵ هغه د یهودا په ټولو ښارګوټو کې د
عبادت سیمه ییز ځایونه او د خوشبویۍ قربانګاوې ورانې کړې. له
دې امله د هغه د پاچاهۍ په وخت کې امن او ارامي وه.

۶ د اسا د پاچاهۍ په وخت کې د یهودا په سیمه کې ارامي وه. په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه وخت کې هغه په یهودیه کې قوي ښارونه جوړ کړل او څو کاله
هلته جنګ نه ؤ، ځکه چې څښتن هغوی ته ارامي ورکړې وه. ۷
هغه د یهودا خلکو ته وویل: «راځئ چې د دې ښارونو دپاره دېوالونه
او د ځارنې برجونه جوړ کړو او داسې دروازې ورته جوړې کړو چې
په اړمونو بندېږي. دا هېواد تر اوسه پورې زمونږ دی، ځکه چې مونږ
خپل څښتن خدای ته رجوع کړې ده. هغه د ټولو دښمنانو څخه په
ارامۍ کې ساتلي یو.» خلکو ښارونه آباد کړل او نېکمرغه شول.

۸ اسا یو لوی لښکر درلود: د هغوی څخه درې سوه زره تنه د
یهودا د قبیلې څخه وو او لوی سپرونه او نېزې ورسره وې. دوه لکه
او اتیا زره تنه د بنیامین د قبیلې څخه وو او کوچني سپرونه او لیندې
ورسره وې. هغوی ټول زړور جنګیالي وو.

## د ایتوپیا د لښکرو ماتې

۹ زارح ایتوپیایي د یو میلیون کسیزه لښکر او درې سوه جنګي
ګاډیو سره په یهودا باندې حمله وکړه او تر مریشه پورې یې
پرمختګ وکړ. ۱۰ اسا حرکت وکړ چې د هغه سره وجنګیږي او
دواړې خواوې مریشه ته نژدې د صفاته په دره کې، ځای په ځای
شوې. ۱۱ اسا خپل څښتن خدای ته زاري وکړه او ویې ویل: «ای
څښتنه، یوازې ته د یو کمزوري لښکر سره مرسته کولای شې چې یو
قوي لښکر ته ماتې ورکړي. ای زمونږ څښتن خدایه، مونږ ستا په
مرستې باندې تکیه کوو. مونږ ستا په نوم د دې قوي لښکر سره د
جنګ دپاره راغلي یو او مونږ پوهېږو چې ته به ماتې نه خورې. ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمونږ څښتن خدای یې.»

١٢ نو څښتن د ایتوپیایانو لښکرو ته د اسا او یهودا د لښکرو په
لاس ماتې ورکړه او هغوی وتښتېدل. ١٣ بیا اسا او د هغه عسکرو
هغوی تر جرار پورې تعقیب کړل. دومره ډېر ایتوپیایان ووژل شول
چې د هغوی لښکر ونه شو کولای چې بېرته سره یو ځای شي او
وجنګیږي. څښتن او د هغه لښکر هغوی تباه کړل او هغوی په زیاته
اندازه غنیمت ونیو. ١۴ هغوی وکولای شول چې د جرار د شاوخوا
سیمو ښارونه له منځه یوسي، ځکه چې څښتن په دغو خلکو باندې
وېره راوستې وه. له دې امله چې دې ښارونو ډېر غنیمت درلود، نو د
اسا لښکرو دا ټول لوټ کړل. ١۵ هغوی په هغو کمپونو باندې هم
حمله وکړه چې شپانه په کې اوسېدل او ډېر پسونه، وزې او اوښان
یې ونیول. بیا هغوی بېرته اورشلیم ته راستانه شول.

## اسا او په یهودا کې د بتانو ماتول

١۵ ١ د عودید په زوی عزریا باندې د خدای روح نازل شو
٢ او هغه لاړ چې د اسا پاچا سره لیدنه کتنه وکړي. عزریا هغه ته
وویل: «ای اسا او د یهودا او د بنیامین ټولو خلکو، ماته غوږ ونیسئ!
تر هغه وخته پورې چې تاسو د څښتن سره یئ، هغه ستاسو سره مل
دی، که چېرې تاسو د هغه په لټه کې شئ، هغه به پیدا کړئ. خو که
چېرې د هغه څخه مخ واړوئ هغه به هم ستاسو څخه مخ واړوي.
٣ اسراییلو ډېره موده پرته له رښتیني خدای او شریعت څخه
ژوند تېراوه. کاهنان نه وو چې هغوی ته ښه ورزده کړي. ۴ خو د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مصیبت په وخت کې به د اسراییلو څښتن خدای ته راګرځېدل.
هغوی د خدای په لټه کې شول او هغه یې پیدا کړ. ۵ په هغه
وخت کې هیچا نه شو کولای چې په امن سره تګ راتګ وکړي،
ځکه چې په هر هېواد کې ناارامي او ګډوډي وه. ۶ یو قوم به په
بل قوم باندې او یو ښار به په بل ښار باندې ظلم او تېری کاوه، ځکه
چې خدای هغوی په هر ډول مصیبت او کړاو اخته کړل. ۷ خو
تاسو تکړه او زړور اوسئ او بې حوصلې کېږئ مه. بیا چې تاسو کوم
کار کوئ، تاسو ته به د هغې اجر درکول کېږي.»

۸ کله چې اسا د عودید د زوی عزریا پېشګویي واورېدله، نو هغه
زړور شو. هغه ټول هغه بتان لرې کړل چې د یهودا او د بنیامین په
خاوره کې وو او همدارنګه هغه بتان چې په هغو ښارونو کې وو چې
هغه د افرایم په غرنۍ سیمه کې نیولي وو. هغه د څښتن د قربانۍ
ځای هم بیرته جوړ کړ چې د هغه د کور د برنډې په مخکې ؤ. ۹
اسا د یهودا او د بنیامین ټول خلک او همدارنګه د افرایم، منسي او د
شمعون د سیمو خلک چې د هغوی سره په یهودا کې اوسېدل،
راوغوښتل. د دې خلکو زیات شمېر د اسا پلویان شوي وو، ځکه
چې هغوی لیدلي وو چې د هغه څښتن خدای د هغه سره مل دی.
۱۰ د اسا د پاچاهۍ د پنځلسم کال په درېیمه میاشت، هغوی په
اورشلیم کې راغونډ شول. ۱۱ په هماغه ورځ هغوی د هغه غنیمت
څخه چې د ځان سره یې راوړی ؤ، څښتن ته اووه سوه غوایان او
اووه زره پسونه قرباني کړل. ۱۲ هغوی لوظ وکړ او دا خبره یې
ومنله چې د زړه له کومي او په ټول ځان به د خپلو نیکونو د څښتن
خدای عبادت کوي. ۱۳ هرچا، ځوان او زوړ، نارینه او ښځې چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغه عبادت به يې نه کاوه، هغه به وژل کېده. ۱۴ هغوی په لوړ
اواز سره سرني وغږول او د څښتن په نوم يې قسم وخوړ چې په
خپل لوظ به ودرېږي. ۱۵ د يهودا ټول خلک خوشحاله وو، ځکه
چې هغوی د زړه له کومي دا لوظ کړی ؤ. هغوی په شوق سره د
څښتن عبادت کاوه او څښتن هغوی قبول کړل او هغوی ته يې د
هرې خوا نه سوله ور په برخه کړه.

۱۶ اسا پاچا حتی خپله نيا معکه د ملکې د مور په توګه د خپل
مقام څخه لېرې کړه، ځکه چې هغې د اشيره کرغېړن بت جوړ کړی
ؤ. اسا هغه بت رانسکور کړ، هغه يې ټوټې ټوټې کړ او ټوټې يې د
قدرون په دره کې وسوځولې. ۱۷ که څه هم اسا د اسراييلو د
عبادت سيمه ييز ځايونه له منځه يو نه وړل، خو هغه ټول عمر څښتن
ته وفادار پاتې شو. ۱۸ هغه د خدای په کور کې سره زر او سپين
زر او نور ټول شيان کېښودل چې هغه او د هغه پلار خدای ته وقف
کړي وو.

۱۹ د اسا د پاچاهۍ تر پنځه دېرشم کاله پورې هلته نوره هېڅ
جګړه ونه شوه.

## په يهودا باندې د اسراييلو پاچا بعشا يرغل

(لومړی پاچاهان ۱۵: ۱۷ – ۲۲)

# ۱۶

۱ د اسا د پاچاهۍ په شپږ دېرشم کال د اسراييلو پاچا
بعشا په يهودا باندې حمله وکړه او د رامه ښار يې ونيو. هغه دا ښار

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قوي کړ، د دې دپاره چې د يهودا د ټولو خلکو د تګ راتګ مخه ونيسي. ۲ نو اسا پاچا هغه سپين زر او سره زر چې د ښښتن د کور او د خپلې ماڼۍ په خزانو کې وو واخيستل. بيا يې هغه دمشق ته د سوريې پاچا بنهدد ته د دې پيغام سره ولېږل: ۳ «زما او ستاسو ترمنځ دې داسې يو تړون وي لکه څنګه چې زما د پلار او ستاسو د پلار ترمنځ ؤ. ګورئ! زه تاسو ته سپين او سره زر درلېږم. نو خپل تړون اوس د اسراييلو د پاچا بعشا سره مات کړئ، ترڅو هغه خپلې لښکرې زما د سيمې څخه وباسي.»

۴ بنهدد پاچا د اسا غوښتنه ومنله او خپل قوماندانان او لښکرې يې ولېږلې چې د اسراييلو په ښارونو باندې حمله وکړي. هغوی عيون، دان، آبل مايم او د نفتالي ټول هغه ښارونه ونيول چې ګودامونه په کې وو. ۵ کله چې بعشا له دې څخه خبر شو، هغه د رامه ښار د قوي کولو نه لاس واخيست او کار يې بس کړ.

۶ بيا اسا پاچا د ټولې يهودا څخه سړي راغونډ کړل او په هغوی باندې يې هغه تيږې او تيرونه يووړل چې بعشا په رامه کې ورڅخه کار اخيست او هغوی دا د جبع او مصفه د ښارونو په قوي کولو کې ولګول.

## حناني نبي او د اسا غندنه

۷ په هغه وخت کې حناني نبي اسا ته ورغی او ورته ويې ويل: «تا د خپل ښښتن خدای په ځای د سوريې په پاچا باندې تکيه کړې ده. اوس د سوريې لښکرې ستا له لاسه وتلې دي. ۸ په ياد دي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي چې د ایتوپیایانو او د لیبیایانو لښکرې چې زیات شمېر جنګي ګاډۍ او اس سواران یې درلودل، څومره زورورې وې؟ خو هغه وخت تا په څښتن باندې توکل وکړ چې مرسته درسره وکړي او هغوی ته دې ماتې ورکړه. ۹ څښتن په ځیر سره ټولې نړۍ ته ګوري او هغو خلکو ته قوت ورکوي چې هغه ته وفادار دي. تا د کم عقلتوب کار کړی دی، نو له دې څخه وروسته به تل په جګړه کې یې.»

۱۰ کله چې اسا دا خبرې واورېدلې، هغه دومره په نبي باندې په قهر شو چې حناني یې په زندان کې واچاوه. د هماغه وخت نه اسا په ځینو خلکو باندې خپل ظلمونه پیل کړل.

## د اسا مړینه

(لومړی پاچاهان ۱۵: ۲۳ – ۲۴)

۱۱ اسا چې د خپلې پاچاهۍ په وخت کې له شروع نه تر پایه پورې هرڅه وکړل هغه د یهودا او د اسراییلو د پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. ۱۲ اسا د خپلې پاچاهۍ په نهه دېرشم کال د پښو په یوې سختې ناروغۍ اخته شو. خو حتی په هغه وخت کې هم د مرستې دپاره هغه څښتن ته نه، بلکې ډاکترانو ته رجوع وکړه. ۱۳ دوه کاله وروسته هغه مړ شو. ۱۴ هغوی د هغه په مړي باندې ډول ډول خوشبویي او عطرونه لګولي وو او د هغه د درنښت دپاره یې یو ډېر لوی اور بل کړ. هغه د داود په ښار کې په هغه قبر کې ښخ شو چې هغه د خپل ځان دپاره جوړ کړی ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ ۱ یهوشافاط د خپل پلار اسا په ځای پاچا شو او د
اسراییلو په خلاف یې خپل ځان قوي کړ. ۲ هغه د یهودا په ټولو
قوي ښارونو کې عسکر او د یهودا په پاتې سیمه کې او همدارنګه د
افرایم په هغو ښارونو کې چې د هغه پلار اسا نیولي وو، نظامي
پوستې ځای په ځای کړې.

۳ څښتن د یهوشافاط سره مل ؤ، په دې خاطر چې یهوشافاط د
خپل نیکه داود هغه لاره غوره کړې وه چې هغه د خپلې پاچاهۍ په
پیل کې خپله کړې وه. هغه د بعل عبادت ونه کړ، ۴ بلکې هغه د
خپل پلار د خدای عبادت کاوه، د هغه حکمونه یې منل او د اسراییلو
د پاچاهانو غلطه لاره یې غوره نه کړه. ۵ نو څښتن هغه ته د
یهودا په پاچاهۍ باندې ټینګ واک ورکړی ؤ. د یهودا ټولو خلکو
یهوشافاط ته سوغاتونه راوړل او هغه ډېر شتمن او عزتمن شو. ۶
یهوشافاطپه پوره توګه څښتن ته وفادار پاتې شو. برسېره پردې هغه
په یهودا کې سیمه ییز عبادتځایونه او د اشیره بتان له منځه یوووړل.

۷ هغه د خپلې پاچاهۍ په درېم کال د یهودا ښارونو ته د زده
کړې دپاره دا لاندې مامورین ولېږل: بنحاییل، عوبدیا، زکریا، نتنییل
او میکایا. ۸ د هغوی سره نهه لاویان او دوه کاهنان لاړل. لاویان
دا وو: شمعیه، نتنیا، زبدیا، عساهیل، شمیراموت، یهوناتان، ادونیا،
طوبیا او طوب ادونیا. کاهنان دا وو: الیشمع او یهورام. ۹ هغوی د
څښتن د تورات کتاب واخیست او د یهودا په ټولو ښارونو کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګرځېدل او خلکو ته يې تعليم ورکاوه.

۱۰ د يهودا په شاوخوا پاچاهيو باندې د ښښتن وېره راغله، نو د
هغوی څخه هېچا په يهوشافاط باندې حمله ونه کړه. ۱۱ ځينو
فلسطينيانو د باج په توګه هغه ته سپين زر او نور سوغاتونه راوړل.
عربانو هغه ته اووه زره اووه سوه پسونه او په همدې شمېر وزان
راوړل.

۱۲ نو يهوشافاط نور هم د قدرت خاوند شو. هغه په يهودا کې
کلاګانې او د ګودامونو دپاره بنارونه ودان کړل ۱۳ چې هغه په کې
په لوی شمېر ذخيرې ساتلې وې. هغه په اورشليم کې يو شمېر زړور
او تکړه عسکر هم وساتل چې ۱۴ د خپلو طايفو له مخې راغونډ
شوي وو. د يهودا د طايفو څخه: ادنه د زر کسيزو ډلو لومړنی
قوماندان ؤ او درې لکه عسکر د هغه د قوماندې لاندې وو. ۱۵
يهوحانان دوهم قوماندان ؤ او دوه سوه اتيا زره عسکر يې د قوماندې
لاندې وو. ۱۶ د زکري زوی عمسيا چې په خپله خوښه د ښښتن
خدمت کاوه، هغه دريم قوماندان ؤ او دوه لکه عسکر يې تر لاس
لاندې وو. ۱۷ د بنيامين د طايفو څخه: لومړنی قوماندان يې
الياداع، يو زړور جنګيالی ؤ. دوه لکه عسکر د هغه د قوماندې لاندې
وو چې ټولو سره ليندې او سپرونه وو. ۱۸ دوهم قوماندان يې
يهوزاباد ؤ او يو لکو اتيا زره تنه وسله وال عسکر يې د قوماندې
لاندې وو.

۱۹ دغو عسکرو په اورشليم کې د پاچا خدمت کاوه او برسيره
پردې پاچا په ټوله سيمه کې نور عسکر هم درلودل چې د يهودا په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قوي شويو ښارونو کې يې ځای په ځای کړي وو.

## د ميکايا نبي خبرداری اخاب ته

(لومړی پاچاهان ۲۲: ۱ – ۲۸)

۱۸ ۱ يهوشافاط ډېر شتمن او عزتمن ؤ. هغه خپل زوی ته د
اخاب لور واده کړه او په دې ډول هغه د اخاب ملګری شو.

۲ يو څو کاله وروسته يهوشافاط د اخاب د ليدنې دپاره د
سامريې ښار ته ورغی. اخاب د يهوشافاط او د هغه د درباريانو د
درناوي دپاره ډېر پسونه او غوايان حلال کړل او يوه لويه مېلمستيا
يې جوړه کړه. هغه هڅه وکړه چې يهوشافاط دې خبرې ته راضي
کړي چې په جلعاد کې د راموت په ښار باندې په حمله کې د هغه
سره لاس يو کړي. ۳ د اسراييلو پاچا اخاب د يهودا د پاچا
يهوشافاط څخه پوښتنه وکړه: «ايا ته به زما سره لاړ شې چې په
راموت باندې حمله وکړو؟»

يهوشافاط په ځواب کې وويل: «هو، څه چې زما دي هغه ستا دي،
يعنې زه او زما خلک. مونږ به ستا سره په جګړه کې لاس يو کړو.
۴ خو پرېږده چې لومړی د ښښتن څخه پوښتنه وکړو.»

۵ اخاب نبيان راوغوښتل چې څلور سوه تنه وو او د هغو څخه
يې پوښتنه وکړه: «ايا مونږ په راموت باندې حمله وکړو که نه؟»

نبيانو ځواب ورکړ: «هو، خدای به ستاسو سره مرسته وکړي چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی ته ماتې ورکړئ.»

۶ خو یهوشافاط پوښتنه وکړه: «ایا دلته کوم بل نبي نشته چې د
هغه په وسیله مونږ د خښتن څخه مشوره وغواړو؟»

۷ د اسراییلو پاچا ځواب ورکړ: «دلته یو بل نبي هم شته، یعنې د
یمله زوی میکایا. خو زه د هغه څخه کرکه لرم، ځکه چې هغه
هېڅکله زما په هکله ښه پېشګویي نه کوي او تل بده پېشګویي
کوي.»

یهوشافاط ځواب ورکړ: «پاچا دې داسې خبره نه کوي.» ۸ بیا د
اسراییلو پاچا یو درباري راوغوښت او ورته ویې ویل: «لاړ شه او
زر میکایا زما حضور ته راوله!»

۹ اخاب او یهوشافاط دواړو خپل شاهانه کالي اغوستي وو او د
سامریې د دروازې تر څنګ په درمند ځای کې په خپلو تختونو
باندې ناست وو. ټولو نبیانو د هغوی په حضور کې پېشګویۍ کولې.
۱۰ د کنعنه زوی صدقیا چې د نبیانو د ډلې څخه ؤ، د خپل ځان
دپاره د اوسپنې څخه ښکرونه جوړ کړي وو، ویې ویل: «ای اخابه،
خښتن وایي چې ته به د دې ښکرونو په وسیله په سوریایانو باندې
حمله وکړې او هغوی به له منځه یوسې.» ۱۱ ټولو نبیانو دا ومنله
چې اخاب دې په راموت کې په سوریایانو باندې حمله وکړي او دا
یې هم وویل چې خښتن به د هغه سره مرسته کوي چې هغوی ته
ماتې ورکړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ په همدې وخت کې هغه استازی چې د میکایا پسې تللی ؤ
هغه ته يې وويل: «ای میکایا، ټولو نبیانو د اخاب دپاره د بریالیتوب
پېشګويي وکړه، اوس لاړ شه او د هغو خبره تایید کړه.»

۱۳ خو میکایا ځواب ورکړ: «زه د ژوندي څښتن په نوم قسم
خورم هرڅه چې زما خدای وايي زه به هماغه پاچا ته ووایم.»

۱۴ بیا میکایا اخاب ته ورغی او اخاب ورڅخه پوښتنه وکړه: «ای
میکایا، ایا مونږ راموت ته د جګړې دپاره لاړ شو یا نه؟»

میکایا ځواب ورکړ: «حمله ورباندې وکړئ، تاسو به بریالي شئ.
هغوی به تاسو ته تسلیم شي.»

۱۵ خو پاچا میکایا ته وويل: «څو ځلې باید زه تاته قسم درکړم
چې یوازې هغه څه راته ووایه چې څښتن ویلي دي؟»

۱۶ میکایا ځواب ورکړ: «ما ولیدل چې اسراییلي عسکر د هغو
پسونو په شان دي چې په غونډیو کې اخوا دې خوا ګرځي او شپون
نه لري. څښتن وويل: دغه لښکر مشر نه لري. نو پرېږده چې هغوی
په خیر سره خپلو کورونو ته لاړ شي.»

۱۷ اخاب، یهوشافاط ته وويل: «ما تاته ونه ویل چې هغه به زما
په هکله هېڅکله ښه پېشګويي ونه کړي، هغه یوازې بده پېشګويي
کوي؟»

۱۸ میکایا په ځواب کې وويل: «واورئ چې څښتن نور څه وويل!

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څښتن مې په اسمان کې ولید چې په خپل تخت باندې ناست ؤ او
ټولې فرښتې د هغه ښي او چپ اړخ ته ولاړې وې. ١٩ څښتن
پوښتنه وکړه: ‹څوک کولای شي چې اخاب د اسراییلو پاچا وغولوي
چې هغه راموت ته لاړ شي او هلته ووژل شي؟›

یو څو فرښتو یوه خبره او نورو بله خبره کوله. ٢٠ نو په پای کې
یوه ارواح رامخکې شوه، د څښتن په مخکې ودرېدله او هغه ته یې
وویل: ‹زه کولای شم چې اخاب وغولوم.› څښتن ورڅخه پوښتنه
وکړه: ‹څنګه؟› ٢١ ارواح ځواب ورکړ: ‹زه به د اخاب په ټولو
نبیانو باندې دروغ ووایم.›

څښتن ځواب ورکړ: ‹ښه ده. اوس لاړه شه او هغه وغولوه. ته به
بریالۍ شې.›

٢٢ ای اخابه! کټ مټ هماغسې وشول. څښتن ستا نبیان دې ته
مجبور کړل چې تاته دروغ ووایي، ځکه د څښتن اراده دا ده چې ستا
په سر باندې بلا راشي.»

٢٣ بیا د کنعنه زوی صدقیا، میکایا ته نژدې شو، په څپېړه یې
وواهه او پوښتنه یې ترې وکړه: «کله د څښتن روح زما څخه تللی
دی او ستا سره یې خبرې کړې دي؟»

٢٤ میکایا ځواب ورکړ: «په هغه ورځ به په دې باندې پوه شې
چې د یو کور په دننۍ کوټه کې پټ شې.»

٢٥ اخاب حکم وکړ: «میکایا ونیسئ! هغه د سامریې والي آمون او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شاهزاده یوآش ته ورولېږئ. ۲۶ هغوی ته ووایئ چې میکایا په زندان
کې واچوئ او ترخو پورې چې زه بېرته په خیر سره راستنېږم هغه ته
یوازې ډوډی او اوبه ورکوئ.»

۲۷ میکایا وویل: «که چېرې ته په خیر سره بېرته راستون شوې،
نو څښتن زما په وسیله خبرې نه وې کړې.» بیا یې ټولو خلکو ته
وویل: «ما چې څه وویل هغه هېر نه کړئ.»

## د اخاب مړینه

(لومړی پاچاهان ۲۲: ۲۹ – ۳۵)

۲۸ نو د اسراییلو پاچا اخاب او د یهودا پاچا یهوشافاط د خپلو
لښکرو سره د جلعاد راموت ته روان شول. ۲۹ مخکې له دې چې
هغوی جګړې ته لاړ شي، اخاب وویل: «ای یهوشافاطه! زه به خپله
څېره بدله کړم، خو ته خپله شاهانه چپنه واغونده.» نو اخاب خپله
څېره بدله کړه او هغوی جګړې ته لاړل.

۳۰ د سوریې پاچا د خپلو جنګي ګاډیو قوماندانانو ته امر وکړ:
«پرته د اسراییلو له پاچا څخه د بل چا سره جګړه ونه کړئ.» ۳۱
نو کله چې هغوی یهوشافاط په خپله شاهانه چپنه کې ولید، هغوی
فکر وکړ چې هغه اخاب دی، نو هغوی په هغه باندې د حملې دپاره
راوګرځېدل. خو یهوشافاط چیغې کړې او څښتن خدای د هغه سره
مرسته وکړه او هغوی یې ورڅخه لیرې کړل. ۳۲ کله چې هغوی
پوه شول چې هغه اخاب نه دی، نو د هغه د تعقیبولو څخه یې لاس
واخیست.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۳ خو د جګړې په وخت کې يو سورياي عسکر په غير ارادي
توګه يو غشى ګوزار کړ او هغه د اخاب د زغرو د کاليو په درز باندې
ولګېده. اخاب د خپلې جنګي ګاډۍ چلوونکي ته وويل: «راوګرځه
او ما د جګړې د ميدان څخه وباسه، ځکه چې زه ټپي شوى يم.»

۳۴ جګړه ټوله ورځ سختېدله، اخاب په خپلې جنګي ګاډۍ کې
تکيه وهلې وه او د هغه ځاى څخه يې د سوريايانو لښکرې ليدلې.
هغه تر مازديګره پورې هلته پاتې شو او د لمر پرېوتولو په وخت کې
مړ شو.

۱۹ ۱ د يهودا پاچا يهوشافاط خپلې ماڼۍ ته چې په اورشليم
کې وه په خيريت سره راستون شو.

۲ د حناني زوى ييهو چې يو نبي وُ د پاچا د ليدلو دپاره لاړ او
ورته ويې ويل: «ايا د بدو خلکو سره مرسته يا د هغو خلکو
طرفداري کول چې د څښتن څخه کرکه کوي، سم کار دى؟ په دې
خاطر د څښتن قهر او غضب په تا باندې راغلى دى! ۳ خو ستا
هر کار خراب نه دى. تا هغه بتان لېرې کړل چې د اشيره په عبادت
کې ورڅخه کار اخيستل کېده او ته په اخلاص سره غواړې چې د
څښتن عبادت وکړې.»

## د يهوشافاط اصلاحات

۴ يهوشافاط په اورشليم کې اوسېده، خو هغه به بيا بيا په جنوب

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې له بیرشبع څخه نیولې، په شمال کې د افرایم تر غرنی سیمې
پورې سفر کاوه. هغه د خلکو سره خبرې کولې او هغوی به یې
راضي کول چې بېرته د خپلو نیکونو څښتن خدای ته رجوع وکړي.
۵ هغه د یهودا په هر قوي شوي ښار کې قاضیان وټاکل ۶ او
هغوی ته یې دا لارښوونې وکړې: «په قضاوت کولو کې غور کوئ،
ځکه چې تاسو د انسان په خاطر نه بلکې د څښتن په خاطر قضاوت
کوئ. کله چې تاسو قضاوت کوئ څښتن ستاسو سره مل دی. ۷
نو بیا د څښتن څخه ووېرېږئ او په احتیاط او پام سره قضاوت کوئ
ځکه چې څښتن زمونږ خدای بې انصافي، طرفداري کول یا رشوت
اخیستل بد ګڼي.»

۸ یهوشافاط په اورشلیم کې هم ځینې لاویان، کاهنان او د کورنیو
مشران وټاکل چې د څښتن په خاطر قضاوت وکړي او د اورشلیم د
اوسېدونکو شخړې حل کړي. ۹ یهوشافاط هغوی ته دا لاندینی
لارښودنې ورکړې: «تاسو باید خپل کارونه په وفادارۍ او د زړه له
کومې د څښتن څخه په وېره کې تر سره کړئ. ۱۰ هرکله چې
ستاسو وطنداران د هر ښار څخه تاسو ته د قتل یا د یو قانون یا د
امر د ماتولو یوه دعوه راوړي، تاسو باید خلکو ته خبرداری ورکړئ
چې د څښتن په وړاندې ګناه ونه کړي، ترڅو هغه په قهر نه شي او
تاسو او ستاسو وطندارانو ته سزا ورنه کړي. یاد ساتئ، که چېرې د
دې لارښودنو څخه پیروي وکړئ، نو تاسو به مجرم او ګناهکار نه
ګڼل کیږئ.

۱۱ مشر کاهن یعني امریا به په هره شرعي دعوه کې وروستنی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرېکړه کوي او د اسماعیل زوی زبدیا یعني د یهودا د قبیلې مشر به
په نورو ټولو دعوو کې وروستنۍ پرېکړه کوي. پاتې لاویان به د
محکمې د مامورانو په توګه ستاسو خدمت کوي. زړور اوسئ او په
دغو لارښودونو باندې عمل وکړئ او څښتن دې د هغه چا سره مل
شي چې د حق طرفدار وي!»

## د موآب او عمون ماتې

۲۰ ۱ څه موده وروسته د موآب او د عمون لښکرو د معونیانو
سره لاس یو کړ او د یهوشافاط په وړاندې جګړې ته لاړل. ۲
څو کسان راغلل او یهوشافاط ته یې وویل: «د ادوم له خوا یو ډېر
لوی لښکر د آرام د دریاب له ختیځ څخه راغلی دی چې زمونږ په
هېواد باندې حمله وکړي. هغوی لا مخکې حززون تامار (عین جدي)
ته رسېدلي دي.»

۳ یهوشافاط ووېرېده، نو هغه اراده وکړه چې د څښتن څخه
لارښوونه وغواړي. بیا هغه حکم وکړ چې په ټوله یهودیه کې دې
روژه ونیول شي. ۴ د یهودا د هر ښار څخه خلک اورشلیم ته
راغلل، د دې دپاره چې د څښتن څخه مرسته وغواړي.

۵ وروسته له دې چې د یهودیې او د اورشلیم ټول خلک د
څښتن په کور کې راغونډ شول، یهوشافاط د نوې حویلۍ مخې ته
ودرېده ۶ او دعا یې وکړه: «ای زمونږ د نیکونو څښتن خدایه! ته
د اسمان څخه د نړۍ په هر قوم باندې پاچاهي کوې. ته دومره قوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زوروور يې چې هېڅوک نه شي کولای ستا په وړاندې ودرېږي.
٧ اې زمونږ خدايه! کله چې ستا قوم اسراييلو دې وطن ته کډه
وکړه، تا د دې ځای اوسېدونکي وشړل او دا ځمکه دې د خپل
دوست يعني د ابراهيم اولادې ته ورکړه چې د تل دپاره د هغوی شي.
٨ زمونږ نيکونه په دې ځمکه کې اوسېدل او ستا د نوم او عزت
دپاره يې کور جوړ کړ. ٩ هغوی پوهېدل چې هرکله په دې
خاوره باندې کومه بلا، يعني جګړه، وبا يا قحطي راشي، بيا هغوی
کولای شي چې راشي او ستا په حضور کې د دې کور مخې ته چې
ستا په نوم يادېږي، ودرېږي. هغوی کولای شي د تکليف په وخت
کې تاته دعا او زارۍ وکړي او ته به د هغوی دعا واورې او هغوی به
وژغورې.

١٠ ته ګورې چې د عمون، موآب او ادوم لښکر په مونږ باندې د
حملې دپاره راغلي دي. کله چې زمونږ نيکونه د مصر نه راووتل، تا
هغوی ته اجازه ورنه کړه چې د هغوی خاورې ته ورننوځي. نو
زمونږ نيکونو هغوی له منځه يو نه وړل او په بله لاره لاړل. ١١ د
هغې په بدل کې هغوی راغلي دي چې مونږ د هغې ځمکې څخه
وشړي چې تا راکړې ده. ١٢ اې زمونږ خدايه! ته قضاوت وکړه او
هغوی ته سزا ورکړه، مونږ څنګه د دې لوی لښکر په وړاندې ودرېږو
چې په مونږ باندې برید کوي؟ مونږ بې وسه يو. مونږ نه پوهېږو چې
څه وکړو، خو مونږ ستا مرستې ته سترګې په لاره يو.»

١٣ د يهودا ټول سړي د خپلو ښځو او ماشومانو سره د څښتن په
حضور کې ولاړ وو. ١٤ د څښتن روح په يو لاوي باندې چې په
غونډه کې حاضر ؤ، نازل شو. هغه يحزييل نومېده او د هغه شجره په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاندې ډول وه: پلار يې زکريا، نيکه يې بناياه، غور نيکونه يې يعييل
او متنيا وو. هغه د اساف د طايفې يو غړی ؤ.

۱۵ بيا يحزييل وويل: «اعليحضرته او د يهودا او د اورشليم ټولو
خلکو! څښتن وايي: ‹تاسو مه وېرېږئ او مه پرېږدئ چې دا ډېر لوی
لښکر تاسو بې زړه کړي. دا جنګ د خدای جنګ دی، ستاسو جنګ
نه دی. ۱۶ څنګه چې هغوی سبا ته د صيص کندو ته راوخېژي، نو
حمله ورباندې وکړئ. د درې په اخر سر کې چې يروييل ته نژدې
دښتې ته وتلی دی، مخامخ شئ. ۱۷ تاسو به حتی جګړې ته هم
مجبور نه شئ. يوازې په خپلو ځايونو کې ځای په ځای شئ او
انتظار وکړئ، تاسو به ووينئ چې څښتن به تاسو د خپلو دښمنانو
څخه وژغوري. ای د يهودا او د اورشليم خلکو، مه وېرېږئ او مه
بې زړه کېږئ. سبا ووځئ او د هغوی په وړاندې ودرېږئ. څښتن به
ستاسو سره مل وي.›»

۱۸ بيا يهوشافاط پاچا ټيټ شو او په ځمکه يې سجده وکړه او
نورو ټولو د يهودا او د اورشليم خلکو همداسې د څښتن عبادت وکړ.
۱۹ بيا د قهات او د قورح د طايفو لاويان ودرېدل او په ډېر لوړ
اواز يې د اسراييلو د څښتن خدای ثنا او صفت وکړ.

۲۰ بله ورځ سهار وختي خلک د تقوع دښتې ته روان شول. څنګه
چې هغوی حرکت وکړ، يهوشافاط ودرېده او ويې ويل: «د يهودا او د
اورشليم خلکو! په خپل څښتن خدای باندې باور وکړئ، ترڅو قوي
اوسئ. د هغه د نبيانو په خبرو باندې باور وکړئ، نو تاسو به بريالي
شئ.» ۲۱ د خلکو سره د مشورې څخه وروسته هغه څو کسان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وټاکل. د پاچا په حکم هغوی سپېڅلي کالي واغوستل، د دې دپاره
چې د لښکر مخې ته لاړ شي او د څښتن د ستاينې دپاره دا سندره
ووايي:

د څښتن شکر کوئ

ده ابدي د هغه مينه

٢٢ څنګه چې هغوی د څښتن د ستاينې سندرې پيل کړې، څښتن
يرغلګرې لښکرې په وارخطايۍ اخته کړې، ٢٣ نو د عمونيانو او
موآبيانو عسکرو د ادوم په عسکرو باندې حمله وکړه اوپه پوره توګه
يې له منځه يووړل. بيا هغوی د يو بل په خلاف شول او تر هغه وخته
پورې سره وجنګېدل ترڅو چې ټول لښکر له منځه لاړ!

٢٤ کله چې د يهودا لښکر هغه برج ته ورسېده چې دښتې ته
مخامخ ؤ، هغوی وليدل چې ټول دښمنان يې په ځمکه باندې مړه
پراته دي. يو يې هم نه ؤ تښتېدلی. ٢٥ نو يهوشافاط او د هغه
عسکر ورغلل چې غنيمت راټول کړي. هغوی ډېر سامان، کالي او
نور قيمتي شيان وموندل. غنيمت دومره زيات ؤ چې هغوی وړلی نه
شو. هغه دومره ډېر ؤ چې په راټولولو کې يې درې ورځې ولګېدلې.

٢٦ بيا په څلورمه ورځ هغوی د برکت په دره کې راغونډ شول او
هلته يې د څښتن ستاينه وکړه. نو ځکه هغه دره تر اوسه پورې د
برکت د درې په نوم يادېږي.

٢٧-٢٨ يهوشافاط خپل عسکر چې د يهودا او اورشليم څخه وو،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بېرته اورشليم ته بوتلل. هغوی د مارش کولو سره سم چنګونه،
ربابونه او سرني غږول. هغوی ډېر خوشحاله وو، ځکه چې څښتن
هغوی په خپلو دښمنانو باندې بريالي کړي وو، نو کله چې هغوی ښار
ته ورسېدل، د څښتن کور ته لاړل.

۲۹ کله چې نورو ټولو پاچاهانو واورېدل چې څښتن څنګه د
اسراييلو د دښمنانو په ضد جنګېدلی دی، په هغوی کې د خدای وېره
راپيدا شوه. ۳۰ په دې ډول يهوشافاط په سوله او ارامۍ کې
پاچاهي وکړه، ځکه چې خپل خدای ورته له هرې خوا ارامي ورکړې
وه.

## د يهوشافاط د پاچاهۍ پای

(لومړی پاچاهان ۲۲: ۴۱ – ۵۰)

۳۱ يهوشافاط د پنځه دېرشو کالو په عمر ؤ چې د يهودا پاچا شو
او هغه په اورشليم کې پنځه ويشت کاله پاچاهي وکړه. د هغه د مور
نوم عزوبه وه چې د شلحي لور وه. ۳۲ هغه د خپل پلار اسا په
شان هماغه کارونه وکړل چې د څښتن په نظر کې سم وو، ۳۳ خو
د عبادت سيمه ييز ځايونه وران نه شول. خلکو لا د زړه له کومې د
خپلو نيکونو د خدای عبادت نه ؤ غوره کړی.

۳۴ يهوشافاط چې د خپلې پاچاهۍ د پيل څخه تر پايه پورې نور
څه کارونه کړي وو، د حناني د زوی د ييهو په تاريخ کې چې د
اسراييلو د پاچاهانو د تاريخ د کتاب يوه برخه ده، ليکلي دي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣٥ یوځل د یهودا پاچا یهوشافاط د اسراییلو د پاچا اخزیا سره
چې ډېر بد کارونه یې کړي وو، لاس یو کړ. ٣٦ هغوی د
عصیون جابر په بندر کې سمندري کشتۍګانې جوړې کړې. ٣٧
خو د دودواهو زوی الیعازر چې د مریشه له ښارګوټي څخه ؤ،
یهوشافاط ته پېشګویي وکړه: «د دې په خاطر چې تا د اخزیا سره
لاس یو کړی دی، څښتن به هغه شیان له منځه یوسي چې تا جوړ
کړي دي.» کشتۍګانې ماتې شوې او هېڅکله له بندر نه لاړې نه
شوې.

# ٢١

١ یهوشافاط مړ شو او د داود د ښار په شاهي هدیره کې
ښخ شو. د یهوشافاط زوی یهورام د هغه په ځای پاچا شو.

٢ یهوشافاط اووه زامن درلودل چې دا یې نومونه وو: یهورام،
عزریا، یحییل، زکریا، عزریاهو، میکاییل او شفطیا. ٣ د هغوی
پلار هغوی ته ډېر زیات سوغاتونه یعنې سره زر، سپین زر او نور
قیمتي شیان ورکړي وو او هغوی یې د یهودا د قوي شویو ښارونو
مسؤولان ټاکلي وو. خو پاچاهي یې یهورام ته ورکړې وه، ځکه چې
هغه یې مشر زوی ؤ.

## د یهودا پاچا یهورام

(دوهم پاچاهان ٨: ١٧ – ٢٤)

٤ کله چې یهورام په پوره توګه د پاچاهۍ واک تر لاسه کړ، هغه
خپل ټول ورونه او د اسراییلو ځینې مامورین ووژل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ یهورام د دوه دېرشو کالو په عمر ؤ چې پاچا شو او اته کاله یې
په اورشلیم کې پاچاهي وکړه. ۶ یهورام لکه د اخاب د کورنۍ په
شان د اسراییلو د پاچاهانو لاره غوره کړه. د اخاب لور د یهورام
ښځه وه او هغه د څښتن په وړاندې ګناه وکړه، ۷ خو څښتن نه
غوښتل چې د داود شاهي کورنۍ له منځه یوسي، ځکه چې څښتن د
داود سره لوظ کړی ؤ او وعده یې کړې وه چې د هغه اولاده به تل په
یهودا باندې پاچاهي کوي.

۸ د یهورام په پاچاهۍ کې د ادوم خلک یاغي شول او د ځان
دپاره یې خپل پاچا وټاکه. ۹ نو یهورام او د هغه منصبداران د
خپلو جنګي ګاډیو سره روان شول او په ادوم باندې یې یرغل وکړ.
هلته د ادومیانو لښکرو هغوی کلابند کړل، خو هغوی وکولای شول
چې د شپې په تیاره کې له کلابندۍ څخه ووځي. ۱۰ یهودا هېڅکله
ونه شو کولای چې په ادوم باندې خپله واکمني بېرته تر لاسه کړي.
حتی د لبنه ښاریان هم په هغه وخت کې یاغي شول. دا ځکه وشول
چې یهورام د خپلو نیکونو د څښتن خدای څخه مخ اړولی ؤ. ۱۱
یهورام حتی د یهودا په غونډیو کې سیمه ییز عبادتځایونه هم جوړ
کړل او د پردیو خدایانو په عبادت کولو سره یې د یهودا او د اورشلیم
خلک بې لارې کړل.

۱۲ ایلیا نبي یهورام ته یو لیک واستاوه چې داسې یې په کې لیکلي
وو: «څښتن ستا د نیکه داود خدای داسې وایي: ته د خپل پلار
یهوشافاط پاچا یا د خپل نیکه اسا پاچا په لاره روان نه شوې. ۱۳
د هغې په ځای د اسراییلو د پاچاهانو په لاره روان شوې او د یهودا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د اورشليم خلک دې وهڅول چې د بتانو عبادت وکړي، لکه
څنګه چې اخاب او د هغه شاهي کورنۍ د اسراييلو د بې وفايۍ سبب
ګرځېدلي وو. تا حتی خپل ورونه هم ووژل چې ستا څخه ښه خلک
وو. ۱۴ په دې خاطر به څښتن ستا په خلکو، ښځو، ماشومانو او
ټولو شتمنيو باندې بده وبا راولي. ۱۵ په خپله ته به د کولمو په
يوې داسې سختې ناروغۍ اخته شې چې ورځ په ورځ زياتيږي، تر
هغې چې کولمې به دې راووځي.»

۱۶ څښتن د يهورام په ضد د فلسطينيانو او د عربانو چې
ايتوپيايانو ته نږدې اوسېدل، کينه راوپاروله. ۱۷ هغوی په يهودا
باندې حمله وکړه، شاهي ماڼۍ يې لوټ کړه او پرته له اخزيا چې د
هغه کشر زوی ؤ هغوی د پاچا ټولې ښځې او زامن د اسيرانو په توګه
بوتلل.

۱۸ بيا وروسته له هغې څښتن يهورام پاچا د کولمو په يوې
نه جوړېدونکې ناروغۍ اخته کړ. ۱۹ د وخت په تېرېدو سره د
دوهم کال په اخر کې د ناروغۍ له امله د هغه کولمې راووتلې او هغه
په رنځ او عذاب کې مړ شو. د هغه خلکو د هغه په وياړ اور بل نه کړ
لکه څنګه چې د هغه د نيکونو دپاره بل شوی ؤ.

۲۰ يهورام د دوه دېرش کلنۍ په عمر پاچا شوی ؤ او په اورشليم
کې يې اته کاله پاچاهي وکړه. د هغه په مړينې هېڅوک خواشينی نه
شو. هغوی هغه د داود په ښار کې ښخ کړ، خو په شاهي هديره کې
ښخنه کړ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د یهودا پاچا اخزیا

(دوهم پاچاهان ۸: ۲۵ – ۲۹، ۹: ۲۱ – ۲۸)

۲۲ ۱ ځینو عربانو د یرغلګرو مشري وکړه او حمله یې وکړه
او پرته له اخزیا چې کشر ؤ د یهورام ټول زامن یې ووژل. نو بیا د
اورشلیم خلکو اخزیا د هغه د پلار څخه وروسته پاچا کړ. ۲-۳
اخزیا د دوه ویشت کالو په عمر ؤ چې پاچا شو او یو کال یې په
اورشلیم کې پاچاهي وکړه. اخزیا هم د اخاب د کورنۍ په لاره روان
شو، ځکه چې د هغه مور عتلیا چې د اسراییلو د پاچا عمري لمسۍ
وه، هغه ته داسې مشورې ورکولې او هغه یې بدو کارونو ته هڅاوه.
۴ هغه داسې کارونه وکړل چې د څښتن په نظر کې بد وو، ځکه
چې د هغه د پلار د مړینې څخه وروسته د اخاب پاچا د کورنۍ نور
غړي د هغه مشاوران شول او د هغه د رانسکورېدلو سبب شول. ۵
اخزیا د هغوی مشوره ومنله او د اسراییلو د پاچا یورام سره لاړ چې
د جلعاد په راموت کې په حزاییل پاچا او د سوریې په لښکرو باندې
حمله وکړي. په دې جګړه کې د سوریې عسکرو یورام ټپي کړ، ۶
نو هغه د یزرعیل ښار ته راستون شو چې زخمونه یې روغ شي.
اخزیا د هغه د لیدلو دپاره هلته ورغی.

۷ خدای دا لیدنه کتنه د اخزیا د نسکورېدو سبب وګرځوله. کله
چې اخزیا ورسېده، هغه د یورام سره د ییهو د نمشي زوی د لیدلو
دپاره ووت. (ییهو هماغه سړی ؤ چې څښتن د اخاب د شاهي کورنۍ
له منځه وړلو دپاره غوره کړی ؤ.) ۸ ځنګه چې ییهو د خدای
پرېکړه د اخاب په شاهي کورنۍ باندې عملي کوله، هغه د یوې ډلې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره مخامخ شو چې د يهودا مشران او د اخزيا ورېرونه په کې وو
چې د اخزيا سره د هغه د خدمت دپاره تللي وو. يېهو هغه ټول
ووژل. ۹ وروسته بيا اخزيا ولټول شو او په سامره کې وموندل شو
چېرته چې هغه پټ ؤ. هغه يې يېهو ته وروست او هغوی اخزيا
وواژه. خو هغه يې د هغه د نيکه يعنې د يهوشافاط د درنښت په
خاطر چې د زړه له کومې يې د څښتن خدمت کړی ؤ، ښخ کړ. په
دې ډول د اخزيا د کورنۍ هېڅ غړی پاتې نه شو چې د يهودا پاچا
شي.

## د يهودا ملکه عتليا

(دوهم پاچاهان ۱۱: ۱ – ۳)

۱۰ خنګه چې عتليا واورېدل چې د هغې زوی اخزيا پاچا وژل
شوی دی، نو هغې پرېکړه وکړه چې د يهودا د شاهي کورنۍ ټول
غړي دې ووژل شي. ۱۱ اخزيا يوه ناسکه خور درلودله چې
يهوشبع نومېدله، هغه د يهوياداع نومې يو کاهن ښځه وه. هغې په پټه
د اخزيا يو زوی چې يوآش نومېده وژغوره. هغه يې په غلا د نورو
شاهزادګانو له منځه چې قتل کېدلو ته نژدې وو، يووړ او د هغه د
دايې سره يې د خدای د کور د خوب په يوه کوټه کې پټ کړ. په دې
ډول د هغه د قتل څخه چې د عتليا په لاس کېدونکی ؤ، مخنيوی
وشو. ۱۲ يوآش د هغوی سره د خدای په کور کې د شپږو کالو
دپاره چې ملکې عتليا په يهودا کې پاچاهي کوله، پټ پاتې شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د عتلیا په ضد یاغیتوب

(دوهم پاچاهان ۱۱: ۴ – ۱۶)

۲۳ ۱ د شپږ کالو انتظار څخه وروسته یهویاداع کاهن پرېکړه
وکړه چې اوس د دې وخت رارسېدلی دی چې یو کار وشي. هغه د
دغو پنځو عسکري منصبدارانو سره تړون وکړ: د یروحام زوی
عزریا، د یهوحانان زوی اسماعیل، د عوبید زوی عزریا، د عدایا زوی
معسیا او د زکري زوی الیشافاط. ۲ هغوی د یهودا ټولو ښارونو
ته سفر وکړ او ټول لاویان او د اسراییلو د طایفو مشران یې اورشلیم
ته راغونډ کړل.

۳ هغوی ټول د خدای په کور کې سره راغونډ شول او هلته یې د
یوآش یعنې د پاچا د زوی سره یو لوظ وکړ. یهویاداع هغوی ته
وویل: «دا د پاچا زوی دی. لکه څنګه چې څښتن وعده کړې ده
چې د داود اولاده به پاچاهان وي، نو هغه باید پاچا شي. ۴ مونږ
به داسې وکړو: د کاهنانو او د لاویانو درې ډلې به د سبت په ورځ په
خپله وظیفه کې موجودې وي. یوه ډله به د خدای د کور د دروازو
ساتنه کوي ۵ او بله ډله به د شاهي ماڼۍ ساتنه کوي او پاتې نور
به په هغه دروازه کې چې د بنیاد په نوم یادیږي، ودرول شي. نور
ټول خلک به د څښتن د کور په حویلۍ کې سره راغونډ شي. ۶
پرته له کاهنانو او لاویانو چې په دنده کې دي، هېڅوک دې د څښتن
کور ته نه ننوځي. پورته نومول شوي کاهنان او لاویان کولای شي
چې ورننوځي، ځکه چې هغوی پاک شوي دي، خو پاتې خلک باید
د څښتن د لارښوونو اطاعت وکړي او دباندې پاتې شي. ۷

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاویان دې په داسې حال کې د پاچا په شاوخوا کې پهره وکړي چې
خپلې تورې يې راويستلې وي او هر چیرته چې پاچا ځي، هغوی
دې ورسره وي. هرڅوک چې د څښتن کور ته د ننوتلو هڅه وکړي،
هغه دې ووژل شي.»

۸ لاويانو او د يهودا خلکو د يهوياداع کاهن د حکمونو څخه
پيروي وکړه. قومندانان په دريو ډلو کې د خپلو ټولو ساتونکو سره
حاضر شول، هغو کسانو چې د سبت په ورځ يې وظيفه لرله او هغوی
چې په همدې ورځ رخصتيدل، ځکه يهوياداع هغوی ته اجازه ورنه
کړه چې خپلو کورونو ته لاړ شي. ۹ يهوياداع هغه نيزې او
سپرونه قومندانانو ته ورکړل چې د داود پاچا وو او د خدای په کور
کې ساتل شوي وو. ۱۰ بيا هغه د خدای د کور د جنوبي خوا څخه
نيولې تر شمالي خوا پورې د پاچا د ساتلو دپاره ټول خلک په وسلو
سمبال او د خدای د کور او قربانۍ د ځای شاوخوا ته يې ځای په
ځای کړل. ۱۱ يهوياداع او د هغه زامنو يوآش دباندې راوويست، د
هغه په سر يې تاج کېښود او د پاچاهۍ د قانون يو نقل يې ورته
ورکړه. د هغه په سر باندې يې د زيتونو تېل واچول چې دا وښايي
چې هغه اوس پاچا شو، په هغه وخت کې خلکو چيغې ووهلې:
«ژوندی دې وي پاچا!»

۱۲ عتليا د خلکو د منډو او د پاچا دپاره د ستاينې اوازونه
واوريدل، نو هغه د څښتن کور ته چې خلک په کې راغونډ شوي وو،
ورغله. ۱۳ هغې هلته د څښتن د کور په دروازه کې نوی پاچا وليد
چې د پاچاهانو ځانګړې ستنې سره ولاړ وو او قومندانان او سرنې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غږوونکي د هغه په خوا کې ولاړ وو. ټولو خلکو خوشحالي کوله او
سرني يې غږول او د څښتن د کور موسيقي غږوونکو چې خپلې د
موسيقۍ آلې ورسره وې د جشن مشري کوله. عتليا د ډېر قهر نه
خپل کالي وشلول او چيغې يې ووهلې: «خيانت! خيانت!»

۱۴ يهوياداع نه غوښتل چې عتليا د څښتن په کور کې ووژله شي،
نو هغه د لښکرو قوماندانان راوغوښتل او ويې ويل: «عتليا د لښکرو
د قطارونو څخه دباندې وباسئ او هر هغه څوک چې د هغې د
ژغورلو هڅه وکړي هغه ووژنئ.» ۱۵ نو قوماندانانو عتليا هغې
دروازې ته راوويستله چې اسونه به په کې ماڼۍ ته ورننوتل او هلته
يې ووژله.

## د يهوياداع اصلاحات

(دوهم پاچاهان ۱۱: ۱۷ – ۲۰)

۱۶ يهوياداع کاهن د ځان، د ټولو خلکو او د يوآش پاچا په منځ
کې لوظ وکړ چې دوی به د څښتن خدمتګاران وي. ۱۷ بيا ټول
خلک د بعل بتخانې ته ورغلل او هغه يې راوغورځوله. هغوی د
قربانۍ ځايونه او بتان ټوټې ټوټې کړل او متان چې د بعل کاهن ؤ
هغه يې د قربانۍ ځايونو مخې ته وواژه. ۱۸ يهوياداع کاهنان او
لاويان د څښتن د کور د کار مسؤولان وټاکل. هغوی به هغه وظيفې
سرته رسولې چې د داود پاچا له خوا ورته سپارل شوې وې او هغه
قربانۍ به يې سوځولې چې څښتن ته د موسی د شريعت له مخې
وړاندې کېدلې. هغوی د موسيقۍ او د جشنونو مسؤولان هم وو. ۱۹

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یهویاداع د څښتن د کور په دروازو کې ساتونکو ته وظیفه ورکړه چې
ناپاکه خلکو ته د ننوتلو اجازه ورنه کړي.

۲۰ په اخر کې یهویاداع ټول قوماندانان، د یهودا ډېر مهم ښاریان او
حکومتي مامورین راوغوښتل. څنګه چې هغوی یوآش د څښتن د
کور څخه د پورتنی دروازې په لار ماڼۍ ته روان کړ، د خلکو
ګڼه ګوڼه هغوی پسې روانه شوه او هلته یې هغه د یهودا د پاچا په
توګه په تخت کښېناوه. ۲۱ نو ټولو خلکو خوشحالي کوله او په
ښار کې کراره کراري وه، ځکه چې عتلیا وژل شوې وه.

## د یهودا پاچا یوآش

(دوهم پاچاهان ۱۲: ۱ – ۱۶)

**۲۴** ۱ یوآش اووه کلن ؤ چې د یهودا پاچا شو او په اورشلیم
کې یې څلوېښت کاله پاچاهي وکړه. د هغه مور زبیه د بیرشبع د ښار
څخه وه. ۲ ترڅو پورې چې یهویاداع ژوندی ؤ، یوآش هغه
کارونه کول چې څښتن ورباندې خوشحالېده. ۳ یهویاداع د
یوآش پاچا دپاره دوه ښځې خوښې کړې، بیا یوآش د هغوی څخه د
څو زامنو او لوڼو خاوند شو.

۴ کله چې د یوآش د پاچاهۍ یو څه موده تېره شوه، هغه پرېکړه
وکړه چې د څښتن کور بېرته جوړ کړي. ۵ هغه کاهنانو او لاویانو
ته حکم وکړ: «د یهودا ښارونو ته لاړ شئ او زر تر زره د خپل
خدای د کور د کلنی رغونې دپاره د ټولو اسراییلیانو څخه پیسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راټولې کړئ.» خو لاويانو ځنډ وکړ، ٦ نو وروسته پاچا مشر
کاهن يهوياداع خپل حضور ته راوغوښت او ورته ويې ويل: «تا ولې
لاويان د هغې ماليې د راټولولو دپاره چې د خدای خدمتګار موسی
په اسراييليانو باندې ايښې وه، نه دي لېږلي، ترڅو هغه د يهودا او د
اورشليم څخه راټوله کړي او سپېڅلې خېمې ته يې راوړي؟»

٧ (د هغې بدکارې ښځې يعنې د عتليا پيروان د خدای کور ته
ننوتي وو او د ټولو سپېڅلو شيانو څخه يې د بعل په عبادت کې کار
اخيست.)

٨ د پاچا د حکم سره سم يو صندوق جوړ شو او هغه يې د
څښتن د کور د دروازې دباندې کېښود. ٩ هغوی د اورشليم او د
يهودا ټولو خلکو ته پيغام ولېږه چې څښتن ته هغه ماليه راوړي چې
موسی د څښتن خدمتګار د اسراييلو په خلکو باندې په دښته کې
ټاکلې وه. ١٠ خلکو او د هغوی مشرانو چې دا خبره واورېدله، نو
خوشحاله شول او هغوی د خپلې ماليې پيسې راوړې او صندوق يې
ورڅخه ډک کړ. ١١ لاويانو به په منظم ډول صندوق د پاچا
درباريانو ته وروړ. هرکله به چې هغه ډکېده، شاهي منشي او د لوی
کاهن استازي به پيسې ورڅخه راويستلې او صندوق به يې بېرته په
خپل ځای کې کېښود. دا کار به هره ورځ کېده او په دې ډول هغوی
ډېرې پيسې راټولې کړې.

١٢ يوآش او يهوياداع به پيسې هغو سړيو ته ورکولې چې د څښتن
د کور د رغونې څارنه يې کوله. هغه پيسې به يې د ګلکارانو، نجارانو،
اهنګرانو او د مسګرانو په نيولو کې لګولې. ١٣ هغوی ټولو ډېر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سخت کار وکړ او د خدای کور يې بېرته خپل اصلي حالت ته
راوست او هغه يې قوي جوړ کړ. ۱۴ کله چې د بيا رغولو کار پای
ته ورسېده، پاتې سره او سپين زر پاچا او يهوياداع ته ورکړل شول.
هغوی د هغو څخه د څښتن د کور دپاره د کاسو او نورو لوښو په
جوړولو کې کار واخيست، يعنې د هغه د سوځېدونکو نذرانو او د
نورو کارونو دپاره.

## د يهواش بدکاري

ترڅو پورې چې يهوياداع ژوندی ؤ، د څښتن په کور کې
سوځېدونکې نذرانې په منظم ډول وړاندې کېدلې. ۱۵ يهوياداع د
زوړوالي عمر ته ورسېده او په يوسلو دېرش کلنۍ کې مړ شو. ۱۶
هغه د داود د ښار په شاهي هديره کې ښخ شو، ځکه چې هغه د
اسراييلو د قوم، د خدای او د خدای د کور دپاره ښه کارونه کړي وو.

۱۷ وروسته له دې چې يهوياداع مړ شو، د يهودا مشران راغلل او
پاچا ته يې د درناوي په خاطر خپل سرونه ټيټ کړل. هغوی پاچا
راضي کړ چې د هغوی خبرو ته غوږ ونيسي. ۱۸ نو خلکو د
څښتن يعنې د هغوی د نيکونو د خدای په کور کې عبادت کول بس
کړل او د اشيره او د نورو بتانو عبادت يې پيل کړ. د هغوی د دغه
ګناه په سبب د څښتن قهر په يهودا او په اورشليم باندې نازل شو.
۱۹ څښتن هغوی ته د خبرداري ورکولو دپاره نبيان ورولېږل چې
بېرته هغه ته رجوع وکړي، خو خلکو ورته غوږ ونه نيوه. ۲۰ بيا د
څښتن روح د يهوياداع کاهن په زوی يعنې په زکريا باندې نازل شو.
هغه په داسې ځای کې ودرېده چې خلکو ته ښکاره کېده او غږ يې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړ: «ښښتن خدای پوښتنه کوي: ‹ولې تاسو زما د امرونو څخه
سرغړونه کړې ده او په ځان باندې افت راولئ؟ د دې په خاطر چې
تاسو زما څخه مخ اړولی، ما هم ستاسو څخه مخ اړولی دی.›» ۲۱
یوآش پاچا د زکریا په خلاف په دسیسه کې ملګری شو او خلکو د
پاچا په حکم زکریا د ښښتن د کور په حویلۍ کې سنګسار کړ. ۲۲
پاچا هغه د وفادارۍ خدمتونه هېر کړل چې د زکریا پلار یهویاداع د
هغه دپاره کړي وو او هغه زکریا وواژه. زکریا د ځنکدن په وخت کې
غږ وکړ: «ښښتن دې ستا دا اعمال ووېني او ستا نه دې زما بدل
واخلي!»

## د یوآش د پاچاهۍ پای

۲۳ د هماغه کال په اخر کې د سوریې لښکرو په یهودا او په
اورشلیم باندې حمله وکړه، د قوم ټول مشران یې ووژل او ټول
غنیمت یې خپل پاچا ته چې په دمشق کې ؤ، ولېږه. ۲۴ د سوریې
لښکر کوچنی ؤ، خو ښښتن هغوی پرېښودل چې د یهودا یو ډېر لوی
لښکر ته ماتې ورکړي، ځکه چې خلکو د خپلو نیکونو د ښښتن
خدای څخه مخ اړولی ؤ. په دې ډول یوآش پاچا ته سزا ورکړل
شوه. ۲۵ هغه ډېر سخت زخمي شو او کله چې دښمنان لاړل، د
هغه دوو درباریانو هغه ته دسیسه جوړه کړه. هغه یې په خپله بستره
کې وواژه او د یهویاداع کاهن د زوی د قتل بدل یې ورڅخه
واخیست. هغه د داود په ښار کې ښخ شو، خو په شاهي هدیره کې
ښخ نه شو. ۲۶ (هغه کسانو چې د هغه په ضد یې دسیسه جوړه
کړه، زاباد د شمعت عمونۍ زوی او یهوزاباد د شمریت موآبۍ زوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ؤ.) ۲۷ د یوآش د زامنو کیسې، هغه پېشګویۍ چې د هغه په ضد
شوې دي او هغه څنګه د خدای کور بیا جوړ کړ، دا ټول د پاچاهانو
د کتاب په تفسیر کې لیکل شوي دي. د هغه زوی امصیا د هغه په
ځای پاچا شو.

## د یهودا پاچا امصیا

(دوهم پاچاهان ۱۴: ۲ – ۶)

۲۵ ۱ امصیا د پنځه ویشت کلنۍ په عمر پاچا شو او په
اورشلیم کې یې نهه ویشت کاله پاچاهي وکړه. د هغه مور یهوعدان
نومېدله چې د اورشلیم څخه وه. ۲ هغه داسې کارونه کول چې د
څښتن په نظر کې ښه وو، خو د زړه له کومې یې نه کول. ۳ څنګه
چې امصیا د یهودا واک تر لاسه کړ، نو هغه درباریان چې پاچا یعنې
د ده پلار یې په قتل رسولی ؤ، ویې وژل. ۴ خو د هغو قاتلانو
اولادونه یې ونه وژل. دا ځکه چې هغه په دې اړه د هغه شریعت
پیروي وکړه چې د موسی د تورات په کتاب کې دی. لکه څنګه چې
څښتن حکم کړی ؤ: «پلرونه دې د هغو جرمونو په خاطر نه وژل
کیږي چې د هغوی اولادونو کړي وي او اولادونه دې د هغو جرمونو
په خاطر نه وژل کیږي چې د هغوی پلرونو کړي وي. هرڅوک دې
یوازې د هغو جرمونو دپاره ووژل شي چې هغوی په خپله کړي
وي.»

## د ادوم په ضد جنګ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ امصیا پاچا د یهودا او د بنیامین د قبیلو ټول سړي په پوځي ډلو
کې د هغو د طایفو له مخې چې دوی ورپورې تړاو درلود، تنظیم کړل
او قوماندانان یې د زرو او سلو تنو لرونکو ډلو په سر کې ځای په
ځای کړل. په دې کې د شلو کالو او د هغې څخه د زیات عمر
لرونکي سړي موجود وو چې ټول درې سوه زره کسان وو. هغوی
غوره شوي عسکر وو چې د جګړې دپاره تیار وو او د نېزو او
سپرونو د کارولو مهارت یې درلود. ۶ برسېره پر دې هغه سل زره
زړور عسکر د اسراییلو څخه د شاوخوا درې زره او څلور سوه
کیلوګرامه سپینو زرو په بیه اجیر ونیول. ۷ خو یو نبي پاچا ته
ورغی او ورته ویې ویل: «دا د اسراییلو عسکر مه پرېږده چې ستا
سره لاړ شي، ځکه چې څښتن د شمال د پاچاهۍ د خلکو سره مل
نه دی. ۸ ته به دا فکر کوې چې هغوی به تاته په جګړه کې قوت
درکړي، خو خدای دا قدرت لري چې تاته بری یا ماتې ورکړي او
هغه به ستا دښمنان پرېږدي چې تاته ماتې درکړي.»

۹ امصیا د نبي څخه پوښتنه وکړه: «خو هغه ټول سپین زر به
څنګه کیږي چې ما د اسراییلو عسکرو ته ورکړي دي؟»

نبي په ځواب کې وویل: «څښتن بېرته د هغه څخه ډېر درکولای
شي!» ۱۰ نو امصیا اجیر اسراییلي عسکر بېرته خپل وطن ته
رخصت کړل. په دې خاطر هغوی د یهودا په خلکو ډېر په قهر شول
او په ډېر قهر سره خپلو کورونو ته ستانه شول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ امصیا بېرته خپل همت تر لاسه کړ او خپل لښکر یې د مالګې
درې ته بوتلو. هغوی هلته وجنګېدل او لس زره ادومي عسکر یې
ووژل. ۱۲ هغوی نور لس زره تنه عسکر ونیول او د ګړنګ سر ته
یې وخېژول. بیا یې د هغه ځای نه راوغورځول او ټول لاندې په
ګټېونو باندې ټوټې ټوټې شول.

۱۳ په دې ترخ کې هغو اسراییلي عسکرو ته چې امصیا اجازه نه
وه ورکړې چې د هغه سره جګړې ته لاړ شي، د یهودا په ښارونو
باندې چې د سامریې او د بیت حورون ترمنځ وو حمله وکړه، درې
زره کسان یې ووژل او په زیاته اندازه غنیمت یې ونیوه.

۱۴ کله چې امصیا ادومیانو ته د ماتې ورکولو څخه راستون شو، د
هغوی بتان یې د خپل ځان سره راوړل. هغه یې د خپلو بتانو په شان
ودرول، د هغو عبادت یې وکړ او قرباني یې ورته وسوځولې. ۱۵
په دې خبره څښتن په قهر شو، نو هغه امصیا ته یو نبي ورولېږه. نبي
پوښتنه وکړه: «ولې دې د پردیو خدایانو عبادت وکړ چې حتی خپل
خلک یې هم ستا له لاسه ونه شو ژغورلی؟»

۱۶ امصیا د هغه خبره ونیوله او ویې ویل: «چاته د پاچا مشاور
کړې یې؟ چوپ شه که نه، نو وبه دې وژنم!»

نبي غلی شو، خو دا خبره یې وکړه: «اوس زه پوهېږم چې خدای ستا
د تباه کولو پرېکړه کړې ده، ځکه چې تا دا ټول کارونه کړي دي او
زما مشورې ته دې پام نه دی کړی.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اسراییلو په خلاف جنګ

(دوهم پاچاهان ۱۴: ۸ – ۲۰)

۱۷ امصیا د یهودا پاچا د خپلو مشاورانو سره خبرې وکړې، بیا یې
د اسراییلو پاچا د ییهو لمسي او د یهواخاز زوی یهواش ته داسې
پیغام ورولېږه: «راوځه او په جګړه کې زما سره مخامخ شه!»

۱۸ خو یهوآش بېرته دا ځواب ورولېږه: «یوځل په لبنان کې د
اغزیو یو بوټي د سبر یوې ونې ته پیغام ورولېږه: ستا لور باید زما د
زوی سره واده وکړي. خو یو وحشي ځناور راغی او هغه بوټی یې
تر پښو لاندې کړ. ۱۹ امصیا، ته اوس لاپې وهې چې تا ادومیانو ته
ماتې ورکړې ده، خو زه تاته دا مشوره درکوم چې په کور کې پاتې
شه. که کومه ستونزه دې رامنځته کړه، ته او ستا د یهودا پاچاهي به له
منځه لاړه شي.»

۲۰ خو امصیا ورته غوږ ونه نیوه. دا د خدای رضا وه چې امصیا او
د هغه عسکر د دښمن لاس ته ولوېږي، ځکه چې هغوی د ادومي
بتانو عبادت کړی ؤ. ۲۱ نو د اسراییلو پاچا یهوآش د یهودا د پاچا
امصیا په ضد جګړې ته لاړ. هغوی د یهودا په بیت شمس کې سره
مخامخ شول، ۲۲ او د یهودا لښکرو ماتې وخوړله. د یهودا ټول
عسکر بېرته خپلو کورونو ته وتښتېدل. ۲۳ یهواش، د یوآش زوی
او د اخزیا لمسی امصیا، ونیوه او اورشلیم ته یې بوتلو. هلته یې د
ښار دېوال د افرایم د دروازې څخه نیولې د کنج تر دروازې پورې
وران کړ. د دېوال برخه نږدې دوه سوه متره اوږده وه. ۲۴ هغه د
ځښتن د کور ټول سره او سپین زر د غنیمت په توګه سامریې ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یووړل، همدارنګه هغه سامان یې هم یووړ چې د عوبید ادوم اولادې
یې ساتنه کوله او د ماڼۍ خزانې یې هم یوړې. ځینې خلک یې
یرغمل ونیول او بیا سامریې ته راستون شو.

۲۵ د یهواش د مړینې څخه وروسته امصیا پنځلس کاله ژوند وکړ.
۲۶ امصیا چې د خپلې پاچاهۍ د پیل نه تر پایه پورې نور څه
کړي دي، هغه د اسراییلو او د یهودا د پاچاهانو په تاریخ کې لیکل
شوي دي. ۲۷ د هغه وخت راهیسې چې هغه د څښتن څخه مخ
اړولی دی، په اورشلیم کې د امصیا د وژلو دپاره دسیسه جوړه شوه،
نو هغه د لاکیش ښار ته وتښتېده. خو دښمنانو یې امصیا پسې نور
خلک ورولېږل او هغه یې هلته وواژه. ۲۸ د هغه مړی په اس
باندې بېرته اورشلیم ته یووړل شو او د داود د ښار په شاهي هدیره
کې ښخ شو.

## د یهودا پاچا عزیا

(دوهم پاچاهان ۱۴: ۲۱ – ۲۲، ۱۵: ۱ – ۷)

**۲۶** ۱ د یهودا ټولو خلکو د امصیا شپاړس کلن زوی عزیا د
هغه د پلار په ځای د پاچا په توګه غوره کړ. ۲ (عزیا د خپل پلار
تر مړینې وروسته د ایلوت ښارګوټی د یهودا دپاره بېرته ونیوه او بیا
یې ودان کړ.)

۳ عزیا د شپاړس کلنۍ په عمر پاچا شو او په اورشلیم کې یې
دوه پنځوس کاله پاچاهي وکړه. د هغه د مور نوم یکلیا ؤ چې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اورشلیم ښځه وه. ۴ عزیا د خپل پلار په شان د ښښتن اطاعت
کاوه او ښه کارونه یې کول. ۵ زکریا د عزیا مشاور ؤ او هغه یې د
خدای اطاعت ته هڅاوه. نو ترڅو پورې چې زکریا ژوندی ؤ، عزیا
خدای ته رجوع وکړه او خدای هغه بریالی کړ.

۶ عزیا د فلسطینیانو په ضد جګړې ته لاړ. هغه د جت، یبنه او د
اشدود د ښارونو دیوالونه وران کړل او اشدود ته نژدې او په پاتې
فلسطین کې یې ښارونه ودان کړل. ۷ خدای د هغه سره مرسته
وکړه چې فلسطینیانو ته، هغو عربانو ته چې په جور بعل کې اوسېدل
او همدارنګه معونیانو ته ماتې ورکړي. ۸ عمونیانو عزیا ته باج
ورکاوه او هغه دومره قوي شو چې شهرت یې د مصر تر پولې پورې
خپور شو.

۹ عزیا د اورشلیم د کنج په دروازې، د درې په دروازې او په
هغه ځای کې قوي برجونه جوړ کړل چېرته چې د ښار دیوال تاو
شوی ؤ. ۱۰ هغه په دښته کې هم قوي برجونه جوړ کړل او د اوبو
ډېرې ذخیرې یې وکیندلې، ځکه چې هغه د غرونو په لوېدیځو لمنو
او ډاګونو کې ډېرې پادې درلودلې. هغه د کرنې سره مینه درلودله، نو
هغه په غرنۍ سیمه کې د خپلو انګورو د باغونو دپاره باغوانان او په
حاصلخېزه خاوره کې د خپلو فصلونو د کرنې دپاره دهقانان درلودل.

۱۱ عزیا د جګړې دپاره یوه تیاره اردو درلودله چې د فرقو ښځه
جوړه شوې وه. د هغوی شمېر د یعییل منشي او د هغه مرستیال
معسیا له خوا ټاکل کېدل او اداره کېدله. حننیا د پاچا یو درباري او د
اردو عمومي قوماندان ؤ. ۱۲ دوه زره او شپږ سوه د طایفو مشران

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د پوځ قوماندانان وو. ۱۳ د دوی د لاس لاندې درې لکه اووه زره
او پنځه سوه عسکر وو چې په قوت سره يې د پاچا دپاره د هغه د
دښمنانو په ضد جګړه کوله. ۱۴ عزيا لښکر ته سپرونه، نېزې،
خولۍ، د زغرو کورتۍ، ليندې او غشي او په مچنوغزو کې د ويشتلو
دپاره تيږې ورسولې. ۱۵ په اورشليم کې د هغه ماهرو کارګرانو
داسې ماشينونه جوړ کړل چې غشي او لويې تيږې يې د برجونو او د
ښار د دېوال د کنجونو څخه ورباندې ګزار کړې. د هغه شهرت په
هرځای کې خپور شو او هغه د هغې مرستې له امله چې د خدای
څخه يې تر لاسه کوله، ډېر قوي شو.

## د غرور په خاطر د عزيا سزا

۱۶ خو کله چې عزيا پاچا قوي شو، نو هغه مغرور شو چې همدا
يې د رانسکورېدلو سبب شو. عزيا د خپل ښښتن خدای سره خيانت
وکړ، ځکه چې د ښښتن کور ته ننوت چې خوشبويي په خپل
ځانګړي ځای کې وسوځوي. ۱۷ خو عزريا کاهن چې اتيا تنه
قوي او زړور د ښښتن کاهنان ورسره وو، عزيا پسې لاړ، ۱۸ چې
هغه منع کړي. هغوی ووېل: «عزيا! ته هېڅ حق نه لرې چې ښښتن
ته خوشبويي وسوځوې. يوازې هغه کاهنان چې د هارون د اولادې
څخه دي، د دې کار دپاره وقف شوي دي. د دې سپېڅلي ځای نه
لاړ شه. تا د ښښتن خدای په وړاندې ګناه کړې ده او هغه به تاته نور
عزت نه درکوي.»

۱۹ عزيا د ښښتن په کور کې د خوشبويي د سوځولو د ځای په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څنګ کې ولاړ ؤ او د خوشبويۍ د سوځولو لوښی يې په لاس کې ؤ.
هغه په کاهنانو باندې په قهر شو او سمدلاسه يې په تندي باندې
جذام راښکاره شو. ۲۰ مشر کاهن عزريا او نورو کاهنانو په وېرې
سره د پاچا تندي ته کتل او بيا يې هغه په بيړه د څښتن د کور څخه
دباندې وويست. هغه زر زر د هغه ځای څخه لاړ، ځکه چې څښتن
هغه په مرض اخته کړ.

۲۱ عزيا پاچا د عمر تر پايه پورې د جذام په ناروغۍ اخته ؤ او له
همدې امله هغه د خلکو او د څښتن د کور نه لېرې په يو کور کې
اوسېده. د هغه زوی يوتام د ماڼۍ او هېواد واک درلود.

۲۲ هغه نور ټول کارونه د پيل نه تر پايه پورې چې عزيا پاچا د
خپلې پاچاهۍ په دوران کې کړي وو، د آموص زوی اشعيا نبي ثبت
کړل. ۲۳ عزيا مړ شو او د دې په خاطر چې هغه په جذام اخته ؤ،
هغه يې په ځانګړې شاهي هديره کې ښخ نه کړ. د هغې په ځای يې
هغه د پاچاهانو په يوې بلې هديره کې ښخ کړ. بيا د عزيا زوی يوتام
د هغه په ځای پاچا شو.

## د يهودا پاچا يوتام

(دوهم پاچاهان ۱۵: ۳۲ – ۳۸)

# ۲۷

۱ يوتام د پنځه ويشت کلنۍ په عمر پاچا شو او په
اورشليم کې يې شپاړس کاله پاچاهي وکړه. د هغه مور يروشه د
صادوق لور وه. ۲ يوتام د خپل پلار په شان هغه کارونه کول چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د څښتن په نظر کې ښه وو، خو د هغه په شان يې د څښتن کور ته په
ننوتلو سره ګناه نه کوله. خو بيا هم خلکو خپلو بدو رواجونو ته دوام
ورکړ.

۳ دا يوتام ؤ چې د څښتن د کور پاسنۍ دروازه يې بيا جوړه کړه
او د ښار په هغه ديوال باندې يې ډېر کار وکړ چې د اورشليم د عوفل
په سيمه کې ؤ. ۴ هغه د يهودا په غرونو کې ښارونه ودان کړل او
په ځنګلونو کې يې کلاوې او د څارنې برجونه جوړ کړل. ۵ هغه
د عمون د پاچا او د هغه لښکر په ضد جګړه وکړه او هغوی ته يې
ماتې ورکړه. عمونيانو د درېو کالو دپاره په هر کال کې هغه ته درې
زره او څلور سوه کيلوګرامه سپين زر، زر ټنه غنم او زر ټنه اوربشې
باج ورکاوه. ۶ يوتام قوي شو، ځکه چې هغه په وفادارۍ سره د
خپل څښتن خدای اطاعت کاوه. ۷ د يوتام د پاچاهۍ نورې
پېښې، د هغه جګړې او کړنلارې ټولې د اسراييلو او يهودا د پاچاهانو
د تاريخ په کتاب کې ليکل شوې دي. ۸ يوتام د پنځه ويشت
کلنۍ په عمر پاچا شو او په اورشليم کې يې شپاړس کاله پاچاهي
وکړه. ۹ يوتام مړ شو او د داود د ښار په شاهي هديره کې ښخ
شو. بيا د هغه زوی آحاز د هغه په ځای پاچا شو.

## د يهودا پاچا آحاز

(دوهم پاچاهان ۱۶: ۱ – ۴)

۲۸ ۱ آحاز شل کلن ؤ چې پاچا شو او شپاړس کاله يې په
اورشليم کې پاچاهي وکړه. هغه د خپل نيکه داود لاره غوره نه کړه او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې کارونه يې ونه کړل چې د څښتن په نظر کې ښه وو. ۲
آحاز د اسراييلو د پاچاهانو لاره غوره کړه. هغه د بعل د اوسپنې بتان
جوړ کړل او ۳ د بن هنوم په دره کې يې ورته خوشبويي
وسوځوله. حتی خپل زامن يې هم د سوځېدونکو نذرانو په توګه
قرباني کړل. دا د هغو قومونو ناوړه رواج ؤ چې څښتن د اسراييلو د
وړاندې تک سره سم شړلي وو. ۴ آحاز په سيمه ييزو
عبادتځايونو، غونډيو او د هرې سيوري لرونکې ونې لاندې قرباني
کولې او خوشبويي يې سوځولې.

## د احاز جګړه د سوريې او د اسراييلو سره

(دوهم پاچاهان ۱۶: ۵)

۵-۶ د دې په خاطر چې آحاز ګناه وکړه، د هغه څښتن خدای
د سوريې پاچا پرېښود چې آحاز ته ماتې ورکړي او د يهودا زيات
شمېر خلک دمشق ته د اسيرانو په توګه بوځي. څښتن د اسراييلو
پاچا د رمليا زوی فقح هم پرېښود چې آحاز ته ماتې ورکړي او په
يوه ورځ د يهودا يو سلو شل زره ډېر زړور عسکر ووژني. د هغوی د
نيکونو څښتن خدای پرېښودل چې همداسې وشي، ځکه چې د يهودا
خلکو د هغه څخه مخ اړولی ؤ. ۷ يو اسراييلي عسکر چې زکري
نومېده د آحاز پاچا زوی معسيا، د ماڼۍ د چارو مدير عزريقام او
القانه چې د پاچا څخه وروسته دوهم سړی ؤ، ووژل. ۸ که څه
هم د يهودا خلک د هغوی خپلوان وو، خو د اسراييلو لښکرو دوه
سوه زره ښځې او ماشومان د اسيرانو په توګه ونيول او د ډېر زيات
غنيمت سره يې سامريې ته بوتلل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عودید نبي

۹ د څښتن یو نبي چې عودید نومېده، هغه د سامریې په ښار کې
اوسېده. ځنګه چې د اسراییلو لښکر ښار ته د یهودا د اسیرانو سره
لاړل، عودید ورسره مخامخ شو او ورته ویې ویل: «ستاسو د نیکونو
څښتن خدای په یهودا باندې په قهر شو او تاسو یې پرېښودئ چې
هغوی ته ماتې ورکړئ، خو اوس هغه خبر شوی دی چې تاسو په
څومره په بې رحمۍ سره هغوی ووژل. ۱۰ اوس تاسو دا نیت لرئ
چې د اورشلیم او د یهودا سړي او ښځې خپل غلامان کړئ. ایا په
دې نه پوهېږئ چې تاسو هم د خپل څښتن خدای په وړاندې
ګناهونه کړي دي؟ ۱۱ ماته غوږ ونیسئ! دا اسیران ستاسو خپلوان
دي. هغوی بېرته ولېږئ که نه، نو د څښتن قهر او غضب به په تاسو
باندې نازل شي.»

۱۲ د اسراییلو د شمال د پاچاهۍ دغو څلورو مشرانو هم د لښکر د
دې کار مخالفت وکړ: د یهوحانان زوی عزریا، د مشلیموت زوی
برکیا، د شلوم زوی یحزقیا او د حدلای زوی عماسا. ۱۳ هغوی
وویل: «هغه اسیران دلته مه راولئ! ځکه په دې کار سره مونږ د
خدای په وړاندې ګناهکاروئ. مونږ لا پخوا د څښتن په وړاندې
زیاته ګناه کړې ده، تاسو غواړئ چې زمونږ ګناه لا نوره هم زیاته
شي. نژدې دی چې د خدای قهر او غضب په مونږ باندې نازل شي.»
۱۴ نو بیا لښکرو اسیران او غنیمت خلکو او د هغوی مشرانو ته
وسپارل. ۱۵ پورته څلورو ذکر شویو سړیو ته وظیفه وسپارل شوه
چې هغو اسیرانو ته چې لوڅ وو په غنیمت نیول شوي کالي ورکړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی اسیرانو ته د اغوستلو دپاره کالي او د پښو دپاره څپلۍ
ورکړې. همدارنګه هغوی ته يې خوراک او څښاک ورکړ او د زيتونو
تېل يې د هغوی په زخمونو باندې واچول. هغه چې ډېر کمزوري وو
او مزل يې نه شو کولای، په خرو يې سپاره کړل او ټول اسيران بېرته
اريحا ته چې د خرما د ونو ښار دی، د هغوی خپل قوم ته يوووړل
شول. بيا اسراييليان سامريې ته راستانه شول.

## د احاز له خوا د اشور څخه د مرستې غوښتنه

(دوهم پاچاهان ۱۶: ۷ – ۹)

۱۶-۱۷ ادوميانو بيا په يهودا باندې حمله پيل کړه او اسيران يې
ونيول، نو آحاز پاچا د تغلت فلاسر يعنې د آشور د پاچا څخه د
مرستې غوښتنه وکړه. ۱۸ په دې وخت کې فلسطينيانو په هغو
ښارونو باندې حمله کوله چې د غرونو په لوېديځو لمنو او جنوبي
يهودا کې پراته وو. هغوی د بيت شمس، ايالون او د جديروت ښارونه
ونيول. همدارنګه يې د سوکوه، تمنه او د جمزو ښارونه، د هغو د
شاوخوا کليو سره هم ونيول. بيا هغوی په دې ځايونو کې مېشت
شول. ۱۹ له دې کبله چې د يهودا پاچا آحاز خپل خلک بدکارۍ
ته هڅولي وو او د څښتن نافرماني يې کړې وه، نو څښتن د يهودا
خلک خوار او ذليل کړل. ۲۰ بيا د آشور پاچا تغلت فلاسر يهودا
ته راغی، خو د دې په ځای چې د آحاز سره مرسته وکړي، د هغه
مخالفت يې وکړ او هغه يې د کړاوونو سره مخامخ کړ. ۲۱ نو آحاز
د څښتن د کور، د ماڼۍ او د خلکو د مشرانو د کورونو څخه قيمتي
شيان واخيستل او د اشور پاچا ته يې ورکړل، خو دې کار هم څه ګټه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ونه کړه.

## د آحاز ګناهونه

۲۲ حتی وروسته له دې چې په احاز باندې دا وېروونکې پېښې
وشوې، هغه د څښتن په وړاندې د پخوا څخه هم زياته ګناه وکړه.
۲۳ هغه د ځان سره وويل: «د سوريايانو خدايانو به هرومرو د
هغوی د پاچاهانو سره مرسته کړې وي چې ماته ماتې راکړې. کېدای
شي که چېرې زه هغو خدايانو ته قرباني وړاندې کړم، زما سره به هم
مرسته وکړي.» دا هغه ګناه وه چې په اخر کې د احاز د رانسکورېدلو
او د ټولو اسراييليانو د تباهۍ سبب شوه. ۲۴ برسېره پر دې، هغه د
خدای د کور ټول سامان واخيست او هغه يې ټوټې ټوټې کړ. هغه د
څښتن کور بند کړ او د اورشليم په هره برخه کې يې د قربانۍ ځايونه
جوړ کړل. ۲۵ هغه د يهودا په هر ښار کې بتانو ته د عبادت ځايونه
جوړ کړل چې پرديو خدايانو ته خوشبويي په کې وسوځول شي. هغه
په دې ډول د خپلو نيکونو څښتن خدای په خپل ځان باندې په قهر
کړ.

۲۶ آحاز چې د خپلې پاچاهۍ په دوران کې د اول نه تر پايه نور
څه کړي وو، د يهودا او د اسراييلو د پاچاهانو د تاريخ په کتاب کې
ليکل شوي دي. ۲۷ آحاز مړ شو او په اورشليم کې په يوه هديره
کې چې شاهي هديره نه وه، ښخ شو. بيا د هغه زوی حزقيا د هغه په
ځای پاچا شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د یهودا پاچا حزقیا

(دوهم پاچاهان ۱۸: ۱ – ۳)

۲۹ ۱ حزقیا پنځه ویشت کلن ؤ چې پاچا شو او هغه نهه
ویشت کاله په اورشلیم کې پاچاهي وکړه. د هغه د مور نوم ابیا ؤ چې
د زکریا لور وه. ۲ هغه لکه د خپل نیکه داود پاچا په شان هغه
کارونه وکړل چې د څښتن په نظر کې ښه وو.

## د خدای د کور پاکول

۳ حزقیا د خپلې پاچاهۍ د لومړي کال په لومړۍ میاشت د
څښتن د کور دروازې پرانیستې او هغه یې بېرته جوړې کړې. ۴
هغه د څښتن د کور په ختیځې حوېلۍ کې کاهنان او لاویان راغونډ
کړل ۵ او هلته یې ورسره خبرې وکړې. هغه وویل: «ای لاویانو
زما خبرې واورئ، خپل ځانونه او د خپلو نیکونو د څښتن خدای
کور پاک کړئ او د کور څخه ناپاک شیان لیرې کړئ. ۶ زمونږ
نیکونه زمونږ څښتن خدای ته بې وفا وو او هغه کارونه یې کول چې
د هغه په نظر کې بد وو. هغوی څښتن پرېښود او د هغه د اوسېدو
ځای ته یې شا کړه. ۷ هغوی د څښتن د کور دروازې بندې کړې،
څراغونه یې مړه کړل او د اسراییلو د خدای په کور کې یې خوشبویي
یا سوځېدونکې نذرانې هغه ته وړاندې نه کړې. ۸ له دې کبله
څښتن په یهودا او په اورشلیم باندې ډېر په قهر شو. تاسو په دې ښه
پوهېږئ، هغه څه چې څښتن په هغوی باندې کړي دي په هغې ټول
خلک وویرېدل، وارخطا او مسخره شول. ۹ له همدې امله زمونږ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پلرونه په جګړه کې ووژل شول او زمونږ ښځې، زامن او لونې د
اسیرانو په توګه یوووړل شول.

۱۰ اوس ما پرېکړه کړې ده چې د اسراییلو د څښتن خدای سره
یو لوظ وکړم ترڅو د هغه سخت قهر زمونږ څخه لېرې شي. ۱۱
زما زامنو، په خپلو وظیفو کې بې پروایي مه کوئ. څښتن تاسو د دې
دپاره غوره کړي یئ چې د هغه په حضور کې ودرېږئ او د هغه
خدمت وکړئ او هغه ته خوشبويي وسوځوئ.»

۱۲-۱۴ کله چې حزقیا خپلې خبرې پای ته ورسولې، نو د
لاویانو دا لاندېني مشران خپلې وظیفې ته لاړل:

د قهات له طایفې څخه، د عماسای زوی محت او د عزریا
زوی یوییل.
د مراري له طایفې څخه، د عبدي زوی قیس او د یهلل ییل
زوی عزریا.
د جرشون له طایفې څخه، د زمه زوی یوآخ او د یوآخ زوی
عدن.
د الیصافان له طایفې څخه، شمري او یعي ییل.
د اساف له طایفې څخه، زکریا او متنیا.
د هیمان له طایفې څخه، یحییل او شمعي.
د یدوتون له طایفې څخه، شمعیه او عزییل.

۱۵ دغو سړیو خپل لاویان ورونه راغونډ او هغوی ټولو خپل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځانونه پاک کړل. بیا هغوی د څښتن د شریعت سره سم او د پاچا په
امر د څښتن د کور په پاکولو پیل وکړ. ۱۶ کاهنان د څښتن کور ته
ننوتل چې هغه پاک کړي او هغوی هغه هرڅه د کور حویلۍ ته
راوویستل چې ناپاک وو. د هغه ځای نه لاویانو دا ټول شیان د ښار
څخه دباندې د قدرون درې ته یووړل. ۱۷ د لومړۍ میاشتې په
لومړۍ ورځ کار پیل شو او په اتمه ورځ هغوی دا ټول کار د څښتن د
کور تر برنډې پورې ورساوه. بیا هغوی اته ورځې نورې کار وکړ او د
میاشتې تر شپاړسمې ورځې پورې یې د څښتن کور پاک او هغه یې
د عبادت دپاره تیار کړ.

## حزقیا او د خدای د کور بیا وقفول

۱۸ بیا لاویان د حزقیا پاچا حضور ته ورغلل او ورته ویې ویل:
«مونږ د څښتن د ټول کور د پاکولو کار پای ته ورساوه چې د
سوځېدونکو نذرانو د قربانۍ ځای، د سپېڅلې ډوډۍ مېز او د هغو
ټول سامان په کې شامل دي. ۱۹ مونږ هغه ټول سامان هم بېرته
راوړی دی چې احاز پاچا د هغو کلونو په دوران کې وړی ؤ کله چې
هغه خدای ته بې وفا شو او مونږ هغه بېرته وقف کړی دی. هغه ټول
مو د څښتن د قربانۍ د ځای په مخکې ایښي دي.»

۲۰ حزقیا پاچا بله ورځ سهار وختي د ښار مشران راغونډ کړل او
هغوی یو ځای د څښتن کور ته لاړل. ۲۱ هغوی د شاهي کورنۍ
او د یهودا د خلکو دپاره او همدارنګه د څښتن د کور د پاکوالي دپاره
اووه غویان، اووه پسونه، اووه ورې او اووه وزان د ګناه د نذرانې په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

توګه راوړل. پاچا کاهنانو يعنې د هارون اولادې ته امر وکړ چې هغه
د خښتن د قربانۍ په ځای باندې قرباني کړي. ۲۲ کاهنانو لومړی
غويان، بيا پسونه او بيا يې وري حلال کړل. د هرې قربانۍ د
حلالېدلو څخه وروسته يې د هغو وينه د قربانۍ په ځای باندې
وشيندله. ۲۳ په پای کې کاهنانو وزې د ګناه د نذرانې دپاره پاچا
او نورو عبادت کوونکو ته وروړلې او عبادت کوونکو خپل لاسونه
ورباندې کېښودل. ۲۴ بيا کاهنانو وزان حلال کړل او د هغو وينه
يې د ټولو خلکو د ګناه د کفارې دپاره د قربانۍ په ځای باندې
وشيندله، ځکه چې پاچا امر کړی ؤ چې سوځېدونکې نذرانې او د
ګناه نذرانې دې د ټولو اسراييلو دپاره وړاندې شي.

۲۵ پاچا په هغه حکم باندې عمل وکړ چې خښتن داود پاچا ته د
پاچا د نبي يعنې د جاد او د ناتان نبي په وسيله کړې وې. حزقيا،
لاويان د خښتن په کور کې په داسې حال کې ودرول چې تالونه،
چنګونه او ربابونه، ۲۶ يعنې هغه ډول آلې ورسره وې چې داود
پاچا ورڅخه کار اخيستی ؤ. کاهنان هم د سرنيو سره هلته ودرېدل.
۲۷ حزقيا حکم وکړ چې سوځېدونکې نذرانه دې د قربانۍ په ځای
کې وړاندې شي. څنګه چې د هغې وړاندې کول پيل شول، خلکو
خښتن ته د ستاينې سندرې وويلې او ساز غږوونکو د سرنيو او د
موسيقۍ د نورو آلو په غږولو سره د هغوی ملګرتيا کوله. ۲۸ ټول
عبادت کوونکي په سجده شول او سندرو او د سرنيو غږولو تر هغه
وخته پورې دوام وموند، ترڅو چې د ګناه نذرانه وسوځېدله. ۲۹ د
مراسمو په پای کې، حزقيا پاچا او ټول خلک په سجده شول او د
خدای عبادت يې وکړ. ۳۰ پاچا او د قوم مشرانو لاويانو ته امر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړ چې ښښتن ته د ستاینې هغه سندرې ووایي چې داود او اساف
نبي لیکلې وې. نو هغوی په ډېرې خوښۍ سره سندرې وویلې، بیا
هغوی په سجده شول او د خدای عبادت یې وکړ.

۳۱ حزقیا خلکو ته وویل: «اوس چې تاسو د سپېڅلتوب له مراسم
سره خپل ځانونه ښښتن ته وقف کړل، نو د هغه کور ته قربانۍ او د
شکرانې نذرانې راوړئ.» خلکو دا خبره ومنله او د هغوی څخه ځینو
په خپله خوښه حیوانات هم راوستل چې د سوځېدونکو نذرانو په
توګه قرباني شي. ۳۲ هغوی اویا غویان، سل پسونه او دوه سوه
وری د سوځېدونکو نذرانو په توګه د ښښتن دپاره راوړل. ۳۳ هغه
حیوانات چې د قربانیو دپاره سپېڅلي شوي وو، د هغو شمېر شپږ
سوه غویانو او درې زره پسونو او وزانو ته رسېده. ۳۴ له دې کبله
چې د کاهنانو شمېر لږ ؤ، هغوی نه شو کولای چې د قربانۍ د ټولو
حیواناتو پوستکي وباسي، نو څکه ترڅو چې نورو کاهنانو خپل
ځانونه پاک کړل، د هغوی ورونه یعنې لاویان، د دې کار د سرته
رسولو دپاره حاضر شول چې د هغوی سره مرسته وکړي. (د ځان په
پاک ساتلو کې د کاهنانو په پرتله لاویان وفادار وو.) ۳۵ د زیات
شمېر سوځېدونکو نذرانو څخه پرته، کاهنانو د سولې د نذرانو د
وازګې د سوځولو مسوولیت په غاړه درلود. همدارنګه یې د هغو
شرابو د تویولو مسوولیت هم په غاړه درلود چې د سوځېدونکو
نذرانو سره وړاندې کېدل. په دې ډول د ښښتن کور د عبادت دپاره
تیار شو. ۳۶ حزقیا پاچا او ټولو خلکو د دې دپاره خوشحالي کوله
چې خدای ورسره مرسته وکړه چې دا ټول کارونه زر تر سره کړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د فسحې د اختر دپاره تیاری

۱-۳ د کال په لومړۍ میاشت خلکو نه شو کولای چې د
فسحې اختر په سم وخت ولمانځي، ځکه چې زیات شمېر کاهنانو
خپل ځانونه پاک کړي نه وو او په اورشلیم کې ډېر خلک راغونډ
شوي نه وو. نو حزقیا پاچا، د هغه درباریان او د اورشلیم خلک په
دې راضي شول چې دا اختر به په دوهمه میاشت ولمانځي او پاچا د
اسراییلو او د یهودا ټولو خلکو ته پیغام ولېږه. هغه د افرایم او د منسي
قبیلو ته لیکونه ولېږل او هغوی ته یې بلنه ورکړه چې په اورشلیم کې
د ښښتن کور ته راشي، د دې دپاره چې د اسراییلو د ښښتن خدای د
درناوي دپاره د فسحې اختر ولمانځي. ۴ د هغوی پلان پاچا او
ټولو خلکو ته ښه ښکاره شو، ۵ نو هغوی پرېکړه وکړه چې ټولو
اسراییلو ته بلنه ورکړي یعنې په شمال کې له دان څخه نیولې په
جنوب کې تر بیرشبع پورې چې په اورشلیم کې سره راټول شي او د
اسراییلو د ښښتن خدای دپاره د فسحې اختر ولمانځي. هغوی
غوښتل چې د شریعت سره سم اختر د زیات شمېر خلکو له خوا
ولمانځل شي، مخکې داسې نه وو. ۶ د پاچا په حکم، استازي په
ټولو اسراییلو او یهودا کې د دې بلنې سره وګرځېدل چې پاچا او د
هغه درباریانو لیکلی ؤ. متن یې دا ؤ:

«ای د اسراییلو خلکو، تاسو بېرته د ابراهیم، اسحاق او یعقوب ښښتن
خدای ته راوګرځئ، ترڅو هغه هم تاسو ته چې د آشور د پاچاهانو
له لاسه تښتېدلي یئ، دروګرځي. ۷ د خپلو نیکونو او نورو
اسراییلیانو په شان مه اوسئ چې د خپلو نیکونو ښښتن خدای ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بې وفا وو. تاسو ګورئ چې څښتن هغوی ته سخته سزا ورکړه. ۸
د خپلو نیکونو په شان خپل زړونه مه سختوئ بلکې د څښتن اطاعت
کوئ. هغه کور ته راځئ چې په اورشلیم کې دی کوم چې ستاسو
څښتن خدای د تل دپاره سپېڅلی کړی دی او د هغه عبادت کوئ،
ترڅو هغه په تاسو باندې په قهر نه شي. ۹ که چېرې تاسو څښتن
ته راوګرځئ، بیا به هغه خلک چې ستاسو کورنی یې د اسیرانو په
توګه بیولي دي، په هغوی باندې به زړه وسوځوي او بېرته به هغوی
کور ته راپرېږدي. ستاسو څښتن خدای مهربانه او رحیم دی او که
چېرې تاسو هغه ته راوګرځئ، نو هغه به تاسو قبول کړي.»

۱۰ استازي د افرایم او د منسي د قبیلو په سیمه کې د یو ښار څخه
بل ښار ته لاړل او تر شمال پورې د زبولون قبیلې ته ورسېدل، خو
خلکو په هغوی پورې خندل او ملنډې یې ورباندې وهلې. ۱۱
بیاهم د اشیر، منسي او د زبولون د قبیلو ځینو خلکو عاجزي وښودله
او اورشلیم ته لاړل. ۱۲ خدای د یهودا خلک هم د دې دپاره سره
یو موټی کړل چې د هغه اطاعت وکړي او د پاچا او د هغه د
درباریانو حکمونه ومني.

## د فسحې د اختر لمانځنه

۱۳ په دوهمه میاشت زیات شمېر خلک په اورشلیم کې سره
راغونډ شول چې د فطیرې ډوډۍ اختر ولمانځي. ۱۴ هغوی د بتانو
د عبادت هغه ټول ځایونه لېرې کړل چې په اورشلیم کې ورڅخه د
قربانیو په وړاندې کولو او د خوشبویۍ په سوځولو کې کار اخیستل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېده او هغه يې د قدرون په دره کې وغورځول. ۱۵ د دوهمې
مياشتې په څوارلسمه ورځ هغوی د فسحې د اختر د قربانۍ دپاره
ورې حلال کړل. هغه کاهنان او لاويان چې پاک نه وو، دومره
خجالته شول چې خپل ځانونه يې پاک کړل او بيا هغوی کولای شول
چې د څښتن په کور کې سوځېدونکې نذرانې قرباني کړي. ۱۶
هغوی د خدای نبي يعنې د موسی د شريعت د لارښوونو سره سم د
خدای په کور کې خپل ځايونه ونيول. لاويانو د قربانيو وينه کاهنانو
ته ورکوله او هغوی هغه وينه د قربانۍ په ځای باندې شيندله. ۱۷
له دې امله چې په غونډه کې ډېرو خلکو خپل ځانونه پاک کړي نه
وو، هغوی ونه شو کولای چې د فسحې د اختر ورې حلال کړي، نو
لاويانو د هغوی دپاره دا کار کاوه او ورې يې څښتن ته وقفول.
۱۸-۱۹ د هغو خلکو څخه چې د افرايم، منسي، يساکار او زبولون
د قبيلو څخه راغلي وو، ډېرو يې د پاکېدو مراسم تر سره کړي نه وو
او هغوی د شريعت سره سم د فسحې د اختر ډوډۍ نه خوړله. حزقيا
پاچا د هغوی دپاره داسې دعا وکړه: «ای څښتنه، د خپلې نېکۍ له
مخې هغه خلک وبخښه چې د زړه له کومې ستا يعنې د خپلو نيکونو
د څښتن خدای عبادت کوي، که څه هم هغوی د کور د اصولو له
مخې سپېڅلي نه دي.» ۲۰ څښتن د حزقيا دعا قبوله کړه، هغه
خلک وبخښل او هغوی ته يې زيان ونه رساوه. ۲۱ هغو خلکو
چې په اورشليم کې راغونډ شوي وو، اووه ورځې په ډېرې
خوشحالۍ سره د فطيرې ډوډۍ اختر ولمانځه او لاويانو او کاهنانو به
هره ورځ په خپل ټول قوت سره د موسيقۍ په غږولو سره د څښتن
ستاينه کوله. ۲۲ حزقيا د لاويانو د هغه مهارت ستاينه وکړه چې
هغوی د څښتن د عبادت په سرته رسولو کې د ځانه ښودلی ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلکو اووه ورځې د اختر ډوډۍ وخوړله، د سولې نذرانې يې وړاندې
کړې او د خپلو نيکونو د ښښتن خدای ستاينه يې وکړه. ۲۳ ټولو
خلکو پرېکړه وکړه چې اووه ورځې نورې هم جشن ونيسي. نو
هغوی په خوشحالۍ سره جشن ونيوه. ۲۴ حزقيا پاچا زر غويان او
اووه زره پسونه خلکو ته ورکړل چې حلال يې کړي او ويې خوري
او درباريانو هغوی ته زر نور غويان او لس زره نور پسونه ورکړل.
زيات شمېر کاهنانو د سپېڅلتوب مراسم تر سره کړل. ۲۵ نو د
يهودا خلکو، کاهنانو، لاويانو، هغو خلکو چې د اسراييلو څخه راغلي
وو او هغه بهرنيان چې په اسراييلو او يهودا کې د تل دپاره مېشته
شوي وو، خوشحالي کوله. ۲۶ د اورشليم ښار د خوشحالۍ څخه
ډک ؤ، ځکه چې د اسراييلو د پاچا د داود زوی سليمان د زمانې
څخه تر هغې ورځې پورې داسې مراسم نه وو نيول شوي. ۲۷
کاهنانو او لاويانو د خلکو دپاره د ښښتن برکت وغوښت. خدای په
اسمان يعنې په خپل سپېڅلي ځای کې د هغوی دعاګانې واورېدلې او
هغه يې قبولې کړې.

## د حزقيا له خوا د مذهبي ژوند اصلاح کول

۳۱ ۱ وروسته له دې چې اختر پای ته ورسېده، د اسراييلو
ټول خلک د يهودا هر ښار ته لاړل او د تيږو ستنې يې ماتې کړې، د
اشيره بتان يې راوغورځول او د قربانۍ ځايونه او سيمه ييز
عبادتځايونه يې وران کړل. هغوی د يهودا په پاتې سيمه کې او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بنیامین، افرایم او منسي په سیمو کې هم همداسې وکړل. بیا هغوی
ټول خپلو کورونو ته ستانه شول.

۲ حزقیا پاچا د کاهنانو او د لاویانو ډلې بېرته جوړې کړې او په
دې ډلو کې هر یو تن ځانګړې وظیفې درلودلې. په دغو وظیفو کې د
سوځېدونکو نذرانو او د سولې نذرانو وړاندې کول، د خدای په کور
کې په عبادت کې برخه اخیستل، شکرګزاري کول او د کور په
دروازو کې ستاینه کول شامل وو. ۳ حزقیا پاچا د خپلو رمو او
پادو څخه هر سهار او ماښام د سوځېدونکو نذرانو دپاره حیوانات
تیارول او همدارنګه د سبت په ورځ، د نوې میاشتې په اختر کې او
په هغو نورو اخترونو کې چې د څښتن د شریعت غوښتنه وه،
حیوانات برابرول. ۴ برسېره پر دې، پاچا د اورشلیم خلکو ته
وویل هغه نذرانې راوړي چې کاهنانو او لاویانو یې د اخیستلو حق
درلود، ترڅو هغوی وکولای شي چې د څښتن د شریعت د شرطونو
د عملي کولو دپاره خپل ټول وخت وقف کړي. ۵ څنګه چې
حکم ورکړل شو، د اسراییلو قوم د سخاوت له مخې د خپلو لومړنیو
ښو غلو دانو، شرابو، د زیتونو تېلو، شاتو او د نورو حاصلاتو څخه
سوغاتونه راوړل او هغوی د خپل هر شي عشر هم راوړ. ۶ د
یهودا او د اسراییلو خلکو چې د یهودا په ښارونو کې اوسېدل، د
خپلو پادو او رمو عشر راوړ او د هغو سوغاتونو عشر یې هم راوړ
چې خپل څښتن خدای ته یې وقف کړي وو. هغه سوغاتونه یې په
انبارونو کې کېښودل. ۷ په درېیمه میاشت د سوغاتونو رارسېدل
پیل او په راتلونکو څلورو میاشتو کې سره انبار شول. ۸ کله چې
حزقیا پاچا او د هغه درباریانو ولیدل چې دومره سوغاتونه ورکړل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوي دي، هغوی د څښتن او د هغه د قوم يعنې د اسراييلو ستاينه
وکړه. ۹ پاچا د کاهنانو او د لاويانو څخه د دغو سوغاتونو په
هکله پوښتنه وکړه ۱۰ او عزريا چې مشر کاهن او د صادوق د
اولادې څخه ؤ، پاچا ته وويل: «د هغه وخت راهيسې چې خلکو د
خدای کور ته د خپلو نذرانو راوړل پيل کړل، مونږ په پوره اندازه
وخوړل، خو اوس هم ډېر شيان پاتې دي. دا له دې امله چې څښتن
خپلو خلکو ته برکت ورکړی دی.»

۱۱ هغوی د پاچا په حکم د خدای په کور کې ګودامونه تيار کړل
۱۲ او په هغو کې يې ټولې اعانې، عشر او وقف شوي شيان
کېښودل. هغوی په دې کار کې صادق وو. هغوی يو لاوي چې کوننيا
نومېده د هغو مسوول وټاکه او د هغه ورور يعنې شمعي يې د هغه
مرستيال وټاکه. ۱۳ لسو تنو لاويانو ته د هغوی تر لاس لاندې کار
وسپارل شو چې دا يې نومونه دي: يحييل، عززيا، نحت، عساهيل،
يريموت، يوزاباد، ايلييل، يسمخيا، محت او بناياه. دا ټول کارونه د
حزقيا پاچا او د مشر کاهن يعنې د عزريا تر واک لاندې وشول. ۱۴
د يمنه زوی قوری يو لاوي ؤ چې د خدای د کور د ختيځې دروازې
د ساتونکو مشر ؤ. هغه د هغو سوغاتونو او ډېرو سپېڅلو نذرانو د
اخيستلو او وېشلو مسوول ؤ چې څښتن ته وړاندې کېدل. ۱۵ د
يهودا په نورو ښارونو کې چې کاهنان په کې اوسېدل، د هغه سره په
دې کار کې د نورو لاويانو له خوا په وفادارۍ سره مرسته کوله چې
نومونه يې دا دي: عدن، منيامين، يشوع، شمعيه، امريا او شکنيا.
هغوی خپلو لاويانو ملګرو ته، زړو او ځوانانو ته يوشان د هغوی د
ډلو له مخې خواړه وېشل. ۱۶ دا وېش د طايفو له مخې نه وو،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بلکې هغوی ټولو هغو نارینو ته یوه یوه برخه ورکوله چې عمرونه یې
درې کاله یا د هغې څخه زیات وو یعنې هغو لاویانو ته چې د خپلو
ډلو سره سم یې د خدای په کور کې ورځنې مسوولیتونه په غاړه
درلودل. ۱۷ کاهنانو ته طایفه په طایفه خپلې وظیفې وسپارل شوې
او هغو لاویانو ته چې عمرونه یې شل کاله یا زیات وو، هغوی ته ډله
په ډله وظیفې وسپارل شوې. ۱۸ په نسب نامو کې د هغوی د
کوچنیو ماشومانو او د هغوی د ښځو، زامنو او لورګانو نومونه یعنې
ټوله ټولنه شامله وه، ځکه چې هغوی هم د خپلو ځانونو په پاک
ساتلو کې وفادار وو او د څښتن د خدمت دپاره د منلو وړ وو. ۱۹
د هغو کاهنانو په منځ کې چې په هغو ښارونو کې اوسېدل چې د
هارون اولادې ته ورکړل شوي وو یا په هغو څړځایونو کې چې په
دغو ښارونو پورې تړلي وو، داسې مسوول کسان وو چې د کاهنانو
په کورنیو کې یې ټولو نارینوو ته او هغو ټولو خلکو ته خواړه وېشل
چې د لاویانو په نسب نامو کې یې نومونه لیکلي وو.

۲۰ حزقیا پاچا په ټوله یهودا کې ښه او نېک او داسې د وفادارۍ
کارونه کول چې د هغه څښتن خدای وړاندې خوشحالېده. ۲۱
هرڅه چې هغه د خدای د کور دپاره یا د شریعت د حکمونو د عملي
کولو دپاره وکړل، هغه خپل خدای ته رجوع کوله او دا کارونه یې د
زړه له کومي وکړل. نو ځکه په دې ټولو کارونو کې بریالی ؤ.

## آشوریان او اورشلیم ته ګواښ

(دوهم پاچاهان ۱۸: ۱۳ – ۳۷، ۱۹: ۱۴ – ۱۹؛ ۱۹: ۳۵ – ۳۷ او اشعیا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۲ ۱ له دې ښو او نېکو کارونو څخه وروسته چې حزقیا
پاچا په وفادارۍ سره سرته ورسول، د آشور پاچا سنخاریب په یهودا
باندې حمله وکړه. هغه هغه قوي شوي ښارونه کلابند کړل او غوښتل
یې چې دا ښارونه ونیسي. ۲ کله چې حزقیا ولیدل چې
سنخاریب په اورشلیم باندې هم د حملې کولو نیت لري، ۳-۴
هغه او د هغه درباریانو پرېکړه وکړه چې هغه اوبه بندې کړي چې د
ښار څخه دباندې روانې وې، د دې دپاره چې آشوریان اورشلیم ته
ورنژدې شي، نو اوبه به ونه لري. درباریانو یو زیات شمېر خلک
وویستل او ټولې چینې یې بندې کړې، ترڅو د ښار په ویالو کې
نورې اوبه روانې نه شي. ۵ حزقیا زیار وویست او د ښار دېوال
یې چې خراب شوی ؤ جوړ کړ او په هغه باندې یې د څارنې برجونه
ودرول او د هغه دېوال دباندې یې بل دېوال جوړ کړ. برسېره پر دې
یې هغه ځمکه هم قوي کړه چې د داود د ښار په ختیځه خوا کې
راډکه شوې وه او هغه پرېمانه نېزې او سپرونه هم جوړ کړل. ۶
هغه په ښار کې په عسکرو باندې منصبداران مقرر کړل او د ښار د
دروازې سره په یو پراخه ځای کې یې هغوی راغونډ کړل. هغوی ته
یې یوه هڅوونکې وینا وکړه او ویې ویل: ۷ «قوي او زړور اوسئ
او د آشوریانو د پاچا یا د هغه له لښکر څخه چې هغه یې مشري
کوي مه وېرېږئ او مه بې زړه کېږئ. ځکه چې زمونږ سره یو څوک
شته چې د هغه نه ډېر زورور دی. ۸ هغه د انسان څخه مرسته
اخلي، خو مونږ د خپل ښښتن خدایه مرسته اخلو او هغه زمونږ په
خاطر جګړه کوي.» خلک د خپل پاچا په دغو خبرو وهڅېدل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ یو څه موده وروسته چې سنخاریب او د هغه لښکر لا لاکیش
کلابنداوه، هغه حزقیا او د یهودا هغو خلکو ته چې د هغه سره په
اورشلیم کې وو، استازي د دې پیغام سره ولېږل: ۱۰ «زه سنخاریب
د آشور پاچا غواړم پوه شم چې تاسو په څه شي باندې ډاډه یئ چې
په اورشلیم کې په دې کلابندۍ کې ژوندي پاتې کېږئ. ۱۱ حزقیا
تاسو ته وایي چې زمونږ ښښتن خدای به مونږ د آشور د پاچا له
لاسه وژغوري، خو حزقیا تاسو غولوي او هغه به تاسو پرېږدي چې
د قحطۍ او تندې څخه مړه شئ. ۱۲ دا هغه سړی دی چې د
ښښتن د عبادت او د قربانۍ ځایونه یې له منځه یوړل او بیا یې د
یهودا او د اورشلیم خلکو ته وویل چې یوازې د قربانۍ د یو ځای په
مخکې عبادت کوئ او په همدې ځای کې قربانۍ سوځوئ. ۱۳ ایا
تاسو نه پوهېږئ چې ما او زما نیکونو د نورو ټولو قومونو د خلکو
سره څه ډول چلند کړی دی؟ ایا د کوم بل قوم خدایانو خپل قوم د
آشور د پاچا څخه ژغورلی دی؟ ۱۴ هېڅ یو د هغو قومونو
خدایانو چې زمونږ نیکونو هغوی له منځه وړي دي، ونه شو کړای
چې خپل خلک وژغوري. بیا تاسو ولې فکر کوئ چې ستاسو خدای
تاسو ژغورلی شي؟ ۱۵ نو اوس حزقیا مه پرېږدئ چې تاسو په
دې ډول وغولوي یا مو په غلطه لاره روان کړي. د هغه په خبره باور
مه کوئ! ځکه د کوم بل قوم یا پاچاهۍ خدای هېڅکله نه شو کولای
چې خپل قوم د اشور د پاچاهانو څخه وژغوري. نو په دې کې شک
نشته چې ستاسو خدای هم تاسو نه شي ژغورلی!»

۱۶ آشوري ماموړانو د ښښتن خدای او د هغه د خدمتګار حزقیا
په هکله نورې بدې خبرې هم وکړې. ۱۷ هغه لیکونه چې د آشور

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاچا لیکلي وو، په هغو کې د اسراییلو د ښښتن خدای سپکاوی شوی
ؤ. په هغو کې ویل شوي دي: «د قومونو خدایانو زما څخه خپل
قومونه نه دي ژغورلي او نه به د حزقیا خدای خپل قوم زما څخه
وژغوري.» ۱۸ مامورانو دا خبرې په عبراني ژبه کې په لوړ اواز
وکړې، ترڅو هغه خلک چې په دېوال باندې ولاړ وو، ووېروي او
ښار ونیسي. ۱۹ هغوی د اورشلیم د خدای په هکله په هماغه ډول
خبرې وکړې لکه څنګه چې یې د نورو قومونو د خدایانو په هکله
کړې وې چې انسانانو په خپلو لاسونو جوړ کړي وو.

۲۰ بیا حزقیا پاچا او د آموص زوی اشعیا نبي خدای ته دعا وکړه
او د اسمان خواته یې د مرستې دپاره زاری او فریادونه وکړل. ۲۱
نو ښښتن یوه فرښته راولېږله او هغې د آشور د لښکر عسکر او
منصبداران ووژل. نو پاچا رسوا شو او بېرته خپل هېواد ته لاړ. یوه
ورځ په داسې وخت کې چې هغه د خپل خدای عبادتځای ته ننوت،
د هغه ځینو زامنو هغه په خپلو تورو وواژه.

۲۲ په دې ډول، ښښتن حزقیا پاچا او د اورشلیم خلک د آشور
پاچا یعنې د سنحاریب او د نورو دښمنانو له لاسه وژغورل. هغوی ته
یې له هرې خوا سوله او ارامي ور په برخه کړه. ۲۳ ډېر خلک
اورشلیم ته راغلل او ښښتن ته یې نذرانې او حزقیا ته یې سوغاتونه
راوړل، نو له هغې وروسته ټولو قومونو د حزقیا عزت کاوه.

## د حزقیا ناروغي او غرور

(دوهم پاچاهان ۲۰: ۱ – ۳، ۲۰: ۱۲ – ۱۹او اشعیا ۳۸: ۱ – ۳، ۳۹: ۱ – ۸)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ په هغو ورځو کې حزقيا پاچا ناروغ شو او مرګ ته نژدې شو.
هغه د خپلې شفا دپاره دعا وکړه او څښتن ورته داسې نښه ورکړه
چې هغه به روغ شي. ۲۵ خو حزقيا دومره مغرور ؤ چې د څښتن
څخه يې د هغه احسان په خاطر چې د هغه دپاره يې کړی ؤ،
شکرګزاري هم ونه کړه. له دې امله د څښتن قهر په هغه، يهودا او
اورشليم باندې نازل شو. ۲۶ په اخر کې بياهم حزقيا او د اورشليم
خلکو خپل ځانونه عاجز کړل. نو ترڅو پورې چې حزقيا ژوندی ؤ،
څښتن هغو خلکو ته سزا ورنه کړه.

## د حزقيا شتمني او شان او شوکت

۲۷ حزقيا پاچا ډېر شتمن شو او هرچا د هغه عزت کاوه. هغه د
خپلو سرو او سپينو زرو، قيمتي تيږو، مسالو، سپرونو او د نورو قيمتي
شيانو دپاره ګودامونه جوړ کړل. ۲۸ برسېره پر دې هغه د غلو دانو،
شرابو او د زيتونو د تېلو دپاره ګودامونه، د خپلو پادو دپاره يې
غوجلې او د خپلو پسونو دپاره يې هم شپولونه جوړ کړل. ۲۹ له
دې ټولو سره سره خدای هغه ته ډېر پسونه او پادې ورکولې او
دومره نوره شتمني يې ورکړه چې ډېر ښارونه يې ودان کړل. ۳۰ دا
حزقيا ؤ چې يو سوری يې جوړ کړ چې د جيحون د پورتنۍ چينې
څخه په کې د داود د ښار لوېديځ خواته اوبه روانې شوې. هغه چې
هر کار کاوه نو په هغه کې به بريالی کېده. ۳۱ نو کله چې د بابل
استازي راغلل چې د هغې معجزې په هکله پوښتنه وکړي چې په
هېواد کې وشوه، خدای حزقيا په خپل حال پرېښود، د دې دپاره چې
هغه وازمايي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حزقیا د پاچاهۍ پای

(دوهم پاچاهان ۲۰: ۲۰ – ۲۱)

۳۲ د حزقیا د پاچاهۍ نورې پېښې او د هغه وفاداري څښتن ته، دا
ټولې د آموص زوی اشعیا نبي د خپلې رویا په کتاب کې او د یهودا
او د اسراییلو د پاچاهانو په تاریخ کې لیکل شوې دي. ۳۳ حزقیا
مړ شو او د شاهي هدیرې په پاسنۍ برخه کې ښخ شو. د یهودا او د
اورشلیم ټولو خلکو د هغه د مرګ په وخت د هغه ډېر عزت وکړ. د
هغه زوی منسي د هغه په ځای پاچا شو.

## د یهودا پاچا منسي

(دوهم پاچاهان ۲۱: ۱ – ۹)

۳۳ ۱ منسي دولس کلن ؤ چې د یهودا پاچا شو او هغه په
اورشلیم کې پنځه پنځوس کاله پاچاهي وکړه. ۲ منسي د څښتن
په مقابل کې ګناه وکړه. هغه د هغو قومونو د ناوړه دودونو څخه
پیروي وکړه چې څښتن د خپل قوم د وړاندې تګ سره سم شړلي
وو. ۳ منسي د عبادت هغه سیمه ییز ځایونه بېرته جوړ کړل چې
د هغه پلار حزقیا وران کړي وو. هغه د بعل دپاره د قربانۍ ځایونه او
د اشیره بتان جوړ کړل او د ستورو عبادت یې کاوه. ۴ هغه په
اورشلیم کې د څښتن په کور کې د نورو خدایانو دپاره د قربانۍ
ځایونه جوړ کړل چې د هغو په اړه څښتن ویلي وو: «په دې ځای
کې باید تل زما عبادت وشي.» ۵ هغه د څښتن د کور په دواړو
حویلیو کې ستورو ته د عبادت دپاره د قربانۍ ځایونه جوړ کړل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٦ هغه خپل زامن د بن هنوم په دره کې د سوځېدونکو نذرانو په
توګه قرباني کړل. هغه به فالونه کتل او جادوګري به يې کوله او د مړو
د ارواحګانو او جادوګرانو سره به يې مشورې کولې. هغه د څښتن په
وړاندې ډېره لويه ګناه وکړه او د هغه قهر يې راوپاراوه. ٧ منسي
يو بت چې جوړ کړی يې ؤ د خدای په کور کې يعنې په هغه ځای
کې کېښود چې د هغه په اړه خدای داود او د هغه زوی سليمان ته
داسې ويلي وو: «دلته په اورشليم کې په دې کور کې دا هغه ځای
دی چې ما د اسراييلو د دولسو قبيلو د ټولې سيمې څخه غوره کړی
دی چې تل به په کې زما عبادت کيږي. ٨ که چېرې د اسراييلو
قوم زما ټول حکمونه ومني او د هغه ټول شريعت څخه پيروي وکړي
چې موسی هغوی ته ورکړی دی، نو زه به پرېنږدم چې هغوی د هغه
وطن څخه وشړل شي چې ما د هغوی نيکونو ته ورکړی ؤ.» ٩
منسي د يهودا او د اورشليم په خلکو باندې د هغو څخه هم لويه ګناه
وکړه چې هغو قومونو کړې وه چې څښتن هغه هېواد ته د اسراييلو د
قوم د وړاندې تګ سره سم تباه کړي وو.

## منسي توبه وباسي

١٠ که څه هم څښتن منسي او د هغه خلکو ته خبرداری ورکړ، خو
هغوی ورته غوږ نه نيوه. ١١ نو څښتن د آشوريانو د لښکر
قوماندانان پرېښودل چې په يهودا باندې حمله وکړي. هغوی منسي
ونيوه، په هغه کې چنګکونه واچول، په برنجي زنځيرونو يې وتړلو او
بابل ته يې يووړ. ١٢ هغه د خپلې ستونزې په وخت کې خپل ځان
د خپلو نيکونو د خدای په وړاندې ډېر عاجز کړ، خپل څښتن خدای ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې رجوع وکړه او د مرستې دپاره يې ورته زارۍ وکړې. ١٣ خدای
د منسي دعا واورېدله او قبوله يې کړه او هغه يې پرېښود چې بېرته
اورشليم ته لاړ شي او بيا هلته پاچاهي وکړي. بيا د منسي باور راغی
چې ښتښتن يوازينی خدای دی.

١٤ له هغې وروسته منسي د بيروني دېوال لوړوالی چې د داود د
ښار ختيځ خواته ؤ، زيات کړ. دا برخه له هغې درې ښخه نيولې چې
د جيحون د چينې لوېديځ خواته وه په شمال کې د ماهي له دروازې
او د ښار تر هغه سيمې پورې غزېدلې وه چې د عوفل په نوم يادېدله.
هغه د يهودا هر قوي شوي ښار ته عسکري قوماندانان هم وټاکل.
١٥ پردي خدايان او مجسمه يې د خدای د کور ښخه لېرې کړه او
د قربانۍ هغه ټول ځايونه چې په اورشليم او د خدای د کور په
غونډۍ کې يې جوړ کړي وو، دا ټول شيان يې له ښاره دباندې
وغورځول. ١٦ هغه د قربانۍ هغه ځای هم بېرته جوړ کړ چې د
ښتښتن عبادت په کې کېده او په هغه باندې يې د سلامتۍ او د
شکرګزارۍ نذرانې وړاندې کړې. هغه د يهودا په خلکو باندې امر وکړ
چې د اسراييلو د ښتښتن خدای عبادت وکړي. ١٧ که څه هم
خلکو د عبادت په سيمه ييزو ځايونو کې د قربانيو وړاندې کولو ته
دوام ورکړ، خو هغوی هغه يوازې ښتښتن ته وړاندې کولې.

## د منسي د پاچاهۍ پای

(دوهم پاچاهان ٢١: ١٧ – ١٨)

١٨ منسي چې نور څه کړي وو، هغه دعا چې هغه خپل خدای ته
وکړه او د هغو نبيانو پيغامونه چې د هغه سره يې د اسراييلو د ښتښتن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای په نوم خبرې وکړې، دا ټول د اسراییلو د پاچاهانو د تاریخ په
کتاب کې لیکل شوي دي. ۱۹ د پاچا دعا او د هغې قبلول د خدای
د خوا نه، د هغو ګناهونو حساب چې هغه د توبې ویستلو څخه
مخکې کړی ؤ، هغه بد کارونه چې هغه وکړل، بتخانې او د اشیره بتان
چې هغه جوړ کړل او هغه بتان چې هغه یې عبادت کاوه، دا ټول د
نبیانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. ۲۰ منسي مړ شو او په
خپلې ماڼۍ کې ښخ شو او د هغه زوی آمون د هغه په ځای پاچا شو.

## د یهودا پاچا آمون

(دوهم پاچاهان ۲۱: ۱۹ – ۲۶)

۲۱ آمون دوه ویشت کلن ؤ چې د یهودا پاچا شو او دوه کاله یې
په اورشلیم کې پاچاهي وکړه. ۲۲ هغه د خپل پلار منسي په شان د
څښتن په مقابل کې ګناه وکړه او د هغو بتانو عبادت یې وکړ او
قربانۍ ګانې یې ورته وړاندې کړې چې د هغه پلار جوړ کړې وو.
۲۳ خو امون خپل ځان د څښتن په وړاندې عاجز نه کړ، لکه
څنګه چې د هغه پلار منسي عاجز کړی ؤ، بلکې هغه نور هم
ګناهکار شو.

۲۴ د آمون درباریانو د هغه په مقابل کې دسیسه جوړه کړه او هغه
یې په خپلې ماڼۍ کې په قتل ورساوه. ۲۵ د یهودا خلکو د آمون
ټول قاتلان ووژل او د هغه زوی یوشیا یې د هغه په ځای پاچا کړ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یهودا پاچا یوشیا

(دوهم پاچاهان ۲۲: ۱ – ۲)

۳۴ ۱ یوشیا اته کلن ؤ چې د یهودا پاچا شو او هغه په
اورشلیم کې یودېرش کاله پاچاهي وکړه. ۲ یوشیا هغه کار کاوه
چې د څښتن په نظر کې ښه ؤ. هغه د خپل نیکه داود لاره غوره کړه
او په ټینګه یې د څښتن د ټولو قوانینو اطاعت کاوه.

۳ د یوشیا د پاچاهۍ په اتم کال کله چې هغه لا ډېر ځوان ؤ، هغه
د خپل نیکه یعنې د داود پاچا د خدای په عبادت کولو پیل وکړ.
وروسته د څلورو کالو هغه یهودا او اورشلیم د بتخانو، د اشیره د بتانو
او د نورو ټولو بتانو څخه پاکول پیل کړل. ۴ د هغه تر لارښوونې
لاندې د قربانۍ هغه ځایونه وران شول چې د بعل د بت عبادت په
کې کېده. د هغو دپاسه د خوشبویۍ قربانګاوې هم ماتې شوې. هغوی
د اشیره بتان او نور ټول بتان ټوټې ټوټې کړل، په خاورو یې بدل کړل
او بیا یې هغه خاوره د هغو خلکو په قبرونو باندې وشیندله چې
قربانۍ یې ورته وړاندې کړې وې. ۵ هغه د بتخانو د کاهنانو
هډوکي د قربانۍ په هغو ځایونو باندې وسوځول چې هغوی په کې
عبادت کاوه. هغه په دې کار سره یهودا او اورشلیم بیا پاک کړل.
۶ هغه د منسي، افرایم او شمعون په سیمو کې او په شمال کې تر
نفتالي پورې په ښارونو او په وران شویو ځایونو کې هم همداسې
وکړل. ۷ هغه د اسراییلو په ټوله سیمه کې د قربانۍ ځایونه او د
اشیره بتان مات کړل، هغه دا او نور بتان ټوټې ټوټې کړل، په خاورو
یې بدل کړل او د خوشبویۍ ټولې قربانګاوې یې ټوټې ټوټې کړې. بیا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه اورشلیم ته راستون شو.

## د تورات د کتاب پیدا کېدل

(دوهم پاچاهان ۲۲: ۳ – ۲۰)

۸ د یوشیا پاچا د پاچاهۍ په اتلسم کال، وروسته له دې چې هغه
هېواد او د خدای کور د بت پرستۍ څخه پاک کړل، نو دغه درې
سړي یې ولېږل چې د خپل څښتن خدای کور بېرته جوړ کړي: د
اصلیا زوی شافان، د اورشلیم والي معسیا او د یهوآحاز زوی یوآخ
چې د پېښو د ثبتولو مسوول ؤ. ۹ هغه پیسې چې لاوي ساتونکو
د خدای په کور کې راټولې کړې وې، مشر کاهن حلقیا ته یې
وسپارلې. (دا پیسې د افرایم او د منسي د خلکو او د اسراییلو د پاتې
خلکو او د یهودا، بنیامین او د اورشلیم د خلکو څخه راټولې شوې
وې.) ۱۰ دا پیسې یې هغه چاته وسپارلې چې د څښتن د کور د بیا
جوړولو د کار څارنه یې کوله. هغوی دا پیسې ۱۱ نجارانو او
ګلکارانو ته ورکړې، ترڅو د دې پیسو څخه هغوی تورل شوې تیږې
او لرګي د اړمونو او تیرانو په خاطر د خدای د کور د بیاجوړونې
دپاره واخلي. هغه کور د یهودا د مخکینیو پاچاهانو د بې پروایۍ له
امله وران شوی ؤ. ۱۲ کومو خلکو چې د بیا جوړونې کار کاوه،
صادق کسان وو. د څلورو لاویانو له خوا د هغوی څارنه کېدله چې
نومونه یې دا وو: د مراري د طایفې څخه یحت او عوبدیا او د قهات
د طایفې څخه زکریا او مشلام. (لاویان ټول تکړه ساز غږوونکي وو.)
۱۳ ځینې لاویان د موادو د وړلو او د هغو کارګرانو د څارنې
مسؤولان وو چې په بېلابېلو کارونو باندې بوخت وو او نورو د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

منشیانو یا د ساتونکو په توګه خدمت کاوه.

۱۴ هغه وخت چې هغوی هغه راټولې شوې پیسې د څښتن د کور
د ګودام څخه راوړلې، حلقیا د څښتن د تورات کتاب وموند چې د
موسی په وسیله ورکړل شوی ؤ. ۱۵ حلقیا شافان منشي ته وویل:
«ما د څښتن په کور کې د تورات کتاب موندلی دی.» هغه دا کتاب
شافان ته ورکړ ۱۶ او شافان هغه پاچا ته یووړ. هغه ورته دا خبر
هم ورکړ: «ستاسو مامورین په هغو ټولو کارونو باندې بوخت دي
چې تاسو ورسپارلي وو. ۱۷ هغوی هغه پیسې واخیستلې چې د
څښتن په کور کې وې او کارګرانو او د هغوی څارونکو ته یې
وسپارلې.» ۱۸ بیا شافان زیاته کړه: «زما سره یو کتاب دی چې
حلقیا کاهن راکړی دی.» او هغه دا کتاب پاچا ته په لوړ اواز
ولوست.

۱۹ کله چې پاچا د شریعت د کتاب خبرې واورېدلې، هغه له غمه
خپل کالي وشلول. ۲۰ نو پاچا حلقیا، د شافان زوی اخیقام، د
میکایا زوی عبدون، شافان د دربار منشي او خپل خدمتګار عسایا ته
دغه حکم ورکړ: ۲۱ «لاړ شئ او زما او د هغو خلکو له خوا چې
لا په اسراییلو او په یهودا کې پاتې دي، د دې کتاب د خبرو په اړه د
څښتن سره مشوره وکړئ. زمونږ نیکونو د څښتن د کلام اطاعت نه
دی کړی او نه یې په هغو شیانو عمل کړی دی چې په دې کتاب کې
لیکل شوي دي، نو ځکه څښتن په مونږ باندې خپل قهر نازل کړی
دی.»

۲۲ حلقیا او نور خلک د پاچا په امر لاړل چې د حلده په نوم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یوې ښځې سره مشوره وکړي، هغه یوه پیغمبره وه چې د اورشلیم د
ښار په نوې سیمه کې اوسېدله. (د هغې مېړه شلوم نومېده چې د تقوه
زوی او د حرحس لمسی ؤ. هغه د خدای د کور د کالیو د ساتلو
مسوولیت په غاړه درلود). نو څه چې پېښ شوي وو، هغې ته یې
بیان کړل. ۲۳ هغې ورته وویل چې پاچا ته بېرته لاړ شي او هغه
ته د اسراییلو د څښتن خدای دغه پیغام ورکړي: ۲۴ «څښتن داسې
وایي: ‹هغه کتاب چې د یهودا پاچا ته لوستل شوی دی او لعنتونه په
کې لیکل شوي دي، زه به د هغو په مطابق په دې ځای او د دې
ځای په خلکو باندې بلا راولم. ۲۵ هغوی زه پرېښودم او نورو
خدایانو ته یې قرباني وړاندې کړلې او په خپلو ټولو کارونو یې زما
قهر راپارولی دی. نو زما قهر به په اورشلیم باندې نازل شي او سوړ
به نه شي. ۲۶ خو د یهودا پاچا په اړه چې تاسو یې د څښتن د
مشورې دپاره رالېږلي یئ، هغه ته ووایئ چې د اسراییلو څښتن
خدای وایي: ”څه چې په دې کتاب کې لیکل شوي دي هغه تا
اورېدلي دي. ۲۷ کله چې تا واورېدل چې ما د دې ځای او د هغه
د اوسېدونکو په خلاف داسې خبرې وکړې، نو تا توبه وویستله او په
عاجزۍ دې خپل سر زما په وړاندې ټیټ کړ، خپل کالي دې وشلول
او زما په مخکې دې وژړل، نو ما ستا دعا قبوله کړه. ۲۸ زه به تا
پرېږدم چې په ارامۍ سره مړ شې. ستا د مرګ څخه وروسته به
اورشلیم او د هغه اوسېدونکي په بلا اخته کړم.“›» نو هغوی یوشیا
پاچا ته دا پیغام ورساوه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ښښتن سره د یوشیا لوظ

(دوهم پاچاهان ۲۳: ۱ – ۲۰)

۲۹ نو پاچا د یهودا او اورشلیم ټول سپین ږیري راوغوښتل. ۳۰
هغه د یهودا د کلیو او ښارګوټو خلکو، د اورشلیم د ښار خلکو،
کاهنانو، لاویانو او نورو ټولو خلکو سره چې شتمن او غریب په کې
شامل وو، د ښښتن کور ته لاړ. پاچا د ټولو په مخکې په لوړ اواز
سره د لوظ هغه ټول کتاب ولوست چې د ښښتن په کور کې موندل
شوی ؤ. ۳۱ پاچا د شاهي ستنې سره ودرېده او د ښښتن سره یې
لوظ وکړ چې د هغه اطاعت به کوي، د زړه له کومې به د هغه د
قوانینو او حکمونو څخه پیروي کوي او هغه غوښتنې به عملي کوي
چې په لوظنامې پورې تړلې دي او په دې کتاب کې لیکل شوې دي.
۳۲ هغه د بنیامین او په اورشلیم کې ټول حاضر خلک دې ته
مجبور کړل چې په هغه لوظ باندې عمل وکړي. نو د اورشلیم خلکو
د خدای سره د هغه لوظ شرطونه ومنل چې د هغوی نیکونو د خپل
خدای سره کړی ؤ. ۳۳ یوشیا د اسراییلو په سیمو کې ټول د کرکې
وړ بتان لیرې کړل او په اسراییلو کې یې هرچا ته امر وکړ چې یوازې
د خپل ښښتن خدای عبادت وکړي. د یوشیا تر مرګه پورې قوم د
خپلو نیکونو د ښښتن خدای څخه مخ وانه اړاوه.

## یوشیا او د فسحې اختر لمانځنه

(دوهم پاچاهان ۲۳: ۲۱ – ۲۳)

۳۵ ۱ یوشیا پاچا د ښښتن د درناوي دپاره په اورشلیم کې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فسحې اختر ولمانځه. هغوی د لومړۍ میاشتې په څوارلسمه ورځ د
اختر دپاره ورې حلال کړل. ٢ هغه کاهنانو ته وظیفې وروسپارلې
او د څښتن په کور کې يې خدمت ته وهڅول. ٣ هغه لاویانو ته
چې ټولو اسراییلیانو ته يې تعلیم ورکاوه او د څښتن خدمت ته وقف
شوي وو، دا لارښوونه وکړه: «د لوظ سپېڅلی صندوق په هغه کور
کې کېږدئ چې د داود زوی سلیمان پاچا جوړ کړی دی. تاسو به نور
هغه د یو ځای څخه بل ځای ته نه وړئ، بلکې د خپل څښتن خدای
او د هغه د قوم یعنې د اسراییلو خدمت به کوئ. ٤ د خدای په
کور کې طایفه په طایفه د هغو مسوولیتونه د تر سره کولو دپاره خپل
ځانونه تیار کړئ چې د داود پاچا او د هغه د زوی سلیمان له خوا
تاسو ته سپارل شوي دي. ٥ خپل ځانونه په ډلو وویشئ، ترڅو
تاسو دې ته تیار اوسئ چې د اسراییلو د قوم د هرې کورنۍ سره
مرسته وکړئ. ٦ د فسحې ورې حلال کړئ. اوس خپل ځانونه
پاک کړئ، قربانۍ ګانې تیارې کړئ او د څښتن د حکمونو سره سم
چې په موسی نازل شوي دي د اسراییلو د خلکو خدمت ته تیار
اوسئ.»

٧ یوشیا پاچا ټولو حاضرینو ته د فسحې اختر د قربانۍ دپاره
د خپلو رمو او پادو څخه دېرش زره ورې او سېرلې او درې زره
غویان ورکړل. ٨ د هغه درباریانو هم په خپله خوښه خلکو،
کاهنانو او لاویانو ته اعانه ورکړه. هغه مامورانو چې د خدای د کور
مسؤولان وو یعنې حلقیا چې مشر کاهن ؤ، زکریا او یحییل کاهنانو
ته دوه زره او شپږ سوه ورې او سېرلې او درې سوه غویان د فسحې
د قربانۍ دپاره ورکړل. ٩ د لاویانو مشران یعنې کننیا، د هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وروِنه شمعيه او نتنييل او همدارنګه حشبيا، يعييل او يوزاباد پنځه زره
وري او سپرلي او پنځه سوه غويان د خپلې قبيلې دپاره د اعانې په
توګه ورکړل چې د فسحې په اختر کې يې قرباني کړي.

۱۰ کله چې د فسحې د اختر دپاره هرڅه برابر شول، کاهنان په
خپلو ځايونو او لاويان په خپلو ډلو کې د پاچا د امر سره سم ځای
په ځای شول. ۱۱ وروسته له دې چې وري حلال شول، نو لاويانو
ورڅخه پوستکي وويستل او کاهنانو يې وينه د قربانۍ په ځای باندې
وشيندله. ۱۲ بيا هغوی د خلکو په منځ کې د کورنيو په ډلو د
سوځېدونکو نذرانو دپاره حيوانات چې غويان هم په کې شامل وو
ووېشل، ترڅو هغوی وکولای شي دا د هغو لارښودنو سره سم
وړاندې کړي چې د موسی په شريعت کې ليکل شوي دي. ۱۳
لاويانو د فسحې د اختر قربانۍ د اصولو سره سم په اور باندې کباب
کړلې او سپېڅلې نذرانې يې په لوښو، دېګونو او ارکارو کې پخې
کړې. غوښه يې په بيړه په ټولو خلکو ووېشله. ۱۴ وروسته لاويانو
د خپل ځان او د کاهنانو دپاره چې د هارون د اولادې څخه وو،
غوښه تياره کړه. ځکه چې کاهنان تر ماښامه پورې د سوځېدونکو
نذرانو او د قربانيو د وازګو په سوځولو باندې بوخت وو. ۱۵
سندرغاړي يعنې د اساف اولاده د داود پاچا او د اساف، هيمان او د
پاچا نبي يدوتون د لارښوونې سره سم په خپلو ځايونو کې ځای په
ځای شول. د خدای د کور د دروازو ساتونکي مجبور نه وو چې د
خپلې وظيفې څخه لېرې شي، ځکه چې د هغوی لاويانو ورونو
هغوی ته د فسحې قرباني تياروله.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٦ نو په هغه ورځ د ښبنتن د عبادت دپاره هرڅه د یوشیا پاچا د
امر سره سم وشول، یعنې د فسحې د اختر لمانځل او د ښبنتن د
قربانۍ په ځای باندې د سوځېدونکو نذرانو وړاندې کېدل. ١٧ د
اسراییلو هغه ټول خلک چې حاضر وو د فسحې په اختر کې یې
برخه واخیستله. بیا وروسته یې اووه ورځې د فطیري ډوډۍ اختر
ولمانځه. ١٨ د سموییل نبي د وخت راهیسې د فسحې اختر
هېڅکله داسې لمانځل شوی نه ؤ. د پخوانیو پاچاهانو څخه هېڅ یو
دا ډول د فسحې اختر نه ؤ لمانځلی لکه څنګه چې د یوشیا پاچا،
کاهنانو، لاویانو او د یهودا، اسراییلو او د اورشلیم د خلکو له خوا
١٩ د یوشیا د پاچاهۍ په اتلسم کال ولمانځل شو.

## د یوشیا مړینه

(دوهم پاچاهان ۲۳: ۲۸ – ۳۰)

٢٠ وروسته له دې چې یوشیا پاچا د خدای د کور دپاره دا ټول
کارونه وکړل، د مصر پاچا نیکو د خپل لښکر سره کرکمیش ته چې د
فرات د سیند په غاړه ؤ، راغی چې جنګ وکړي. یوشیا هڅه وکړه
چې د هغه مخه ونیسي، ٢١ خو نیکو خپل استازي د دې پیغام سره
یوشیا ته واستول: «ای د یهودا پاچا، کومه جګړه چې زه کوم هغه تا
پورې هېڅ اړه نه لري. زه د دې دپاره نه یم راغلی چې ستا سره
وجنګېږم بلکې د دې دپاره راغلی یم چې د خپلو دښمنانو سره
وجنګېږم او خدای راته ویلي دي چې بېړه وکړه. خدای زما پلوی
دی، نو د هغه مخالفت مه کوه که نه، نو هغه به تا تباه کړي.» ٢٢
خو یوشیا د جنګ اراده درلودله. یوشیا هغو خبرو ته غوږ ونه نیوه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې خدای د نیکو پاچا په وسیله کولې، نو هغه خپله څېره بدله کړه
او هغې جګړې ته ورغی چې د مجدو په دره کې وه.

٢٣ یوشیا پاچا د جګړې په دوران کې د مصریانو په غشو ولګېده.
هغه خپلو خدمتګارانو ته حکم وکړ: «ما یوسئ، زه سخت ټپي یم!»
٢٤ هغوی یوشیا د خپلې جنګي ګاډۍ څخه پورته کړ، هغه یې په
بله جنګي ګاډۍ کې چې هلته د هغه سره وه، واچاوه او اورشلیم ته
یې یووړ. هغه هلته مړ شو او په خپله پلارنۍ هدیره کې ښخ شو. د
یهودا او د اورشلیم ټولو خلکو د هغه په مړینې باندې ویر وکړ.

٢٥ ارمیا نبي د یوشیا پاچا دپاره د ویر سندرې ولیکلې. په
اسراییلو کې د نارینه او ښځینه سندرغاړو دپاره دا یو دود شو کله
چې د هغه دپاره ویر کوي نو دا سندرې دې ووایي. دا سندرې د ویر
د سندرو په کتاب کې لیکل شوې دي.

٢٦ د یوشیا د پاچاهۍ د دوران نورې پېښې او د هغه نېک کارونه
چې د ښښتن د شریعت سره سم یې سرته رسولي ٢٧ او همدارنګه
د هغه کارونه د اول نه تر اخره پورې د اسراییلو او د یهودا د
پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي.

## د یهودا پاچا یهوآحاز

(دوهم پاچاهان ٢٣: ٣٠ – ٣٥)

٣٦ ١ د یهودا خلکو د یوشیا زوی یهوآحاز غوره کړ او هغه
یې په اورشلیم کې پاچا کړ. ٢ یهوآحاز درویشت کلن ؤ چې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يهودا پاچا شو او درې مياشتې يې په اورشليم کې پاچاهي وکړه.
۳ د مصر پاچا نيکو هغه د تخت څخه لېرې کړ او د يهودا خلک
يې مجبور کړل چې هغه ته درې زره او څلور سوه کيلوګرامه سپين
زر او څلوردېرش کيلوګرامه سره زر باج ورکړي. ۴ نيکو د
يهوآحاز ورور الياقيم د يهودا او د اورشليم پاچا کړ او د هغه نوم يې
په يهوياقيم باندې بدل کړ. نيکو يهوآحاز مصر ته د اسير په توګه
يووړ.

## د يهودا پاچا يهوياقيم

(دوهم پاچاهان ۲۳: ۳۶ – ۲۴: ۷)

۵ يهوياقيم پنځه ويشت کلن ؤ چې د يهودا پاچا شو او هغه په
اورشليم کې يوولس کاله پاچاهي وکړه. هغه د خپل څښتن خدای په
مقابل کې ګناه وکړه. ۶ د بابل پاچا نبوکدنصر په يهودا باندې
حمله وکړه، يهوياقيم يې ونيوه او په زنځيرونو يې تړلی بابل ته يووړ.
۷ نبوکدنصر د څښتن د کور د خزانې يوه برخه يوړله او په خپلې
ماڼۍ کې يې چې په بابل کې وه، کېښودله. ۸ د يهوياقيم نور
کارونه او د کرکې وړ عملونه د اسراييلو او د يهودا د پاچاهانو د
تاريخ په کتاب کې ليکل شوي دي. بيا د هغه زوی يهوياکين د هغه په
ځای پاچا شو.

## د يهودا پاچا يهوياکين

(دوهم پاچاهان ۲۴: ۸ – ۱۷)

۹ يهوياکين اتلس کلن ؤ چې د يهودا پاچا شو او هغه په اورشليم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې درې میاشتې او لس ورځې پاچاهي وکړه. هغه د څښتن په مقابل
کې ګناه وکړه. ۱۰ کله چې پسرلی راغی، نبوکدنصر پاچا یهویاکین
بابل ته د بندي په توګه یووړ او د څښتن د کور خزانې یې هم یوړلې.
بیا نبوکدنصر د یهویاکین تره صدقیا د یهودا او د اورشلیم پاچا کړ.

## د یهودا پاچا صدقیا

(دوهم پاچاهان ۲۴: ۱۸ – ۲۰ او ارمیا ۵۲: ۱ – ۳)

۱۱ صدقیا یوویشت کلن ؤ چې د یهودا پاچا شو او هغه یوولس
کاله په اورشلیم کې پاچاهي وکړه. ۱۲ هغه د څښتن په مقابل کې
ګناه وکړه او د ارمیا نبي په وړاندې یې چې د څښتن خبرې یې کولې،
عاجزي ونه ښودله.

## د اورشلیم سقوط

(دوهم پاچاهان ۲۵: ۱ – ۲۱ او ارمیا ۵۲: ۳ – ۱۱)

۱۳ نبوکدنصر پاچا صدقیا مجبور کړ چې د خدای په نوم قسم
وخوري چې ده ته وفادار پاتې شي، خو صدقیا د هغه په وړاندې
سرکښي وکړه. هغه ډېر سرزوری سړی ؤ، توبه یې نه ویستله او د
اسراییلو څښتن خدای ته یې رجوع نه کوله. ۱۴ برسېره پر دې د
کاهنانو مشران او خلک د خپلو شاوخوا قومونو د لارې یعنې د
بت پرستۍ په غوره کولو سره ډېر زیات بې وفا شول. په دې ډول
هغوی هغه کور ناپاک کړ چې څښتن په خپله سپېڅلی ګرځولی ؤ.
۱۵ څښتن د هغوی د نیکونو خدای د خپل قوم او کور سره
خواخوږي درلوده، نو ځکه یې د خپلو نبیانو په وسیله په پرله پسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

توګه پیغامونه ورلېږل، ١٦ خو هغوی د خدای په استازو باندې
ملنډې وهلې، د هغه د خبرو سپکاوی یې وکړ او د هغه نبیانو پورې
یې خندل تر هغې پورې چې د څښتن قهر په خپل قوم باندې دومره
زیات شو چې د خلاصون بله لاره ورته پاتې نه وه.

١٧ نو څښتن د بابل پاچا ولېږه چې په هغوی باندې حمله وکړي.
پاچا د یهودا ځوانان حتی د خدای په کور کې ووژل. د بابل پاچا په
هېڅ رحم ونه کړ، نه په ځوان، نه په پېغلې، نه په سپین ږیري، نه په
روغ نه په ناروغ. خدای هغوی ټول هغه ته په لاس ورکړل. ١٨ د
بابل پاچا د خدای کور، د خدای د کور خزانه او د پاچا او د هغه د
درباریانو شتمني لوټ کړه او هرڅه یې بابل ته یووړل. ١٩ د بابل
عسکرو د خدای کور او د ښار ټولې ماڼۍ د قیمتي شیانو سره
وسوځولې او د ښار دېوال یې راوغورځاوه. ٢٠ د بابل پاچا ټول
ژوندي پاتې شوي خلک د اسیرانو په توګه بابل ته بوتلل، هلته
هغوی د هغه او د هغه د زامنو سره د غلامانو په توګه خدمت کاوه، تر
هغه وخته پورې چې د فارس پاچاهي رامنځته شوه. ٢١ نو څښتن
چې د ارمیا په وسیله څنګه پېشګویي کړې وه هماغسې وشول: «اویا
کاله به ځمکه خوشې او بې حاصله پرته وي، ترڅو هغه کلونه چې د
اسراییلو خلکو په هغو کې د سبت قانون مات کړی ؤ، جبران شي.»

## کوروش او د یهودیانو راستنېدل

(عزرا ١: ١ – ٤)

٢٢ د فارس د پاچا کوروش د امپراتورۍ په اول کال هغه څه چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښښتن د ارمیا نبي په وسیله ویلي وو، هغه يې تر سره کړل. هغه کوروش دې ته وهڅاوه چې دا لاندې حکم جاري کړي او هغه دې په لیکلي ډول خپلې ټولې امپراتورۍ ته واستوي او په هرځای کې دې په لوړ اواز سره ولوستل شي:

٢٣ «د پارس پاچا کوروش داسې وايي: ‹د اسمانونو
ښښتن خدای ماته د نړۍ ټولې پاچاهۍ راکړې دي او زه يې
ټاکلی یم چې د یهودا په اورشلیم کې د هغه دپاره د عبادت
ځای جوړ کړم. اوس تاسو ټول چې د خدای د قوم څخه
يئ، کولای شئ چې خپل وطن ته ستانه شئ. ستاسو ښښتن
خدای دې ستاسو سره مل وي.›»

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © د ختیځ افغانستان ٢٠٢٣
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.